# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر



ډاکټر محمد عثمان نظامی

سپاره نمبر1

# نجم القرآن

پښتو ترجمه او تفسير

سپاره شمېره ١

ډاکتر محمد عثمان نظامي

# بسم الله الرحمن الرحيم

## سورة الفاتحه

الفاتحة مکي سورت دی،(۷)آیاتونه لري،د المدثر د سورت څخه وروسته نازل شوئ دی،په تلاوت کې اول او په نزول کې (۵) سورت دی،او(۱) رکوع لري.

## بسم الله الرحمن الرحيم

(شروع کوم)په نوم د الله چه ډېر زيات مهربان او پوره رحم کوونکئ دی.

په الرحمن کې د الله تعالی رحم عمومي دی،په مسلمانانو ، کافرانو او ټولو کائناتو باندي دی.او په الرحيم کې د الله تعالی رحم خصوصي دی،صرف د مؤمنانو دپاره دی.

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿2﴾

| |
|---|
| الْحَمْدُ ټولـه ثنا او صفتونه لِلَّهِ خاص الله تعالی لره دي رَبِّ چې پالونکئ الْعَالَمِينَ د ټولو عالمونو دی. ﴿2﴾ |

| |
|---|
| مثلاً د ملائکو بیل عالم دی د انسانانو بیل او د پیریانو بیل عالم دی.... |

الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿3﴾

| |
|---|
| الرَّحْمَٰنِ ډېر زيات مهربان دى الرَّحِيمِ پوره رحم کونکئ دى ﴿3﴾ |

مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴿4﴾

| |
|---|
| مَالِكِ واکدار يَوْمِ د ورځې الدِّينِ د بدلې دى ﴿4﴾ |

| |
|---|
| يَوْمِ الدِّينِ دا د قيامت د درې ديرش(۳۳) نومونو نه يو نوم دى. |
| او د بدلې ورځ ورته ځکه وائې چې که چا ښه کار کړئ وي د ښه کار بدل ورکول کيږي ،او که چا بد کار کړئ وي د بد کار بدل ورکول کيږي. |

.

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿5﴾

| |
|---|
| إِيَّاكَ نَعْبُدُ مونږ خاص ستا عبادت کوو وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ او خاص ستا نه کومک غواړو . ﴿5﴾ |

اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿6﴾

| |
|---|
| اهْدِنَا وښيه مونږ ته الصِّرَاطَ لاره الْمُسْتَقِيمَ سمه ﴿6﴾ |

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿7﴾

صِرَاطَ لاره الَّذِينَ د هغو كسانو أَنْعَمْتَ چې:انعام كړئ تا عَلَيْهِمْ په
هغوى باندې(چې نبيين،صديقين،شهداء او صالحين دي) غَيْرِ
نه«لاره د هغو بدو كسانو» الْمَغْضُوبِ چې: غضب شوئ دی
عَلَيْهِمْ په هغوى باندې(لكه يهودان) وَلَا او نه«لاره د هغو بدو
كسانو» الضَّالِّينَ چې:گمراهان دي (٠لكه نصارى يعنى
كريسشن). ﴿7﴾

ډاكټر محمد عثمان

نظامى

# سورة البقره

د البقره سورة مدني دی،پرته د ۲۸۱ آیت نه چې د حجةالوداع په کال په منَی کې نازل شوئ دی،۲۸۶ آیاتونه او ۴۰ رکوع لري،د المطففین د سورت نه وروسته نازل شوئ دی.په تلاوت کې ۲ او په نزول کې ۸۷ سورت دی.

## بسم الله الرحمن الرحیم

الم ﴿1﴾

| |
|---|
| الم ﴿1﴾ دغو حروفو ته مقطعات وایې،د دې په معنی الله تعالی پوهیږي. |

ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ ۛ فِيهِ ۛ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ ﴿2﴾

| |
|---|
| ذَٰلِكَ الْكِتَابُ دا کتاب لَا نشته دی رَيْبَ هیڅ شک ۛ فِيهِ په دې کې (چې د الله تعالی د لوري نازل شوئ دی) |

| |
|---|
| یعنی په دې خبره کې هیڅ شک نشته چې قرآنکریم د الله تعالی کلام او خبرې دي،او ټول مضامین ئې رښتیا دي.<br>پرته د قرآنکریم نه تر اوسه پورې په دنیا کې هیڅ چا هم داسې کتاب نه دی لیکلئ چه د کتاب اوله جمله ئې دا وي چې: ځما په دې کتاب کې هیڅ شک نشته دی، نه اوس په کې غلطي شته دی |

او نه به ئې په آينده کې په کې څوک پيدا کړي،بلکې تر اوسه پورې چه په دنيا کې څومره کتابونه ليکل شوي دي ،په هر کتاب کې يا مياشت يا کال او يا څو کلونه وروسته د نورو ليکوالانو يا د علماوو د خپلو شاګردانو پواسطه بې شماره غلطۍ پيداشوي دي،يعنی قطعاً په دنيا کې پرته د قرآنکريم څخه بل داسې کتاب نشته دی چې: د وخت په تيريدو سره په کې غلطي نه وي پيدا شوي.ليکن قرآنکريم يواځينۍ کتاب دی چې په شروع کې په کائناتو کې هر چاته اخطار او چلنج ورکوي،چې په دي الٰهي کتاب کې چې هرڅه دي ټول صحيح دي،دا کتاب د غلطۍ څخه بالکل پاک دی،او هيڅ شک او شبهه په کې نه شته دی او نه به د قيامت پورې په کې څوک غلطي پيدا کړي،د قرآنکريم نه منکرانو د پيغمبر عليه السلام د زمانې څخه تر اوسه پورې ډېر زيات کوششونه وکړل،دولتونه يې مصرف کړل تر څو چې د قرآنکريم دا چلنج مات کړي.مګر الحمدلله نه د قرآن دا چلنج چا مات کړئ دی او نه به ئې د قيامته پورې څوک مات کړي،چې دا ډېر لوی ثبوت دی چې قرآنکريم د الله تعالی کلام او کتاب دی.ځکه چې د بنده په کلام او کتاب کې يو څه نه يو څه غلطي وي او د وخت په تيريدو سره خو په کې حتماً تغيرات او غلطۍ پيدا کيږي.

هُدًى لار ښودونکی دی لِلْمُتَّقِينَ د پرهيزګارانو دپاره ﴿2﴾

الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ ﴿3﴾

پرهيزګاران څوک دي؟

اول:

الّذِينَ(پرهيزګاران) هغه څوک دي يُؤْمِنُونَ چې ايمان راوړي
بِالْغَيْبِ په غيبو وَيُقِيمُونَ او قائموي (ادا کوي) الصَّلَاةَ لمونځ وَمِمَّا
او ځينې د هغه شيانو نه رَزَقْنَا چې ورکړي دي مونږ. هُمْ دوی ته
يُنْفِقُونَ مصرفوي دوی(د الله تعالی د رضا دپاره) ﴿3﴾

مثلاً الله تعالی،جنت،دوزخ او ملائکې په سترګو نه ښکاري خو دوی پرې ايمان راوړي،چې دي ته په غيبو باندې ايمان وايې.مګر په آخرت باندي پرته د ليدلو يقين يا ايمان بالغيب د فطرت او عقل خلاف کوم شی نه دی.
بلکه جنت، دوزخ او حساب او کتاب د هر سليم الفطرت او سليم العقل انسان د فطرت غوښتنه او خواهيش دی.ليکن انسان يې په غلط ځای کې غواړي.مثلاً هر څوک غواړي چه ظالمانو،قاتلانو او بدمعاشانو ته دی پوره جزا ورکول شي او مظلومانو ته دي د هغوی حقوق او پوره انصاف ورکول شی،خو دا کار يا پوره جزا او پوره انصاف ورکول په دنيا يا د امتحان په ځای کې ناممکن دي،ځکه چه د دنيا په عدالتونو کې خو اکثره د مجرم په ځای مظلوم ته جزا ورکول کيږي،په دی معنی چه مجرم ازاد او سری سترګي ګرځی او مظلوم زندان ته ځي.٢-که مجرم مثلاً قاتل ګرفتار هم شي خو بيا هم د دنيا عدالتونه نه قاتل ته پوره جزا ورکولای شي او نه مظلوم ته پوره انصاف ورکولای شي،ځکه چه:فرضاً که يوشپيته کلن سړی يو شل کلن ځوان قتل کړي،او پوليس شپيته کلن قاتل ونيسی،نو د دنيا عدالت څه کولای شي،زيات نه زيات به د مرګ جزا ورکړي،حال دا چه شپيته کلن قاتل خو عمر خوړلی دی،بچي يې زلميان دي،چه په مرګ باندي يې کورنی ته څه خاص تاوان نه رسيږي،مګر د ٢٠ کلن ځوان خو ټول عمر پاتي ؤو،ښځه يې ځوانه کونده او بې سرپرسته

شوه،ماشومان يې يتمان شول،او ډيره مهمه خو دا ده چه عدالت خو سپين ګيرى شپيته کلن قاتل مړ يا بندي کړو،ليکن ۲۰کلن مقتول يا وژل شوى ځوان ته يې څه فايده او انصاف ورکړو؟ځوانى يې خاوري شوه،ښځه يې کونډه شوه،ماشومان يې يتمان شول په کوڅو کي به ګرځى او خيراتونه به غواړي.

۳-که يو بد معاش ۲۰ بي ګناه کسان مړه کړي،او پوليس يې ونيسي،آيا د دنيا عدالت به بدمعاش ته پوره جزا ورکړى؟هيڅ کله يې نشي ورکولاى.ځکه چه زيات نه زيات د مرګ جزا به ورکړي،دا خو نه پوره جزا شوه او نه پوره انصاف،ځکه چه بد معاش وژلي ۲۰کسان دي او جزا ورته د يو مړي ورکول شوه هغه نور ۱۹څنګه کيږي.

يعنى دا د هرچا د فطرت خواهيش دى چه داسي عدالت او حکومت دي وي چه د ظالمانو،قاتلانو او بدمعاشانو سره پوره پوره حساب وکړي او ظالمانو ته پوره جزا او مظلومانو ته پوره حق ورکول شي.او دا د هر سليم الفطرت او سليم العقل انسان د فطرت اواز او غوښتنه ده او فطرت صرف د حقيقي او ممکن شيانو غوښتنه کوي،مثلاً فطرت هيڅکله د دوه لاسونو په ځاى د څلورو لاسونو خواهيش او غوښتنه نه کوى.يعنى هميشه د هغي شي خواهيش کوي کوم چه ممکن او حقيقت وي.نو د فطرت دا خواهيش او غوښتنه هم بالکل حقيقت ده،همداسي عدالت او حکومت شته دى،خو د دنيا يا د امتحان د کوټي نه دباندي د دنيا په جوړه يعنى د آخرت په اوله ورځ د حشر په ميدان کې، دا د الله تعالى عدالت دى،د هر چا سره به زره زره حساب وشي،هر ظالم،بد معاش او سرکش ته به د خپل جرم مطابق بلکل پوره پوره جزا ورکول شي،او هر مظلوم ته به بلکل د هغه پوره حق ورکول شي،ځکه چه الله تعالى کولاى شي چه د هيټلر غوندي د شپيته لکو

انسانانو قاتل شپیته لکه کرته مړ او ژوندی کړي،هغه ج کولای شي چه شپیته لکه ځله یې په جهنم کې وسوځوی او هر ځل ورته نوی پوستکی ورواغوندي.او د ستالین غوندي د ۹۰لکو انسانانو قاتل ۹۰لکه کرته وسوزوي او هر ځل ورته نوی پوستکی ورواغوندي.
بله خبره دا ده چه هرڅوک غواړي یعنی د هر چا د فطرت خواهیش او غوښتنه ده چه:ښه کور،ښه ښځه،نیک اولادونه دي وي،دولت،عزت،بنګلي او ښه کاروبار او بیزنیس دي وي،همیشه دي خوشالي تندرستي او صحت وي،مرګ دي نه وي،زړښت او کمزوري دي نه وي،غمونه،تکلیفونه،غریبي او خفګان دي نه وي.سره د دي چه هرسړی ښه پوهیږي چه:هیڅ څوک هم نه داسي ژوند ته رسیدلای ،او نه څوک داسی ژوند لري،مګر بیا هم هر سړی سره د دي چه ښه یقین لري چه مړ کیږم،خو بیا هم شپه او ورځ د فطرت د دي خواهیش د لاس ته راوړلو دپاره نه ستړي کیدونکې کوششونه کوي چه بالآخره یوه ورځ انسان په همدي کوششونو کې وي چه مرګ ورته راشي سړی مړ شي او هر څه پاتي شي.مګر څنګه چه لړ مخکی ذکر شو چه د انسان فطرت هیڅ کله د ناممکن او غیري حقیقي شي یا کار خواهیش او تقاضأ نه کوي،صرف د هغي شي خواهیش او تقاضأ کوي چه حقیقت وي.چه په دي حقیقت مونږ صرف د قرآنکریم د معلومات څخه پوهیدلای شو،د قرآنکریم معلومات داسی دی چه:د انسان فطرت چه څه غواړي هغه بالکل حقیقت او صحیح دي،خو انسان یې په غلط ځای کي لټوي،د انسان د فطرت خواهیشات او غوښتني په جنت کې دي،او جنت د دنیا یا د امتحان د کوټی څخه دباندي د دنیا په جوړه یعنی په آخرت کې دی،چیرته چه همیشه ژوند.همیشه ځواني،خوشالي او صحت

دی،غمونه،تکليفونه،خفګان،غريبي،مريضي،کمزوري،زوړوالی او بالآخره مرګ نشته. نو بايد ووايو چه جنت ،حساب او کتاب او نيکانو ته انعام اومظلومانو ته د حق ورکول،او ظالمانو ته پوره جزا ورکول د انسانانو د فطرت خواهيش او تقاضأ ده.او فطرت صرف د حقيقت او حقيقي شيانو تقاضأ کوي.فلهذا آخرت يعنی حساب او کتاب،جنت او دوزخ يو حقيقت دی .د پرهيزګارانو دوهم صفت دا دی چې:دوی سم او په خپل وخت لمونځ کوي،يعنی د ماسپښين لمونځ په مازديګر کې نه کوي او د مازديګر په ماښام کې نه کوي،او سم يې کوي يعنی نه په کې ټونګې وهي او نه په کې غلا کوي.دريم صفت د پرهيزګارانو دا دی چې کوم مال او دولت چې الله تعالی ورکړئ دی،هغه ټول يواځې خپلو لمسيو ، کړوسيو او ميراث خورو ته نه ساتي بلکې يوه برخه يې د الله تعالی د رضا دپاره هم مصرفوي.

وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿4﴾

وَالَّذِينَ او(پرهيزګاران) هغه کسان دي يُؤْمِنُونَ چې ايمان راوړي بِمَا په هغه(قرآن) أُنْزِلَ چې نازل شوئ دی إِلَيْكَ تا ته(اې محمد صلی الله عليه وسلم ) وَمَا او په هغو(کتابونو) أُنزِلَ چې نازل شوي دي مِنْ قَبْلِكَ پخوا د ستا څخه(زبور،تورات،انجيل) وَبِالْآخِرَةِ او په آخرت سره هُمْ دوی يُوقِنُونَ يقين کوي ﴿4﴾

ځلورم صفت د پرهيزګارانو دا دی چې د الله تعالی په کتابونو يعنی زبور،تورات،انجيل او قرآن باندي ايمان راوړي.او پنځم صفت يې په آخرت باندې ايمان راوړل دي.لکه قيامت،حساب او کتاب،جنت او دوزخ.

أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِنْ رَبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿5﴾

أُولَٰئِكَ دغه خلک عَلَىٰ هُدًى په هدايت باندې دي(په سمه لار دي) مِنْ رَبِّهِمْ ۖ د طرفه د رب خپل نه وَأُولَٰئِكَ او دغه خلک هُمُ همدوی الْمُفْلِحُونَ کامياب دي ﴿5﴾

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنْذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿6﴾

إِنَّ الَّذِينَ بيشکه هغه خلک چه کافران شوي دي كَفَرُوا سَوَاءٌ برابره ده عَلَيْهِمْ په دوی باندې(دوی ته يو شان ده) أَأَنْذَرْتَهُمْ که ته ووېروې دوی أَمْ يا لَمْ تُنْذِرْهُمْ ونه وېروې ته دوی لَا يُؤْمِنُونَ دوی ايمان نه راوړې ﴿6﴾

خَتَمَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ ۖ وَعَلَىٰ أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿7﴾

خَتَمَ مُهر لږولی اللَّهُ الله تعالی عَلَىٰ په قُلُوبِهِمْ زړونو د هغوی وَعَلَىٰ او په سَمْعِهِمْ ۖ غوږونو د هغوی وَعَلَىٰ او په أَبْصَارِهِمْ

سترګو د هغوی غِشَاوَةٌ ۖ یوه پرده ده وَلَهُمْ او د هغوی دپاره
عَذَابٌ عذاب دی عَظِيمٌ ډیر لوی.

د الله تعالی د حکمونو نه انکار او نه منل کفر دی،کله چه بنده د
الله تعالی د حکم خلاف کار یعنی عمل وکړي نو کفر او ګناه یې
وکړه،چه د دي ګناه په سبب په زړه کې یو تور داغ
جوړيږي،مګر که توبه وباسي نو بیرته لري کیږي.خو که توبه
ونه ویستل شي نو دا تور داغ پخپله نه لرې کیږې او پاتي
کیږي،نو که بنده بیا دوباره ګناه وکړي،د مخکې په شان بیا په زړه
کې بل تور داغ جوړیږي چه بیا هم د توبې په واسطه د منځه ځي
خو که توبه ونه ویستل شي دا تور داغ هم پاتې کیږي،او زړه ورو
ورو سختیږي،او که کفر او ګناه کول همداسي دوام وکړي او توبه
ونه ویستل شي ،بالآخره یو وخت راځي چې ټول زړه تک تور او
دومره سخت شي،چې نور نو د هدایت رڼا دننه نه
ورننوځي،نصیحت او دعوت وربانديې اثر نه کوي ،یعنی کله چې
د بنده زړه دې مرحلې ته ورسیږي، نو که داسې کس ته دعوت
ورکول شي او که ورنه کول شي،هغه نور ایمان نه راوړي.د زړه
دا سخت او کلک حالت په قرآن شریف کې په لسو(۱۰) لقبونو
سره یاد شوئ دی چې د دغو لسو لقبونو څخه یو لقب
ختم(مهر)دی چې:د دوامداره کفر او ګناه کولو په سبب په زړه
لړول کیږې ،یعنی د دوامداره ګناه کولو او کفر په سبب د بنده په
زړه مُهر لړول کیږي،نه دا چې بنده څکه کفر او ګناه کوي چې د
هغه په زړه مُهر لړیدلئ دی.لکه چې په همدې موضوع باندې په
بل ځای کې فرمائي: بَلْ طَبَعَ اللَّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ (سورةالنساء آیت
۵۵)ترجمه:بلکې مهر لګولئ دی الله تعالی په(زړونو)د دوی باندي
په سبب د کفر د دوی. ﴿7﴾

وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ ﴿8﴾

| |
|---|
| وَمِنَ او(ځيني)د النَّاسِ خلکو نه مَن هغه څوک دي يَقُولُ چې وايي دوی آمَنَّا ايمان راوړئ دی مونږ بِاللَّهِ په الله تعالی وَبِالْيَوْمِ او په ورځ الْآخِرِ د آخرت وَ حال دا چه(په حقيقت کې) مَا هُم نه دي دوی بِمُؤْمِنِينَ مؤمنان ﴿8﴾ |

يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿9﴾

| |
|---|
| يُخَادِعُونَ تګي کوي دوی(په خپل ګمان) اللَّهَ د الله تعالی سره وَالَّذِينَ او د هغو کسانو سره آمَنُوا چه ايمان يې راوړئ دی وَ حال دا دی (چه په حقيقت کې) مَا يَخْدَعُونَ نه کوي تګي دوی إِلَّا مګر أَنْفُسَهُمْ د خپلو ځانونو سره(تګي کوي) وَمَا يَشْعُرُونَ او دوی نه پوهيږي(چه ضرر ئې همدوی ته رسيږي) ﴿9﴾ |

«او منافقان د خپل ځان په ضرر او نقصان ځکه نه پوهيږي چه»

فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ فَزَادَهُمُ اللَّهُ مَرَضًا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ ﴿10﴾

| |
|---|
| فِي قُلُوبِهِمْ په زړونو د دوی کې مَرَضٌ مرض(د منافقت او نفاق)دی فَزَادَهُمُ نو زيات کړو هغوی ته اللَّهُ الله تعالی مَرَضًا ۖ مرض . |

منافقانو ته الله تعالی سمدستي عذاب نه ورکوي،مهلت ورکوي،چه د وخت په تیریدو سره د یو کم تجربه او وړوکي منافق څخه یو تجربه کار او مکمل منافق جوړیږي،او د نفاق او منافقت مرض ئې نور هم زیاتیږي.

وَلَهُمْ او د دوی دپاره عَذَابٌ عذاب دی أَلِيمٌ دردوونکئ بِمَا په سبب د دي كَانُوا يَكْذِبُونَ چه دوی به دروغ ویل.(چه په درواغو به ئي د ایمان دعوه کوله) ﴿10﴾

یعنی دوی د مسلمانانو د غولولو دپاره ځانونو مؤمنان او نیکان معرفي کوي په ژبه وايي چه په الله تعالی او د آخرت په ورځ باور او یقین لرو مګر په زړه کې نه یقین کوي او نه باور .پیغمبر علیه السلام فرمائې:د منافق دري نښي دي،په چا کې چه دا ټولي نښي وي خالص منافق دی،او په چا کې چه ئې یوه نښه وي په هغه کې د منافق یوه نښه ده،که څه هم روژه نیسي،لمونځ کوي،او د ځان په باره کې ئې ګمان دا وي چې مؤمن دی:

اوله نښه-چې خبرې کوي دروغ وايي.

دوهمه نښه-چې وعده وکړي په شا کیږي(وعده خلافي کوي).

دریمه نښه-چې امین ونیول شي او خلک پرې اعتماد او باور وکړي خیانت کوي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ﴿11﴾

وَإِذَا او کله چې قِيلَ وویل شي لَهُمْ دوی ته لَا تُفْسِدُوا چې فساد مه کوئ فِي الْأَرْضِ په ځمکه کې قَالُوا وايي دوی إِنَّمَا

بیشکه همدا خبره ده چې نَحْنُ مونږ مُصْلِحُونَ اصلاح کوونکي یو. ﴿11﴾

دا د منافق بله نښه ده چې د صلح او اصلاح په نوم په ځمکه کې فساد خوروي.

أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِنْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿12﴾

أَلَا خبردار اوسئ إِنَّهُمْ بیشکه دوی هُمُ همدوی الْمُفْسِدُونَ فساد کوونکي دي وَلَٰكِنْ او لیکن لَا يَشْعُرُونَ دوی نه پوهیږي. ﴿12﴾

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوا أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ ۗ أَلَا
إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ وَلَٰكِنْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿13﴾

وَإِذَا او کله چې قِيلَ وویل شي لَهُمْ دوی ته(منافقانو ته) آمِنُوا چې ایمان راوړئ كَمَا لکه څنګه چې آمَنَ ایمان راوړئ دی النَّاسُ (نورو) خلکو قَالُوا وایي دوی أَنُؤْمِنُ آیا ایمان راوړو مونږ كَمَا لکه څنګه چې آمَنَ ایمان راوړئ دی السُّفَهَاءُ ۗ ناپوهانو؟ أَلَا خبردار اوسئ إِنَّهُمْ بیشکه دوی هُمُ همدوی السُّفَهَاءُ ناپوهان دي وَلَٰكِنْ او لیکن لَا يَعْلَمُونَ دوی نه پوهیږي(په ناپوهی خپلې) ﴿13﴾

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا إِلَىٰ شَيَاطِينِهِمْ قَالُوا إِنَّا مَعَكُمْ
إِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِئُونَ ﴿14﴾

وَإِذَا او کله چې لَقُوا ملاقات وکړي دوی(منافقان) الّذِينَ د هغو خلکو سره آمَنُوا چې ایمان يې راوړئ دی قَالُوا وايې دوی آمَنَّا ایمان مو راوړئ دی وَإِذَا او کله چې خَلَوْا يوازي (څانته)شي إِلَىٰ شَيَاطِينِهِمْ دشیطانانو(مشرانو) خپلو سره قَالُوا (نو بیا) وايې دوی إِنَّا بیشکه مونږ مَعَكُمْ ستاسو سره يو إِنَّمَا بیشکه همدا خبره ده نَحْنُ (چې) مونږ مُسْتَهْزِئُونَ مسخرې کوونکي يو(د مؤمنانو پورې) ﴿14﴾

اللَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿15﴾

اللَّهُ الله تعالی يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ جزا د مسخرو ورکوي هغوی ته وَيَمُدُّهُمْ او مهلت ورکوي هغوی ته فِي طُغْيَانِهِمْ په سرکشۍ د هغوی کې يَعْمَهُونَ په داسې حال کې چې دوی حیران دي(په خپل کار کې) ﴿15﴾

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ فَمَا رَبِحَتْ تِجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿16﴾

أُولَٰئِكَ دغه(منافقان) الّذِينَ اشْتَرَوُا هغه خلک دي چا چې اخستې ده الضَّلَالَةَ ګمراهي بِالْهُدَىٰ د هدایت په بدل کې فَمَا نو ونه کړه رَبِحَتْ ګټه تِجَارَتُهُمْ تجارت د دوی وَمَا كَانُوا او نه ؤ دوی مُهْتَدِينَ لاره موندونکي(حق ته) ﴿16﴾

مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهُ ذَهَبَ اللَّهُ بِنُورِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لَا يُبْصِرُونَ ﴿17﴾

| |
|---|
| مَثَلُهُمْ مثال د هغوى(منافقانو) كَمَثَلِ په شان د مثال الَّذِي د هغه چا دى اسْتَوْقَدَ چې بل ئې كړو نَارًا اور فَلَمَّا نو كله چې أَضَاءَتْ روښانه كړل دغه(اور) مَا حَوْلَهُ د هغه شا وخوا ځايونه ذَهَبَ (نو) واخستلو اللَّهُ الله تعالى بِنُورِهِمْ نور(رڼا) د هغوى وَتَرَكَهُمْ او هغوى ئې پرېښودل فِي ظُلُمَاتٍ په تيارو كې لَا يُبْصِرُونَ (داسې چې)هيڅ نه ويني. ﴿17﴾ |

| |
|---|
| هرې خواته د كفر تياره خوره وه،د خلكو نه لار وركه وه،پيغمبر عليه السلام د اسلام ډيوه بله كړه،كله چې شاوخوا رڼا او روښانه شوه،صحابه كرامو د دې رڼا نه ګټه واخسته،سمه لار يې پيدا كړه،او ايمان يې راوړو.مګر منافقان نفسي خواهيشاتو ړانده كړي ؤو،سمه لار يې پيدا نه كړه، او د پخوا غوندې د كفر په تيارو كې داسې سرګردان او حيران پاتې شول چې هيڅ نه ويني.بايد واضح شي چې د منافقانو څخه د بصيرت د نور د اخستلو او د دوى په تياره كې د پاتې كيدلو مسؤليت پخپله د منافقينو په غاړه دى،ځكه چې الله تعالى د هغه بنده څخه د بصيرت نور اخلې څوک يې چې پخپله نه غواړي،حق نه غواړي،د هدايت په ځاى ګمراهي خوښوي او د نفسي خواهشاتو او غوښتنو غلام او بنده وي. |

صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿18﴾

منافقان:

صُمٌّ كاڼه دي بُكْمٌ ګونګيان دي عُمْيٌ ړانده دي فَهُمْ نو دوى لَا يَرْجِعُونَ نه راګرځي(بيرته د ګمراهى نه) ﴿18﴾

يعنى د حق د اوريدلو دپاره كاڼه دي حق نه اوري.د حق د ويلو دپاره ګونګيان دي يعنى حق نه وايي.د حق د ليدلو دپاره ړانده دي يعنى حق نه ګوري.

أَوْ كَصَيِّبٍ مِنَ السَّمَاءِ فِيهِ ظُلُمَاتٌ وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ يَجْعَلُونَ أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ مِنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ ۚ وَاللَّهُ مُحِيطٌ بِالْكَافِرِينَ ﴿19﴾

بل مثال د منافقانو:

أَوْ يا كَصَيِّبٍ په شان د تيز باران دى مِنَ السَّمَاءِ د آسمان نه فِيهِ چې په هغې كې ظُلُمَاتٌ تيارې وَرَعْدٌ او ګړزارى وَبَرْقٌ او بريښنا وي (چې سخت په شيبو شيبو باران وي،په توره شپه كې توره وريځ ،د تندر اوازونه او بريښنا وي نو:) يَجْعَلُونَ ننباسي دوى أَصَابِعَهُمْ ګوتې د هغوى(خپلې ګوتې) فِي آذَانِهِمْ په غوږونو د هغوى كې(خپلو غوږونو كې په سبب د اواز:) مِنَ الصَّوَاعِقِ د تندرونو حَذَرَ الْمَوْتِ ۚ د ويرې د مرګ نه وَاللَّهُ او الله تعالى مُحِيطٌ احاطه كوونكۍ دى(د هرې خوا نه راايساروونكۍ دى) بِالْكَافِرِينَ كافرانو لره(په علم او قدرت خپل ﴿19﴾

يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَارَهُمْ ۖ كُلَّمَا أَضَاءَ لَهُم مَّشَوْا فِيهِ وَإِذَا أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوا ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿20﴾

| |
|---|
| يَكَادُ نژدې ده الْبَرْقُ چې برېښنا يَخْطَفُ يوسي أَبْصَارَ نظرونه هُمْ ۖ د هغوی كُلَّمَا هر كله چې أَضَاءَ رڼا شي لَهُمْ هغوی ته (نو) مَشَوْا روان شي هغوی فِيهِ په هغې(رڼا) كې وَإِذَا او هر كله چې أَظْلَمَ تياره شي عَلَيْهِمْ په هغوی باندې (نو) قَامُوا ۚ ودرېږي وَلَوْ او كه چيرته شَاءَ اللَّهُ غوښتلئ الله تعالی لَذَهَبَ خامخا به ئې ختم كړي ؤ(د منځ نه به ئې وړي ؤ) بِسَمْعِهِمْ اوريدل د هغوی وَأَبْصَارِهِمْ ۚ او نظرونه د هغوی إِنَّ اللَّهَ بيشكه الله تعالی عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ په هر شي باندې قَدِيرٌ قادر دی. ﴿20﴾ |

| |
|---|
| منافقان دوه قسمه دي.يو هغه دي چه د زړه نه سخت كافر او منكر وي،خو د كوم مطلب دپاره ئې ځان مسلمان كړئ وي.او د مطلب د لاس ته راوړلو دپاره په مسلمانانو كې ګرځې راګرځې.چې اول د اور د بلولو مثال د دې منافقينو په باره كې ؤو.يعنی چې د دوی د سخت اودوامدار كفر په سبب په دوی مهرونه لږيدلي، او كانه ،ګوګيان او ړانده د كفر په تيارو كې ګرځې. |
| دوهم-هغه منافقان دي چې:شكمن او ايمان يې ضعيفه وي،ځيني حقيقتونه مني هم،خو هغه شرعي احكام چې د دوی د ګټو او نفسي خواهشاتو سره ټكر كوي هغه نه منيې،دا دوهم د باران مثال د دې منافقانو په باره كې دی. |
| د بارن نه مطلب اسلام دی چې د انسانانو دپاره د رحمت په حيث راغئ،او د تيارو،ګړزاز او برېښنا څخه مراد تكليفونه او مشكلات |

| |
|---|
| دي لکه ځاني او مالي قرباني چې منافقان ترې داسې ځان ساتي لکه د تندر څخه ،فکر کوي چه یا به غریب شي او یا به مړ شي. (ژر دی چې برېښنا د دوی نظرونه یوسي) د دې مطلب دا دی: څرنګه چې د دوی ایمان ضعیف دی نو که کوم مشکل او تکلیف پرې د اسلام په سبب راشي نو دوی یې تحمل نشي کولای ډېر ژر به د اسلام صف پرېږدي او د کفر په صف کې به داخل شي،او په اول قسم منافقانو کې به شامیل شي،په زړونو او غوږونو به یې مهرونه ولږېږي،د بصیرت نور به ترې لاړ شي او ړانده او کاڼه به د کفر په تیارو کې لکه د اول قسم منافقانو پاتي شي.د دې مطلب:(چې کله رڼا شي دوی ته روانیږي او کله چې وربانديې تیاره شي ودريږي)د دې مطلب دا دی که چیرته په اسلامي ټولنه کې اساني او د دوی عزت او ګټه وي نو دوی د مسلمانانو په صفونو کې روان وي،خو کله چې مشکلات او تکلیفونه راشي ځاني او مالي قربانۍ ته ضرورت شي ،نور نو ودرېږي او د مسلمانانو سره نه وي. |
| او لکه څنګه چې الله تعالی د اول قسم منافقانو په زړونو او غوږونو مهر ولږولو او د بصیرت نور ئې ترې واخستلو او ړانده کاڼه د کفر په تیارو کې پاتي شول نو که الله تعالی اراده فرمایلي وه ،نو د دوی څخه به یې هم د اوریدلو قوت او د بصیرت نور اخستۍ ؤ،او مهر به ئې پرې لږولئ ؤ،مګر الله تعالی د دوی د ضعیف ایمان په سبب د دوی څخه دا حق نه اخلي،څومره چې د حق اوریدل غواړي،او څومره چه د حق لیدل غواړي،په هم هغې اندازه د حق د اوریدلو او لیدلو طاقت ورکوي. |

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿21﴾

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اى انسانانو اعْبُدُوا عبادت كوئ تاسو رَبَّكُمُ د رب
د ستاسو الَّذِي هغه (رب) خَلَقَكُمْ چې پيدا كړي ئې ياستئ تاسو
وَالَّذِينَ او هغه خلک مِنْ قَبْلِكُمْ چې د ستاسو نه مخكې ؤو لَعَلَّكُمْ
تَتَّقُونَ ښايي چې تاسو تقوا اختيار كړئ ﴿21﴾

اى انسانه كه ته فكر كوي چه ځما پيداكيدل عادي خبره ده ،خو داسې نه ده،ستا پيداكول دومره سخت دى چې پرته د الله تعالى څخه به دي څوک يوه ګوته هم جوړه نه كړي.الله تعالى خواره واره اتومونه سره يوځاى كړل او ستا د مور او پلار په وجود كې ئې ترې ستا نطفې جوړې كړې،بيا ئې نطفې سره يوځاى كړې او القاح شوى هګۍ يا زايګوټ ئې ترې جوړكړو،بيا ئې ستا القاح شوې هګۍ يا تخم لكه د غنم غوندې د مور په رحم كې وكرلو،د خوراک بندوبست ئې درته د مور د وينې څخه وكړو،راشين ئې كړې،او په څو مرحلو كې ئې د انسان شكل درته جوړ كړو،كله دې چه دنيا ته د راتلو وخت رانيزدې شو،نو اول ئې درته د خوراک بندوبست وكړو،د مور په وچو سينو كې ئې درته شيده پداكړه او بيا ئې دنيا ته راوليږې،او لكه څنګه ئې چه د مور په رحم كې ستا پالنه كوله همداسې ئې په دنيا كې هم كوي،د ماشومتوب نه تر اوسه پورې روزمره د مختلفو مرحلو نه تيرېږې،ټول اندامونه دې په مناسبه اندازه غټيږي،پښتورګې دې په ۲۴ ساعتو كې ۲۵ كرته ډياليز كوي خو ته خبر نه ئې،زړه دې ۱۰۰۰۰ ليتره وينه پمپ كوي خو ته خبر نه ئې،سږې،سترګې،غوږونه او دماغ دې كار كوي خو ته خبر نه ئې،او نه ځان خبروې چې دا هر څه څنګه كيږې؟خو كه ځان خبر كړې او كوشش وكړې نو پوه به شې چې دا د رب العلمين پالنه ده ،او كه په دې خبره كې فكر او غور وكړې چې ته څنګه پيداشوئ

يې او ځنګه ستا پالنه کيږي. لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ بنايي چې تاسو پرهيزګاران شئ.

الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ ۖ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿22﴾

الَّذِي هغه(رب) جَعَلَ چې جوړه کړي ئې ده لَكُمُ ستاسو دپاره الْأَرْضَ ځمکه فِرَاشًا فرش وَالسَّمَاءَ او آسمان بِنَاءً چت وَأَنْزَلَ او نازلې کړي ئې دي مِنَ السَّمَاءِ د آسمان نه مَاءً اوبه فَأَخْرَجَ بيا ئې راوويستلي(د ځمکې نه) بِهِ په هغې(اوبو)سره مِنَ الثَّمَرَاتِ د (هر قسم) ميوو نه رِزْقًا رزق لَكُمْ ۖ ستاسو دپاره فَلَا تَجْعَلُوا نو مه جوړوئ تاسو لِلَّهِ د الله تعالى سره أَنْدَادًا شريکان وَ حال دا چې(په حقيقت کې) أَنْتُمْ تاسو تَعْلَمُونَ پوهيږئ(چې دي شريکانو او بتانو نه تاسو پيدا کړي ياستئ او نه روزي درکوي) ﴿22﴾

الله تعالى ځمکه د انسانانو د طبعت او جسم مطابق فرش جوړه کړې ده،نه دومره يخه ده چه انسان يخ يا کنګل کړي،سره د دې چه په خارجې فضاء کې يخني منفي ۲۷۳- درجې ده.او نه دومره ګرمه ده چه انسان وسوځوي که څه هم د ځمکې په مرکز او د لمر په سطحه حرارت تقريباً ۶۰۰۰درجې سانتيګريډ دی،خو د مرکز د خوانه هم لړ لړ کميږي تر څو چه د ځمکې د پوستکې يا قشر پورې رارسيږي تقريباً ۲۲ درجې پاتې کيږي،همدارنګه د

| |
|---|
| لمر حرارت هم تر څو چې د ځمکې مخ يا قشر ته رارسيږي تقريباً ۲۲ درجې پاتې کيږي. |
| نه دومره کلکه ده لکه د اوسپنې پشان چې څوک په کې زراعت نشي کولای،کورونه نشي جوړولای او يا مړي په کې نشي خښولای،او نه دومره نرمه ده لکه د اوبو چې سړی پکې ډوب شي،که څه هم په زيات سرعت سره په حرکت کې ده خو بيا هم مونږ ئې د خوځيدو احساس نه کوو. |
| د ځمکې چت يا هوايې قشر يا اتموسفير د څو متره فولادي ديوال څخه هم ډير قوي دی،د خارجي فضاء نه ډيرې غټې تيږې چه د ځمکې خواته راځي ،سوځوي يې،او ځمکې ته يې نه راپريږدي،خطرناکې شعاګانې چې د خارجي فضاء څخه ځمکې ته راځي،بيرته ئې فضاء ته شړي،او کومو شعاګانو ته چې په ځمکه کې ضرورت وي نو د ضرورت په اندازه اول فلترکوي او بيا ئې ځمکې ته راليږي،د فضاء منفي ۲۷۰ درجې يخني ځمکې ته نه راپريږدي،د ځمکې د بحرونو اوبه چې د بخار په قسم د فضاء خواته ځې بيرته يې راګرځوي او د واورې،ږلۍ او باران په قسم ئې ځمکې ته راليږي،راديوي امواج چې د ځمکې څخه براډکاسټ کيږي بيرته ئې ځمکې ته منعکس کوي.ځکه خلک د ځمکې په لرې لرې ځايونو کې راډيوي او تلويزوني خپرونې ګوري. |

وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿23﴾

| |
|---|
| وَإِنْ او كه كُنْتُمْ ياستی تاسو فِي رَيْبٍ په شک کې مِمَّا د هغه قرآن په باره کې نَزَّلْنَا چې نازل کړئ دی مونږ عَلَىٰ عَبْدِنَا په |

بنده خپل باندې فَأْتُوا نو راوړئ(جوړ کړئ) بِسُورَةٍ یو سورت
مِنْ مِثْلِهِ د هغه غوندې(د قرآن د یو سورت په شان) وَادْعُوا او
راوغواړئ شُهَدَاءَكُمْ مددګاران خپل(د دې کار دپاره چې د
قرآنکریم په شان یو سورت جوړ کړئ) مِنْ دُونِ اللَّهِ پرته د الله
تعالی څخه إِنْ كُنْتُمْ که یاستئ تاسو صَادِقِينَ ریښتيني(په خپله
دعوه کې) ﴿23﴾

دا دقیامت پورې انسانانو ته د قرآنکریم چلینج دی،که د چا په زړه
کې د قرآنکریم په باره کې څه ښیرې او شک وي چې ګڼي دا د
انسان کلام دی،او محمد صلی الله علیه وسلم لیکلئ دی، نو دوی
خوهم انسانان دي، صرف د قرآن د یو سورت په شان دې یو
سورت جوړ کړي چې د قرآن د سورت مقابله وکړي،او د
قرآنکریم دا چلینج یوازې د مکې د مشرکانو او د هغې وخت د
خلکو دپاره نه ؤو،بلکې د قیامت پورې د ټولو انسانانو دپاره
دی،منکرینو هم څه دمه نه ده کړې،بلکې د پیغمبر علیه سلام د
زمانې نه تر اوسه پورې یې نه ستړې کیدونکې کوششونه کړي او
کوي یې،بې حسابه دولتونه یې مصرف کړي او مصرفوي یې،تر
څو چې د قرآن دا چلینج مات کړي،مګر الحمدلله نه یې د پیغمبر
علیه سلام د زمانې څخه تر اوسه پورې مات کړئ دی او نه به
یې د قیامت پورې څوک مات کړي.د تعجب او حیرانتیا خبره
ده،چې څوک دا وایې چې قرآنکریم نعوذبالله نبي علیه سلام لیکلئ
دی،او د بنده خبرې دي، نو ولې دا فکر نه کوي چې:علم،هنر او
ادب خو اوس په ۲۲ پیړۍ کې د ۱۴۰۰ کلونو مخکې علم،هنر او
ادب په نسبت ډېر مخکې او ترقي کړې ده،څکه چې ۱۴۰۰ کلونه
پخوا نه مکتب ؤ،نه مدرسه او نه پوهنتون،نو په داسې شرایطو او
حالاتو کې دې نبي علیه سلام چې لیک او لوست ئې هم نه ؤو

کړئ،هغه صلي الله علیه وسلم دې داسې کتاب ولیکي چې نه په هغې وخت کې د فصاحت او بلاغت په ساحه کی نه د سیاست،نه د تاریخ،نه قانون او نه د ساینس په ساحو کې ئې چا مقابیله کړي ده،او نه په دې ۱۴۰۰ کلونو کې چا کړي ده او نه ئې د اوس وخت ادیبان،سیاست مداران،تاریخ پوهان،قانون پوهان او ساینسدانان مقابله کولای شي او نه به ئې د قیامت پورې څوک وکړي،که دا ټول ادیبان،سایسدانان،فیلسوفان او د مختلفو مسلکونو علماء یوځای شي،په شریکه به هم د قرآن په شان کتاب جوړ نه کړي،حتی چې د قرآن د یو وړوکي سورت په شان سورت به هم جوړ نه کړي،او دا څه ټوقي نه دي،د قرآن نه منکرانو خصوصاً یهودانو ډېر زیات کوششونه کړیدي،او اوس یې هم کوي،دولتونه مصرفوي ،چې د قرآن دا چلینج مات کړي او نعوذبالله قرآن غلط ثابت کړي،مګر نه چا دا کار کړئ دی او نه به یې د قیامت پورې څوک وکړي.نو دا څنګه عقل او انصاف دی چې هغه کار چې د ۲۲ پیړۍ د پي ایچ ډي او دوکتورا والا ادیبان،ساینسدانان،فیلسوفان،سیاست مداران او د مختلفو مسلکونو علماء په ګډه نشي کولای ،نو د دي کافرانو عقلونه دا څنګه مني چې هغه کار دې محمد صلی الله علیه وسلم ۱۴۰۰ کلونه پخوا کړئ وي په داسې حال کې چې خط ئې هم د چا سره نه ؤو کړئ،خو د دي کافرآنو د دې بې منطقه خبرې مطلب چې قرآنکریم نعوذبالله نبي علیه سلام لیکلئ دی،نو د دې مطلب دا کیږي چې:نبي علیه سلام د ۲۲ پیړۍ د انسانانو او په خاص ډول د مختلفو مسلکونو د ټولو علماوو څخه ډېر زیات پوهیدو یعنی په ادبیاتو هغه(صلی الله علیه وسلم) د اوسنیو او ټولو انسانانو څخه ښه پوهیدو،په کیمیا هغه پوهیدو،په فزیک هغه پوهیدو،د کائناتو دلویدلو،دلمر،سپوږمۍ او ځمکې د حرکتونو څخه هغه

خبرؤو،بلک هول او بیګ بینګ هغه صلی الله علیه وسلم ته معلوم
ؤ، په بیالوژي هغه پوهیدو،نطفي یعنی سپرم ، اوم او د مور په
رحم کې د ماشوم جوړول هغه ته معلوم ؤ،په سیاست ،تاریخ
،قانون او فلسفه هغه صلی الله علیه وسلم پوهیدو او بیا ئې د دې
ټولو علومو پواسطه قرآنکریم لیکلئ دی. نو د دې ټولو منکرانو نه
هیله ده چې:لکه څنګه چې د کائناتو د نورو شیانو په باره کې
تحقیقات کوئ یو کرت خو په دې باره کې هم د تعصب نه پاک
تحقیق وکړئ چې:محمد صلی الله علیه وسلم دا دومره علوم چیرته
او په کوم پوهنتون کې زده کړي ؤ،څکه چې دا ستاسو د آینده
مسئله ده،او که هر ملحد ساینسدان یا هر منکر دا تحقیق وکړي
چې د محمد صلی الله علیه وسلم د علم د حاصلولو منبع معلومه او
پیدا کړي ان شاءالله چې نیغ به خپل خالق ته ورسیږي. او ځینې
کافران بیا وایي چې نبي علیه سلام خو ډېر پوه او د دنیا ذهین
انسان ؤو،نو د دې حضراتو څخه پوښتنه دا ده چې ته هغه
مبارک(صلی الله علیه وسلم) د دنیا د ټولو انسانانو څخه پوه او
ذهین انسان منې،او دا هم منې چه د هغه(صلی الله علیه
وسلم)خبرې د کاڼي کرښې دي څوک یې ماتولئ نشي او نه څوک
د هغه د خبرو په شان جوړولای شي، نو بیا د دې پوه او ذهین
انسان خبره ولې نه منې ،هغه (صلی الله علیه وسلم خو فرمایي
چې:قرآن څما خبرې نه دي دا څما کلام نه دی ،زه د الله بنده او
رسول یم،زه د الله تعالی نبي یم،قرآنکریم د الله تعالی کلام او پاکې
خبرې دي او په ما باندې الله تعالی نازل کړئ دی،او باید وو ایو
چې قرآنکرم د نبي علیه سلام د قیامت پورې تل پاتي معجزه ده

فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۖ
أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿24﴾

فَإِنْ نو که لَمْ تَفْعَلُوا ونه کړئ شو تاسو(دا کار چې يو سورت د قرآنکريم غوندې جوړ کړئ) وَلَنْ تَفْعَلُوا او هيڅکله به يې جوړ نه کړئ فَاتَّقُوا نو وويريږئ النَّارَ د اور نه الَّتِي هغه(اور) وَقُودُهَا چې خس د هغې(اور) النَّاسُ انسانان وَالْحِجَارَةُ ۖ او تيږې دي أُعِدَّتْ تيار شوئ دغه(اور) لِلْكَافِرِينَ د کافرانو دپاره. ﴿24﴾

وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِزْقًا ۙ قَالُوا هَٰذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ ۖ وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا ۖ وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ ۖ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿25﴾

وَبَشِّرِ الَّذِينَ او زيرى ورکړه هغو خلکو ته آمَنُوا چې هغوى ايمان راوړئ دى وَعَمِلُوا او عمل کړئ دى هغوى الصَّالِحَاتِ نيک أَنَّ چې بيشکه لَهُمْ د هغوى دپاره جَنَّاتٍ جنتونه دي تَجْرِي ( چې ) بهيږي مِنْ تَحْتِهَا د هغوى لاندې الْأَنْهَارُ ۖ ولې كُلَّمَا هرکله رُزِقُوا چې ورکول کيږي هغوى ته(جنتيانو ته) مِنْهَا د هغوى (جنتونو ) مِنْ ثَمَرَةٍ د (څه) ميوو نه رِزْقًا ۙ د خوراک دپاره قَالُوا وايي (به) هغوى(جنتيان) هَٰذَا(چې) دا(ميوه) الَّذِي هغه (ميوه ده) رُزِقْنَا چې راکول شوي وه مونږ ته مِنْ قَبْلُ ۖ د دې نه مخکې وَ حال دا چې(په حقيقت کې) أُتُوا بِهِ ورکول کيږي دوى ته هغه(ميوې) مُتَشَابِهًا ۖ مشابه(هم رنګه او هم شکله به وي خو خوند او مزه کې به هره ميوه د مخکينۍ ميوې څخه ډيره زياته خوندوره وي) وَلَهُمْ او د دوى دپاره (د جنتيانو دپاره) فِيهَا په دغو (جنتونو)کې أَزْوَاجٌ جوړې دي مُطَهَّرَةٌ ۖ پاکې وَهُمْ فِيهَا او دوى به وي په دغو(جنتونو)کې خَالِدُونَ هميشه. ﴿25﴾

د سړي دپاره ښځه جوړه ده ،او د ښځي دپاره خاوند جوړه ده،نو که په دنيا کې يو سړی نيک وي او ښځه ئې بده وي،نو په جنت کې به ئې د دې بدې ښځې سره رشته ختمه شي او نيکه ښځه به ورکول شي،او که په دنيا کې ښځه نيکه وي او خاوند ئې بد او خراب وي نو په جنت کې به ئې د دې بد سړي سره رشته ختمه شي،او ډېر نيک خاوند به ئې د ژوند شريک شي،او که چيرته په دنيا کې ښځه او خاوند دواړه نيکان وي نو هلته به ئې همدا رشته او همدا جوړه د هميشه دپاره وي.يعنی هر جنتي سړی ته به هم داسې جوړه ورکول کيږي چې د ظاهري او باطني چټلۍ څخه به پاک وي او د هرې جنتي ښځې به هم داسې خاوند د ژوند ملګری کيږي چې د ظاهري او باطني چټلۍ نه به پاک وي.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي أَنْ يَضْرِبَ مَثَلًا مَا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ ا لْحَقُّ مِنْ رَبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا وَيَهْدِي بِهِ كَثِيرًا ۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِ إِلَّا الْفَاسِقِينَ ﴿26﴾

| |
|---|
| إِنَّ اللَّهَ بيشکه الله تعالی لَا يَسْتَحْيِي شرم نه کوي(د دې خبرې نه) أَنْ يَضْرِبَ چې بيان کړي مَثَلًا يو مثال مَا بَعُوضَةً د يو ماشي فَمَا فَوْقَهَا ۚ او يا د مياشي نه د زيات کوچني شي |

فَأَمَّاالَّذِينَ نو هغه څوک چي: هغوی آمَنُوا مؤمنان دی فَيَعْلَمُونَ نو دوی پوهیږي أَنَّهُ چي بیشکه دغه(مثال) الْحَقُّ حق دی مِنْ رَبِّهِمْ ۖ د جانبه د رب د دوی وَأَمَّاالَّذِينَ او هغه څوک چي: هغوی كَفَرُوا كافران دي فَيَقُولُونَ نو هغوی وایي مَاذَا أَرَادَ څه آراده کړي ده اللَّهُ الله تعالی بِهَٰذَا مَثَلًا ۘ په دي مثال سره يُضِلُّ ګمراه کوي(الله) بِهِ په دي (مثال) سره كَثِيرًا ډیر(خلک) وَيَهْدِي او هدایت کوي(الله) بِهِ په دي(مثال) سره كَثِيرًا ۚ ډیر(خلک) وَمَا يُضِلُّ او(الله) نه ګمراه کوي بِهِ په دي (مثال)سره إِلَّا مګر الْفَاسِقِينَ فاسقان.﴿26﴾

بَعُوضَةً مونث یا ښځینه نوم دی یعنی قرآنکریم صرف د ماشي د مونث یا ښځینه جنس ذکر کړئ دی،یا په بل عبارت قرآن ۱۴۰۰ کلونه مخکي فرمایي چي:کوم ماشی چي چیچل کوي او وینه څکي هغه ښځینه یا مونث ماشي دي.حال دا چي ساینس د مایکرسکوپ د کشف نه وروسته د عصري یا ماډرن تیکنالوژي پواسطه په دي خبره پوه شو چي یوازي مونث یا ښځینه ماشی انسانان او نور حیوانات چیچي،وینه یي څکي او تقریباً په کال کي د یو میلیون انسانانو د مرګ سبب کیږي.

بله خبره دا ده چي په شلمه پیړی کي ساینسي تحقیقاتو ښودلي ده چي یوه وړه حشره چه پرته د مایکرسکوپ څخه په سترګو نه ښکاري د میاشي دپاسه ژوند کوي.مګر قرآنکریم ۱۴۰۰ کلونه مخکي ورته اشاره کوي.فرمایي چي: إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي أَنْ يَضْرِبَ مَثَلًا مَا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ۚ ترجمه:(بیشکه الله تعالی له دي شرم نه کوي چي د میاشي او یا د هغي دپاسه د( یو کوچني شي) مثال راوړي) . نو د هغو منکرانو او ملحد ساینسدانانو په عقلونو څه شوي دي چي په قرآن کي شک کوي،نو بیا خو دي د دي سوال

جواب پیدا کړي چې ۱۴۰۰ کلونه مخکې پیغمبر علیه السلام په قرآنکریم کې دا معلومات د کوم ځای څخه لیکلئ دی په داسي حال کې چه نه ئې لیکل او لوستل کړي ؤو او نه مایکرسکوپ او اوسنی عصري ټیکنالوجي وه.؟جواب صرف همدا دی چې قرآنکریم د الله تعالی کلام او سوچه پاکي خبرې دي.

الَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿27﴾

الّذِينَ ( فاسقان)هغه(خلک) دي يَنْقُضُونَ چې ماتوي هغوی عَهْدَ اللَّهِ عهد د الله تعالی مِنْ بَعْدِ ورروسته د مِيثَاقِهِ محکموالي د هغه (عهد) وَيَقْطَعُونَ او غوڅوي هغوي مَا هغه څه أَمَرَ اللَّهُ چې امر کړئ دی الله تعالی بِهِ په هغه سره أَنْ يُوصَلَ چې پیوند دې شي وَيُفْسِدُونَ او فساد کوي دوی فِي الْأَرْضِ ۚ په ځمکه کې أُولَٰئِكَ دغه (خلک یعنی دغه فاسقان) هُمُ الْخَاسِرُونَ همدوی تاوانیان دي ﴿27﴾

د ملک پاچا چې خلکو ته کوم فرمان یا حکم جاري کوي،دې ته هم عهد وايي،په دې مبارک آیت کې عهد په همدې معنی راغلئ دی، کله چې الله تعالی په عالم ارواح کې د ادم علیه سلام د شاه نه د قیامت پورې ټول انسانان پیدا کړل،ټولو ته ئې عقل او جسمونه ورکړل،بیا ئې ورته خطاب وفرمایلو،بیا یې ورته د ایمان راوړلو او د کفر نه د بچ کیدلو حکم وفرمایلو،ټولو د الله تعالی په ربوبیت باندې اقرار وکړو،چې همدا د دوی ایمان راوړل ؤو،او اوس خلک

په دنیا کې د همدې فطرت سره پیدا کیږي.او په« مِنْ بَعْدِ مِيثَاقِهِ (وروسته د محکموالي د هغه عهد)» په دې کې اشاره دې سوال ته ده چې الله تعالی ټول انسانان په خپلو ځانونو باندې پخپله شاهدان کړل او د ټولو نه یې پوښتنه وکړه چې:«الست بربکم(آیا زه ستاسو رب نه یم) قالوا (هغوی وویل یعنی ځومره انسانان چې د قیامت پورې دنیا ته راځي ټولو اقرار وکړو) بلی (ولې نه ته زمونږ رب یې) شهدنا (مونږ شاهدې ورکوو(چې ته زمونږ رب یې)»

«وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ»(او قطع کوي هغه څه چې الله تعالی امر کړئ دی په هغه سره چې پیوند دې شي)، ټول الهی اوامر په دې کې شامیل دي مثلاً:د نبي علیه سلام او مؤمنانو سره مینه او محبت کول،د خپلوانو سره رشتې او صله رحمي،په ټولو پیغمبرانو او آسماني کتابونو باندې ایمان راوړل،د قرآنکریم د ټولو آیتونو منل،الله تعالی ته په عبادت کولو ځان ورنیزدې کول او داسې نور.

كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنْتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ۖ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿28﴾

| |
|---|
| كَيْفَ څنګه تَكْفُرُونَ تاسو ا نکار کوئ بِاللَّهِ د الله تعالی نه وَ حال دا چې كُنْتُمْ وئ تاسو أَمْوَاتًا مړه فَأَحْيَاكُمْ ۖ نو هغه(جل جلاله) ژوندې کړئ تاسو ثُمَّ يُمِيتُكُمْ بیا به هغه(جل جلاله) مړه کړي تاسو ثُمَّ يُحْيِيكُمْ بیا به هغه جل جلاله(دوباره)ژوندي کړي تاسو ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ بیا به خاص هغه(جل جلاله)ته تاسو وروستل کیږئ . ﴿28﴾ |

هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ
سَبْعَ سَمَاوَاتٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿29﴾

هُوَ هغه جل جلاله الَّذِي هغه ذات دی خَلَقَ چې پیدا کړي یې دي لَكُمْ ستاسو دپاره مَا هغه شیان فِي الْأَرْضِ چې په ځمکه کې دي جَمِيعًا ټول ثُمَّ اسْتَوَىٰ بیا ئې توجه وفرمایله( اراده ئې وفرمایله) إِلَى السَّمَاءِ آسمان ته (د آسمانونو د جوړولو) فَسَوَّاهُنَّ نو برابر ئې کړل(جوړ ئې کړل) سَبْعَ اوه(٧) سَمَاوَاتٍ ۚ آسمانونه وَهُوَ او هغه(جل جلاله) بِكُلِّ شَيْءٍ په هر شي عَلِيمٌ پوه دی. (29)

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا
مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ قَالَ إِنِّي
أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿30﴾

وَإِذْ او کله چې قَالَ وفرمایل رَبُّكَ رب ستا لِلْمَلَائِكَةِ ملائکو ته إِنِّي بیشکه زه جَاعِلٌ پیداکوونکئ یم فِي الْأَرْضِ په ځمکه کې خَلِيفَةً ۖ د یو خلیفه قَالُوا هغوی وویلي أَتَجْعَلُ آیا ته پیداکوي کې (په ځمکه کې) مَنْ (هغه)څوک يُفْسِدُ چې فِيهَا په هغې فساد به کوي فِيهَا په هغې(ځمکه)کې وَيَسْفِكُ او تویوي به الدِّمَاءَویني وَ حال دا چې نَحْنُ مونږ نُسَبِّحُ تسبیح وایو بِحَمْدِكَ ستا د حمد سره وَنُقَدِّسُ لَكَ ۖ او ستا پاکوالئ بیانوو قَالَ هغه(جل جلاله)وفرمایل إِنِّي بیشکه زه أَعْلَمُ پوهیږم مَا په هغه څه لَا تَعْلَمُونَ چې نه پوهیږئ تاسو. ﴿30﴾

د ملائکو مطلب اعتراض کول نه ؤو بلکه په دي حقیقت او
حکمت یي پوهیدل غوښتل که د انسان د پیداکیدلو مقصد عبادت
کول وي نو مونږ خو هر وخت د الله تعالی عبادت کوو او د فساد
کولو خطر هم په مونږ کي نشته او نه د الله تعالی نافرماني
کوو(یعنی د عبادت دپاره خو مونږ موجود یو)،خو اکثره انسانان
په عوض د دي چه د الله تعالی عبادت وکړي،برعکس د الله تعالی
نافرماني او په ځمکه کي فساد کوي.

وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى الْمَلَائِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُونِي بِأَسْمَاءِ
هَؤُلَاءِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿31﴾

وَعَلَّمَ او(الله تعالی) وروښودل آَدَمَ آدم علیه السلام ته الْأَسْمَاءَ
نومونه كُلَّهَا د ټولو شیانو ثُمَّ بیا ئي عَرَضَهُمْ وړاندي کړل
دغه(نومونه) عَلَى الْمَلَائِكَةِ ملائکو ته فَقَالَ نو وفرمایل هغه جل
جلاله أَنْبِئُونِي ماته ووایئ بِأَسْمَاءِ نومونه هَؤُلَاءِ د دي شیانو
إِنْ که كُنْتُمْ یئ تاسو صَادِقِينَ رښتیني. ﴿31﴾

قَالُوا سُبْحَانَكَ لَا عِلْمَ لَنَا إِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ﴿32﴾

قَالُوا هغوی وویل(ملائکو وویل) سُبْحَانَكَ ته پاک یي لَا عِلْمَ لَنَا
مونږ ته هیڅ علم نشته إِلَّا مَا پرته د هغه(علم) نه عَلَّمْتَنَا ۖ چي تا
مونږ ته راښودلئ دی إِنَّكَ بیشکه ته أَنْتَ همدا ته الْعَلِيمُ ښه
عالم الْحَكِيمُ ښه حکیم(حکمت والا) یي. ﴿32﴾

قَالَ يَا آدَمُ أَنْبِئْهُمْ بِأَسْمَائِهِمْ ۖ فَلَمَّا أَنْبَأَهُمْ بِأَسْمَائِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنِّي
أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿33﴾

قَالَ ( الله تعالی وفرمايل يَا آدَمُ آی آدم (عليه السلام) أَنْبِئْهُمْ وښيه دوی ته(ملائکو ته) بِأَسْمَائِهِمْ ۖ نومونه د دي (شيانو) فَلَمَّا نو کله چې أَنْبَأَهُمْ هغه(آدم عليه السلام) ورروښودل هغوی ته(ملائکو ته) بِأَسْمَائِهِمْ نومونه د هغې(شيانو) قَالَ (الله تعالی)وفرمايل أَلَمْ أَقُلْ آيا ما نه ؤو ويلي لَكُمْ تاسو ته إِنِّي بيشکه زه أَعْلَمُ پوهيږم غَيْبَ په پټو(شيانو) السَّمَاوَاتِ د آسمانونو وَالْأَرْضِ او د ځمکې وَأَعْلَمُ او پوهيږم زه مَا په هغه څه تُبْدُونَ چې تاسو يې ښکاره کوئ وَمَا او په هغه څه كُنْتُمْ چې تاسو يې تَكْتُمُونَ پټوئ (په زړونو کې) ﴿33﴾

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ
مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿34﴾

وَإِذْ او کله چې قُلْنَا وويل مونږ لِلْمَلَائِكَةِ ملائکو ته اسْجُدُوا چې سجده وکړئ لِآدَمَ آدم عليه السلام ته فَسَجَدُوا نو سجده وکړه دوی إِلَّا پرته د إِبْلِيسَ ابليس نه أَبَىٰ هغه انکار وکړ وَاسْتَكْبَرَ او تکبر ئې وکړ وَكَانَ او هغه ؤو مِنَ الْكَافِرِينَ د کافرانو نه. ﴿34﴾

وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا
تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿35﴾

وَقُلْنَا او وويل مونږ. يَا آدَمُ اى ادم عليه سلام اسْكُنْ اوسيږه أَنْتَ
ته وَزَوْجُكَ او ښځه ستا الْجَنَّةَ په جنت کې وَكُلَا او خورئ
تاسو مِنْهَا د هغه نه(يعنى د جنت د ميوو نه) رَغَدًا پريمانه
حَيْثُ هر چيرته چې(په جنت کې) شِئْتُمَا غواړئ تاسو وَلَا
تَقْرَبَا او مه نيزدې کيږئ تاسو هَٰذِهِ دغې الشَّجَرَةَ ونې ته(يوه
ونه ورته الله تعالى وښوده چې دې ونې ته مه ورنيزدې کيږئ او
که ورنيزدې شوئ يعنى خوراک مو ترې وکړو) فَتَكُونَا نو شئ
به تاسو مِنَ الظَّالِمِينَ د ظالمانو نه.﴿35﴾

فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ ۖ وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ
لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿36﴾

فَأَزَلَّهُمَا نو وخويول دوى الشَّيْطَانُ شيطان عَنْهَا د جنت نه
فَأَخْرَجَهُمَا او وئې ويستل دوى مِمَّا د هغه(عزت او راحت) نه
كَانَا چې ؤو دوى فِيهِ ۖ په هغې کې وَقُلْنَا او وويل مونږ.
اهْبِطُوا چې کوز شئ تاسو (د جنت نه ځمکې ته) بَعْضُكُمْ په
داسې حال کې چې ځينې ستاسو به لِبَعْضٍ د ځينو نوروسره
عَدُوٌّ ۖ دښمنان وي وَلَكُمْ او شته تاسو ته فِي الْأَرْضِ په ځمکه
کې مُسْتَقَرٌّ د اوسيدلو ځاى وَمَتَاعٌ او فايده إِلَىٰ حِينٍ د يو وخت
پورې(چې مرګ يا قيامت دى) ﴿36﴾

فَتَلَقَّىٰ آدَمُ مِنْ رَبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿37﴾

فَتَلَقَّىٰ بيا زده کړې آدَمُ آدم عليه السلام مِنْ رَبِّهِ د خپل رب نه
كَلِمَاتٍ څو کليمې فَتَابَ نو رجوع وکړه (الله تعالى په رحمت

سره) عَلَيْهِ ۚ په هغه باندې بېشكه هغه جل جلاله إِنَّهُ هُوَ همدى التَّوَّابُ ښه توبه قبلونكې دى الرَّحِيمُ ښه رحم كونكې دى. ﴿37﴾

| |
|---|
| يو خو ابليس ؤو،كله ئې چې د الله تعالى نافرماني وكړه يعنى آدم عليه السلام ته ئې سجده ونه كړه،په ځاى د دې چې پښيمانه شي،توبه اوباسي او د الله تعالى نه ښښنه وغواړي،برعكس د الله تعالى سره ئې دلايل او منطق شروع كړو،نو الله تعالى ورټلو او لعنتي شو. |
| بل آدم عليه السلام ؤو كله چې د الله تعالى نافرماني ترې وشوه او د جنت نه وويستل شو،سمدستي پښيمانه شو،په ژړا شو او الله تعالى ته په زاريو شو،نو الله تعالى په زړه كې ښوكلمات ورواچول چې د هغې په ويلو سره الله تعالى پرې رحم وكړ،د هغه توبه ئې قبوله كړه،د ځمكې خلافت او پيغمبري ئې وركړه. هغه كلمات دا دي! |

:قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿23﴾الاعراف

قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا ۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿38﴾

قُلْنَا وويل مونږ اهْبِطُوا كوز شئ تاسو مِنْهَا د دغه (جنت نه) جَمِيعًا ۖ ټول فَإِمَّا بيا چې هر هكله يَأْتِيَنَّكُمْ راشي تاسو ته مِنِّي ځما د طرف نه هُدًى هدايت فَمَنْ نو څوک چې تَبِعَ پيروي وكړي هُدَايَ د هدايت ځما فَلَا خَوْفٌ نو نه به وي ويره عَلَيْهِمْ په دوى باندې وَلَا هُمْ او نه به دوى يَحْزَنُونَ غمجن كيږي ﴿38﴾

وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ
﴿39﴾

| |
|---|
| وَالَّذِينَ او هغه خلک كَفَرُوا چه کافران شوي دي وَكَذَّبُوا او دروغ يې ګڼلي دي بِآيَاتِنَا آياتونه زمونږ أُولَٰئِكَ هم دغه خلک أَصْحَابُ النَّارِ ۖ دوزخيان دي هُمْ دوی به فِيهَا په دغه(دوزخ)کې خَالِدُونَ همېشه وي. ﴿39﴾ |

يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَوْفُوا بِعَهْدِي أُوفِ
بِعَهْدِكُمْ وَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ ﴿40﴾

| |
|---|
| يَا بَنِي اى اولادونو إِسْرَائِيلَ د يعقوب عليه السلام اذْكُرُوا ياد کړئ تاسو نِعْمَتِيَ نعمت ځما الَّتِي هغه (نعمت) أَنْعَمْتُ چې انعام کړئ دی ما عَلَيْكُمْ په تاسو باندي وَأَوْفُوا او پوره کړئ تاسو بِعَهْدِي ځما(سره کړي) وعده (چې پيروي او ايمان راوړل په محمد صلی الله عليه وسلم دي، تاسو په نبي عليه سلام ايمان راوړئ نو: ) أُوفِ پوره به کړم زه بِعَهْدِكُمْ ستاسو (سره کړي) وعده (چې د همېشه دپاره جنت ته داخليدل دي) وَإِيَّايَ او خاص ځما نه فَارْهَبُونِ ويرېږئ ﴿40﴾ |

| |
|---|
| اسرائيل د يعقوب عليه السلام لقب دی چې معنی ئې د الله تعالی بنده يعني عبدالله ده. |
| يعقوب عليه السلام د اسحاق عليه اسلام ځوی او د ابراهيم عليه السلام لمسی دی.اولادې ته ئې بني اسرائيل وايې،۴۰۰۰ پيغمبران |

او دري مشهور کتابونه زبور،تورات او انجيل په همدوی کې تير شوي دي. په تورات کې الله تعالی امرکړئ ؤو چې تاسو د تورات په احکامو ټينګ اوسئ! او په هر نبي عليه السلام چه دروئې ليږم ايمان راوړئ او ملګرتيا يې وکړئ،په خاص ډول په نبي عليه سلام باندې د ايمان راوړلو او د هغه صلی الله عليه وسلم د صفتونو او راتلو په باره کې ورته ويل شوي ؤ. بني اسرائيلو دا ټولې خبرې منلي وي مګر په خپلو وعدو ونه دريدل په رشوتونو باندې يې مسئلې بدلولي،حق به يې پټولو،او کله يې چه خپل رياست قائم کړ نو د انبياوو عليهم السلام د اطاعت څخه يې هم سرکشي شروع کړه،حتی د ځينو په وژلو يې هم لاس پورې کړو.د تورات په هر ځای کې چه د محمد صلی الله عليه وسلم صفتونه ؤو هغه يې بدل کړل.

وَآمِنُوا بِمَا أَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوا أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ ۖ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ ﴿41﴾

وَآمِنُوا او ايمان راوړئ تاسو بِمَا په هغه(قرآن) أَنْزَلْتُ چې نازل کړئ دی ما مُصَدِّقًا چه تصديق کوي لِمَا د هغه (کتاب) مَعَكُمْ چه ستاسو سره دی وَلَا تَكُونُوا او مه کيږئ تاسو أَوَّلَ لومړني(اولني) كَافِرٍ نه منونکي(منکر) بِهِ ۖ په دې( قرآنکريم)باندې وَلَا تَشْتَرُوا او مه اخلئ تاسو بِآيَاتِي ځما په آيتونو ثَمَنًا قيمت قَلِيلًا لږ وَإِيَّايَ او خاص ځما نه فَاتَّقُونِ وويريږئ تاسو. ﴿41﴾

| |
|---|
| په تورات کې ليکلي ؤو،هغه پيغمبر چه د تورات تصديق وکړي،هغه رښتينی دی،نو تاسو يې ومنئ. |
| دا حکم د قيامت پورې دی،چې:ای کتابيانو(يعنی يهود او نصاراو) په قرآن او نبي عليه السلام باندې ايمان راوړئ،ځکه چې دا هماغه پيغمبر دی چه ستاسو د تورات او انجيل تصديق کوي.او تاسو ښه پوهيږئ چې محمد صلی الله عليه وسلم په حقه پيغمبر دی،خو د دنيا د عزت او دولت دپاره خپلي دروغ او باطلي خبرې په تورات کې ليکئ او د الله تعالی د حق خبرو سره يې ګډوئ،تر څو چې حقيقت پټ کړئ، |
| وَلَا تَكُونُوا أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ:د ټولو نه لومړی تاسو د قرآن نه انکار مه کوئ،يعنی ستاسو نه چې وروسته څومره خلک د قيامت پورې ستاسو پيروي او کفر کوي،د هغوي ټولو ګناه او وبال به ستاسو په غاړه وي.،ځکه چې د دوی دپاره به لومړي خلک تاسو يئ چې کفر او انکار به مو کړئ وي،او هغوی به ستاسو پيروي کړې وي.<br>ۖ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا:يعنی د الله تعالی د آياتونو د بدلولو په مقابل کې د ټولې دنيا دولت هم لږ دی.نو د دنيا د عزت،دولت او شهرت دپاره بايد څوک د الله تعالی د آياتونو غلط تفسير ونه کړي.لکه په اوس زمانه کې چې ځيني خلک د قرآن د آياتونو غلط تفسير کوي،او د قرآن نه د داروين د نظريې يا تيورۍ ثابتول غواړي. |

وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿42﴾

| |
|---|
| وَلَا تَلْبِسُوا او مه ګډوئ تاسو الْحَقَّ حق(د الله تعالی حق خبرې) بِالْبَاطِلِ د باطل سره (د خپلو دروغو خبرو سره) وَتَكْتُمُوا |

او(مه) پټوئ الْحَقَّ حق(د محمد صلی الله علیه وسلم صفتونه په تورات کې) وَأَنْتُمْ حال دا چې تاسو تَعْلَمُونَ پوهیږئ(په دي چې حق د باطل سره ګډوئ او حق پټوئ ﴿42﴾

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴿43﴾

وَأَقِيمُوا او ادا کوئ تاسو الصَّلَاةَ لمونځ وَآتُوا او ورکوئ تاسو الزَّكَاةَ زکات وَارْكَعُوا او رکوع کوئ تاسو مَعَ سره د الرَّاكِعِينَ رکوع کوونکو(په جماعت سره) ﴿43﴾

أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ وَأَنْتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿44﴾

أَتَأْمُرُونَ آیا امر کووئ تاسو النَّاسَ خلکو ته بِالْبِرِّ په نیکۍ سره وَتَنْسَوْنَ او هیروئ تاسو أَنْفُسَكُمْ ځانونه خپل وَ حال دا چې أَنْتُمْ تاسو تَتْلُونَ لولئ الْكِتَابَ ۚ کتاب أَفَلَا تَعْقِلُونَ نو آیا تاسو عقل نه لرئ؟(آیا تاسو د عقل نه کار نه اخلئ،آیا تاسو عقل نه استعمالوئ)(44)

د یهودو بعضي علماء داسې وُو چې نورو خلکو ته به یې ویل چې اسلام ښه دین دی خو پخپله به نه مسلمانیدل،دوی داسې فکر کولو چې مونږ خو حقه خبره نه پټوو،او خلکو ته سمه خبره کوو،نو دي ته به څه ضرورت وي چې مونږ پخپله هم پرې عمل وکړو،ځکه څوک چې زمونږ د هدایت سره شرعي احکام اداء کوي د هغوی عملونه زمونږ دي.په دي مبارک آیت کې د دوی دا مفکوره رد شوي ده، مطلب دا چې واعظ باید پخپل وعظ او تبلیغ باندې پخپله هم عمل وکړي.

وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ۚ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ ﴿45﴾

| |
|---|
| وَاسْتَعِينُوا او كمک غواړئ تاسو بِالصَّبْرِ په صبر وَالصَّلَاةِ ۚ او لمانځه سره وَإِنَّهَا او بيشكه دغه(كار) لَكَبِيرَةٌ يقيناً سخت دى إِلَّا مګر(سخت نه دى) عَلَى الْخَاشِعِينَ په عاجزي كوونكو باندې. ﴿45﴾ |

| |
|---|
| د اهل كتابو يعنى د يهودو او نصاراوو ځيني عالمانو دحقيقت د معلوميدلو څخه وروسته هم د دنيا د عزت ، دولت او نفسي خواهيشاتو په سبب په نبي عليه السلام باندې ايمان نه راوړو،چې الله تعالى ئې په دې مبارک آيت کې علاج ورښودلئ دى چې په لمانځه او صبر سره د الله تعالى څخه كومک وغواړئ. |

هغه خلک چې صبر او لمونځ ورته سخت كار نه دى او عاجزي كوونكي دي:

| |
|---|
| الَّذِينَ هغه خلک دي يَظُنُّونَ چې يقين كوي دوى أَنَّهُمْ چې بيشكه دوى مُلَاقُو مخامخ كيدونكي دي رَبِّهِمْ د رب خپل سره(په آخرت كې) وَأَنَّهُمْ او(يقين كوي) چې بيشكه دوى إِلَيْهِ هم ده جل جلاله ته رَاجِعُونَ بيرته ورتلونكي دي ﴿46﴾ |

يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿47﴾

يَا بَنِي اى اولادې إِسْرَائِيلَ د يعقوب عليه السلام اذْكُرُوا ياد
كړئ تاسو نِعْمَتِيَ نعمت ځما الَّتِي هغه(نعمت) أَنْعَمْتُ چې
كړې دى ما عَلَيْكُمْ په تاسو باندې وَأَنِّي او دا چې فَضَّلْتُكُمْ
ما فضيلت دركړئ ؤو تاسو ته(نيكونو ستاسو ته) عَلَى الْعَالَمِينَ (د
خپلې زمانې) په عالمونو( انسانانو او پيريانو باندې) ﴿47﴾

وَاتَّقُوا يَوْمًا لَا تَجْزِي نَفْسٌ عَنْ نَفْسٍ شَيْئًا وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَلَا
يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿48﴾

وَاتَّقُوا او وويرېږئ تاسو يَوْمًا د هغې ورځې(د عذاب) نه لَا
تَجْزِي چې لرې كولاى به نشي نَفْسٌ هيڅ يو څوك عَنْ نَفْسٍ د
هيڅ يو چا څخه(د هيڅ ګنهګار څخه) شَيْئًا هيڅ شى(د الله د
عذاب نه) وَلَا يُقْبَلُ او نه به قبلېږي مِنْهَا د هغه نه(ګنهګار نه)
شَفَاعَةٌ شفاعت(د هيڅ چا) وَلَا يُؤْخَذُ او نه به اخستل كيږي
مِنْهَا د هغه نه(ګنهګار نه) عَدْلٌ فديه(مالي بدل) وَلَا هُمْ او نه به
د دوى سره(ګنهګارانو سره) يُنْصَرُونَ كومک كيږي(د عذاب په
دفع كولو او كمولو كې) ﴿48﴾

په دنيا کې که څوک په يو مصيبت کې ګيرشي نو په دې طريقو
چې يا د ضمانت يا د سفارش يا پيسو او يا د زور د لارې يې
خلک د راخلاصولو كوشش کوي،خو په آخرت کې چې ګير شي
بيا دا يوه طريقه هم هلته نشته دى.هيڅوک نه د چا سفارش كولاى
شي نه يې په پيسو او نه يې په زور خلاصولاى شي،لکه چې
يهوديان وايي چې زمونږ نيكونه پيغمبران دي او هغوى به زمونږ
سفارش کوي او جنت ته به مو بيايي،يا نصارا چې وايي عيسى

عليه سلام زمونږ د ګناهونو دپاره په دار شوی دی نو مونږ به جنت ته بيايې، يا بتانو والا فکر کوي چې بتان به مو جنت ته بيايې، او يا ځينو خلکو په يو او بل نوم د بعضي خلکو په لمنو کې ځانونه اچولي دي او فکر کوي چې دوی به يې جنت ته بوځي،دا صرف خپلو ځانونو ته دوکه ورکول دي،هلته صرف د مؤمنانو شفاعت کيږي هغه هم د الله تعالی په حکم او اجازه سره.او يا ځنې علماء خلکو ته وايې چې نبي عليه سلام مو شفاعت کوي او جنت ته مو بيايي او خلکو ته د ګناه په کولو جرأت ورکوي،نو د دې حضراتو ښخه هيله ده چې د قرآنکريم د الفرقان د سورت ۳۰ آيت هم خلکو ته تلاوت کړي. الله تعالی فرمايي: وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا الْقُرْآنَ مَهْجُورًا ﴿30﴾ او پيغمبر صلی الله عليه وسلم به ووايې:ای ځما ربه! ځما قوم دغه قرآن پريښئ ؤو.(نه يې ورته غوږ نيولو،او نه يې د هغه په قانون باندې عمل کولو،د قرآن نه به يې نورو کتابونو ته زيات اهميت ورکولو،په ټول قرآن کې به يې نه په يو آيت ځان پوه کولو او نه به يې غور او فکر په کې کولو، هر علم او هرې فلسفي ته به بينا چرګان ؤ مګر قرآن ته به ړانده چرګان ؤ،يعنی هر شی به يې ډير ژر زده کولای شو خو د قرآن يو ايت يې په کال کې هم نه زده کولو،نو پيغمبر عليه سلام خو به د قيامت په ورځ د هغو خلکو خلاف مقدمه داير کړي چا چې د قرآن خلاف اعمال کړي وي او عمل يې پرې نه وی کړئ).حديث شرف دی چې پيغمبر عليه سلام فرمايي چې د قيامت په ورځ به ځما ځنې امتيان په داسې حال کې ځما سره مخ شي چې:د غلا مالونه به پرې سواره وي،د چا به اوښ په ښټ سور وي،غړمبيږي به، په دي حال کې به ما ته راشي ،راته به ووايې چې يا رسول الله صلی الله عليه وسلم کومک راسره وکړه،زه به ورته ووايم چې ما دين پوره در

رسولئ ؤ،اوس زه ستا سره کومک نشم کولای،بل امتي به مي
راشي آس به يې په ښت سور وي راته به ووايې چه يا رسول الله
کومک راسره وکړه،زه به ورته ووايم چې ما دين پوره دررسولئ
ؤ،اوس درسره کومک نشم کولای،بل امتي به مې راشي ګډې او
وزې به يې په ښت سوري وي را ته به ووايې چې يا رسول الله
کومک راسره وکړه ،ورته به ووايم چې ما دين پوره دررسولئ
ؤ،اوس درسره کومک نشم کولای.اوس دې هر سړی په دې آيت
شريف او حديث شريف کې ښه فکر او غور وکړي او بيا دې په
دې طمعه په ګناه زړور ورځې چې ګڼي نبي عليه سلام به مې
شفاعت وکړي.بيشکه شفاعت کوي خو د هغه چا چې دشفاعت
ځای په کې وي يعنی په قرآن او د هغه صلی الله عليه وسلم په
سنتو يې عمل کړئ وي.

فرعون خوب وليدو، او نجوميانو د خوب تعبير داسې وکړو چې
په بني اسرئيلو کې داسې يو سړی پيداکيږي چې ستا دين او
شهنشاهي به د هغه د لاسه خراب شي.فرعون امر وکړ چې په
بني اسرائيلو کې چې د دې نه وروسته هر هلک پيداکيږي،هغه
دې ووژل شي،او جينکی (نجوني)دې د خدمت دپاره ژوندی و
ساتل شي.خو سره د دومره سخت امر او کلکې څارنې الله تعالی
موسی عليه السلام پيدا او ژوندی ئې وساته.

فرمايي:

وَإِذْ نَجَّيْنَاكُمْ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ
وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ ۚ وَفِي ذَٰلِكُمْ بَلَاءٌ مِنْ رَبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿49﴾

وَإِذْ او(یاد کړئ) هغه وخت نَجَّيْنَا چې نجات(خلاصی) درکړو
مونږ كُمْ تاسوته مِنْ آلِ د عملې (قوم) فِرْعَوْنَ د فرعون نه
يَسُومُونَكُمْ چې درکولو به هغوی تاسو ته سُوءَ سخت الْعَذَابِ
عذاب يُذَبِّحُونَ چې حلالول به یې أَبْنَاءَ ځامن كُمْ ستاسو
وَيَسْتَحْيُونَ او ژوندی به یې پرېښودې (د خدمت دپاره ) نِسَاءَ
ښځې (لورګانې) كُمْ ۚ ستاسو وَفِي ذَٰلِكُمْ او په دې کې بَلَاءٌ
امتحان ؤو مِنْ رَبِّكُمْ د طرفه د رب د ستاسو عَظِيمٌ ډېر لوی.
(49)

کله چې بنې اسرائیلو د فرعون د ظلم او ویرې څخه کورونه او
وطن پرېښودلو،داسې یو ځای ته ورسیدل چې مخې ته یې لوی
دریاب ؤو او شاته یې د فرعون لښکر ؤو،نو الله تعالی دریاب
څیرې کړو،لار په کې جوړه شوه، بنې اسرائیلو ته ئې خلاصی
او نجات ورکړو او د فرعون عمله ئې سره د فرعون ټول غرق
کړل.دا قصه وروسته په تفصیل سره راځې.فرمایې:

وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنْجَيْنَاكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ
﴿50﴾

وَإِذْ او( یاد کړئ)هغه وخت فَرَقْنَا چې څیرې کړ مونږ بِكُمُ
ستاسو دپاره الْبَحْرَ بحر فَأَنْجَيْنَاكُمْ نو نجات درکړو مونږ تاسو
ته وَأَغْرَقْنَا او غرق کړل مونږ آلَ عمله(قوم) فِرْعَوْنَ د
فرعون(سره د فرعون) وَأَنْتُمْ او تاسو تَنْظُرُونَ ورته کتل ﴿50﴾

کله چي الله تعالی د موسی علیه السلام سره د تورات د ورکولو څلويښت شپې وعده کيښوده،ورروسته د دي چي موسی علیه السلام د طور غر ته لاړو،بني اسرائيلو د خوسي عبادت شروع کړو.دا قصه هم ورروسته په تفصيل سره راځي.

فرمايي:

وَإِذْ وَاعَدْنَا مُوسَىٰ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَنْتُمْ ظَالِمُونَ ﴿51﴾

وَإِذْ او(ياد کړئ) هغه وخت وَاعَدْنَا چي وعده وکړه مونږ. مُوسَىٰ د موسی علیه السلام سره أَرْبَعِينَ څلويښت لَيْلَةً شپې ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ بيا ونيولو تاسو الْعِجْلَ خوسی [معبود (يعنی خوسي ته مو عبادت شروع کړو)] مِنْ بَعْدِهِ ورروسته د(تللو)د موسی علیه السلام(د طور غر ته) وَأَنْتُمْ او وئ تاسو ظَالِمُونَ ظالمان (په دي کار کي په خپلو ځانونو) ﴿51﴾

ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿52﴾

ثُمَّ بيا عَفَوْنَا معاف کړئ مونږ عَنْكُمْ تاسو مِنْ بَعْدِ ورروسته د ذَٰلِكَ دغه( خوسي ته د عبادت کولو نه) لَعَلَّكُمْ د دي دپاره چي تاسو تَشْكُرُونَ شُکر وباسئ. ﴿52﴾

وَإِذْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿53﴾

وَإِذْ او( ياد کړئ) هغه وخت آتَيْنَا چي ورکړو مونږ مُوسَى موسی علیه السلام ته الْكِتَابَ کتاب(تورات) وَالْفُرْقَانَ او

| |
|---|
| بیلونکی (د حق او باطل) لَعَلَّكُمْ د دې دپاره چې تاسو تَهْتَدُونَ سمه لار پیدا کړئ ﴿53﴾ |

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُوا إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ ۚ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿54﴾

| |
|---|
| وَإِذْ او(یاد کړئ) هغه وخت قَالَ (چې) وویل مُوسَىٰ موسی علیه السلام لِقَوْمِهِ خپل قوم ته يَا قَوْمِ ای ځما قومه! إِنَّكُمْ بیشکه تاسو ظَلَمْتُمْ ظلم وکړو تاسو أَنْفُسَكُمْ په ځانونو خپلو بِاتِّخَاذِكُمُ په سبب د نیولو ستاسو الْعِجْلَ د خوسی (د معبود په حیث) فَتُوبُوا پس توبه وباسئ إِلَىٰ بَارِئِكُمْ خالق خپل ته فَاقْتُلُوا نو ووژنئ أَنْفُسَكُمْ ځانونه خپل ذَٰلِكُمْ دا (ځان وژنه)ستاسو خَيْرٌ بهتره ده لَكُمْ ستاسو دپاره عِنْدَ په نزد بَارِئِكُمْ د خالق د ستاسو فَتَابَ بیا الله تعالی توبه قبوله کړه عَلَيْكُمْ ۚ ستاسو إِنَّهُ بیشکه الله تعالی هُوَ هم دغه(الله تعالی) التَّوَّابُ ښه توبه قبلوونکئ الرَّحِيمُ ښه مهربان دی.(په توبه کوونکو) ﴿54﴾ |

| |
|---|
| په دې خبره علماء متفق دي چې د ځان وژنې څخه پخپله د ځان وژل مطلب نه دې،بلکې معنی یې دا ده چې ستاسو ځینې کسان دې ځینې نور ووژني. |
| ځینې علماء وایي چې بني اسرائیل په دري برخو ویشل شوي ؤو. |
| ١-هغه ډله وه چې پخپله یې هم خوسي ته سجده نه کوله او نور خلک یې هم منع کول. |

| |
|---|
| ۲-هغه ډله وه چې پخپله يې خوسي ته سجده نه کوله خو نور خلک يې هم نه منع کول. |
| ۳-هغه ډله وه چې خوسي ته يې سجده کوله. نو په دې دريمه ډله چې خوسي ته يې سجده کوله امر وشو چې ټول دې ووژل شي.دوهمي ډلي يعنى هغوى چې پخپله يې خوسي ته سجده نه کوله خو نور يې هم د خوسي د عبادت کولو نه نه منع کول،نو دوى ته امر وشو چې تاسو هغوى ووژنئ يعنى هغه خلک ووژنئ چا چې د خوسي عبادت کړئ دى، چې ستاسو د چپ پاتي کيدلو توبه شي .والله اعلم |
| د دي نه معلوميږي چې په ځينو حالتو کې يوازي ګناه كوونكئ نه بلكې ګناه ليدونكئ به هم كفاره وركوي. |
| كله چې د دوى توبه قبليدل په دې شرط شو چې وسله به اخلئ او چا چې خوسي ته سجده کړي ده،مرتد او مشريک شوي دي،د هغوى په ضد به جهاد كوئ او وژني به يې. |

| |
|---|
| نو بني اسرائيلو د جهاد نه انكار وكړو،او موسى عليه السلام ته يې جواب وركړو،چې ستا دا خبره يوازي په هغه صورت كې مونږ منلئ شو چې الله تعالى مخامخ په ستركو وګورو او په غوږونو سره ئې خبرې واورو، او دا راته ثابته شي چې په رښتيا د جهاد دا حكم د الله تعالى دلوري دى.نو آسماني تندر پرې راوغورزيدو او مړه شول.دا د هغه وخت قصه ده چې كله مسى عليه سلام د بني اسرائيلو ۷۰ كسان د ځان سره كوه طور ته بيولي ؤ،نو كله چې دوى دا بي ادبه غوښتنه وكړه چې موږ د الله تعالى د ليدلو نه پرته ستا خبره نه منو،مونږ ته الله راوښيه نو آسماني تندر پرې راولويده او ټول مړه شول. |

نو فرمايي:

وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَىٰ لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ الصَّاعِقَةُ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ ﴿55﴾

| |
|---|
| وَإِذْ او( ياد كړئ)هغه وخت(كله)چې قُلْتُمْ وويل تاسو يَا مُوسَىٰ اى موسى عليه السلام لَنْ نُؤْمِنَ مونږ به هيڅكله ايمان رانوړو لَكَ په تا(ستا خبره به ونه منو) حَتَّىٰ تر څو چې نَرَى ونه ګورو مونږ اللَّهَ الله تعالى جَهْرَةً ښكاره فَأَخَذَتْكُمُ نو ونيولئ تاسو الصَّاعِقَةُ تندر وَ په داسې حال كې أَنْتُمْ چې تاسو تَنْظُرُونَ (ورته) كتل.(۵۵) |

ثُمَّ بَعَثْنَاكُمْ مِنْ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿56﴾

| |
|---|
| ثُمَّ بيا بَعَثْنَا راژوندي كړئ مونږ.(د موسى عليه سلام په دعا سره) كُمْ تاسو مِنْ بَعْدِ وروسته د مَوْتِكُمْ مرګ د ستاسو نه لَعَلَّكُمْ د دى دپاره چې تاسو تَشْكُرُونَ شُكر وباسئ ﴿56﴾ |

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَأَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَىٰ ۖ كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ ۖ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿57﴾

او ياد كړئ هغه وخت:

| |
|---|
| وَظَلَّلْنَا او سورى كړو مونږ عَلَيْكُمُ په تاسو باندې الْغَمَامَ وريځ وَأَنْزَلْنَا او نازل كړه مونږ عَلَيْكُمُ په تاسو باندې الْمَنَّ من (ډېر ښايسته او خوږه خواږه) وَالسَّلْوَىٰ ۖ او سلوى(مرزان يا د مړزانو غوندې مرغى) كُلُوا (او وويل مونږ چې) خورئ تاسو مِنْ طَيِّبَاتِ مَا د هغو پاكو شيانو څخه رَزَقْنَاكُمْ ۖ چې دركړي دي مونږ تاسوته وَمَا ظَلَمُونَا او ظلم ونه كړو دوى په |

مونږ وَلَٰكِنْ او ليکن كَانُوا أَنْفُسَهُمْ دوی په خپلو ځانونو باندې
يَظْلِمُونَ ظلم کولو. ﴿57﴾

فرعون سره د قوم غرق شو،بني اسرائل د درياب نه پوريوتل خو
هغې خواته د سينا دشته وه ډېره ګرمي وه، نه په کې اوبه وې،نه
په کې خوراکي مواد،دوی هم په داسې حال کې وو چې نه ورسره
خيمې وې او نه خواړه.نو الله تعالی په آسمان کې وريځې راوستلې
او په دوی يې سيوری جوړ کړو،د خوراک دپاره ئې (من) او
(سلوی) پرې نازل کړل،(من) ډېره ښايسته او خوږه غذا وه چې
سحر د وخته به لکه د واورې يا پرښې غونډې په ونو او بوټو
وريدله ،دوی به د خپل ضرورت په اندازه ترې راوړله،(سلوی)
هم مرزان او يا د مرزانو غونډې مرغۍ وې ډېرې خوږې غوښې
يې وې، سيلونه سيلونه به راتللې ،د دوی مخې ته به
کيناستلې،دوی به د خپل ضرورت په اندازه ترې رانيولې،حلالولې
به يې، او د( من) سره به يې خوړلې.او حکم دا وو چې:تاسو هم
دومره (من )او (سلوې) راوړئ چې ستاسو دپاره کفايت کوي
يعنی د ضرورت څخه به زيات نه راوړئ،او ذخيره کوئ به يې
نه.خو بني اسرائيلو په عوض د دې چې شُکر وباسي،برعکس
ناشُکرې او نافرماني يې وکړه،د الله تعالی د امر په خلاف يې
(من) او (سلوی) د ضرورت نه زيات راوړل،او ذخيره کول يې
شروع کړل،چه په نتيجه کې غوښې اوغذا ورسته شوه،بويونه يې
شروع کړل او دوی په مصيبت اخته شول.

اوس چې کومه واقعه بيانيږي دا واقعه د يوشع عليه سلام په وخت
کې پيښه شوې وه،ددې نه مخکې بني اسرائيلو د موسی عليه سلام

په وخت کې د جهاد څخه انکار کړئ ؤو،نو څلويښت کلونه د تيه په دشته کې بند پاتي شو،موسى عليه سلام او هارون عليه سلام وفات شو،نو د يوشع عليه سلام په وخت کې دوی جهاد وکړ او ملک يې فتح کړ،د ځنې علماوو رايه دا ده چې بيت المقدس ؤو. نو د الله تعالى د طرف نه ورته دا حکمونه وشول چې په دروازه کې سجده کوونکي ننوزئ يعنى چې کله ننوزئ په دروازه کې د شکر سجده وکړئ يا په عاجزی سره خپلي ملاکاني لږ کږې کړئ او سرونه ښکته کړئ ،او په خوله وايئ چې:حِطَّةٌ(يا الله مونږ وبښه)

وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُوا هَٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَقُولُوا حِطَّةٌ نَغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ ۚ وَسَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ ﴿58﴾

وَإِذْ او( ياد کړئ) هغه وخت قُلْنَا چې وويل مونږ(بني اسرائيلو ته) ادْخُلُوا چې ننوځئ! هَٰذِهِ الْقَرْيَةَ دغه کلي ته فَكُلُوا بيا خورئ مِنْهَا د (ميوو او حاصلاتو) د دغه(کلي) نه حَيْثُ هر چيرته شِئْتُمْ چې غواړئ تاسو رَغَدًا پريمانه وَادْخُلُوا او ننوځئ الْبَابَ (د کلي) په دروازه کې سُجَّدًا سجده کوونکي وَقُولُوا او وايئ تاسو حِطَّةٌ ای ربه مونږ وبښه نَغْفِرْ مونږ به وبښوو لَكُمْ تاسو ته خَطَايَاكُمْ ۚ ګناهونه ستاسو وَسَنَزِيدُ او زيات به کړو مونږ(ثواب) الْمُحْسِنِينَ نيکانو ته. ﴿58﴾

فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا رِجْزًا مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿59﴾

فَبَدَّلَ نو بدله کړه الَّذِينَ هغو کسانو ظَلَمُوا چې ظلم کړئ ؤو دوی(په ځانونو) قَوْلًا خبره غَيْرَ بل شان(په بل قسم) الَّذِي د

| |
|---|
| هغې( خبرې نه) قِيلَ چې ويل شوي وه لَهُمْ دوى ته.(يعنى د الله تعالى حکم داسې ؤ چې د کلي په دروازه کې د سجدې په حال کې کلي ته داخل شئ او په خوله حِطَّةٌ وايئ يعنى يا الله ببنښه راته وکړې،ليکن يهوديان چې کله د کلي دروازې ته ورسيدل نو کلي ته يې د ننوتلو په حال کې د الله تعالى خبره بيخي بدله کړه،د سجدې په ځاى په کوناټيو ښوئيدل او د حطة په ځاى يې حنطة ويل چې معنى يې غنم دي يعنى غنم غواړو.نو د الله تعالى عذاب پرې د طاعون د مرض په شکل راغئ او ٧٠٠٠٠ اويازره يهوديان په يو ماسپښين کې مړه شو. |
| |
| فَأَنْزَلْنَا نو نازل کړو مونږ عَلَى الَّذِينَ په هغو کسانو باندې ظَلَمُوا چې ظلم يې کړئ ؤو رِجْزًا عذاب مِنَ السَّمَاءِ د آسمان نه بِمَا په دې سبب كَانُوا يَفْسُقُونَ چې دوى (د الله تعالى د حکمونو نافرماني کوله. ﴿59﴾ |

وَإِذِ اسْتَسْقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِعَصَاكَ الْحَجَرَ ۖ فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَشْرَبَهُمْ ۖ كُلُوا وَاشْرَبُوا مِنْ رِزْقِ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿60﴾

| |
|---|
| وَإِذِ اسْتَسْقَىٰ او کله چې اوبه وغوښتلې مُوسَىٰ موسى عليه السلام لِقَوْمِهِ خپل قوم ته فَقُلْنَا نو وويل مونږ(موسى ع چې) اضْرِبْ ووهه بِعَصَاكَ په خپله امساء سره الْحَجَرَ ۖ تيږه. |
| (نو کله چې موسى عليه السلام تيږه په امساء ووهله) |
| فَانْفَجَرَتْ نو جاري شوې مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ د هغې نه دولس عَيْنًا ۖ چينې قَدْ يقيناً عَلِمَ وپيژندلو كُلُّ تولو أُنَاسٍ خلکو مَشْرَبَهُمْ ۖ د هغوى د اوبو څکلو ځاى. |

| الله تعالى وفرمايل! |
| --- |
| كُلُوا خورئ تاسو وَاشْرَبُوا او څکئ تاسو مِنْ د رِزْقِ اللَّهِ رزق د الله تعالى نه وَلَا تَعْثَوْا او د حده مه تیریږئ تاسو فِي الْأَرْضِ په ځمکه کې مُفْسِدِينَ چې فساد کوونکي اوسئ ﴿60﴾ |

وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَىٰ لَنْ نَصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَاحِدٍ فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا
مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ مِنْ بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ۖ قَالَ
أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَىٰ بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ ۚ اهْبِطُوا مِصْرًا فَإِنَّ لَكُمْ مَا
سَأَلْتُمْ ۗ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ ۗ ذَٰلِكَ
بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۗ ذَٰلِكَ بِمَا
عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴿61﴾

| |
| --- |
| وَإِذْ او كله چې: قُلْتُمْ وويل تاسو يَا مُوسَىٰ اى موسى عليه السلام لَنْ نَصْبِرَ مونږ به صبر و نه کړو عَلَىٰ په طَعَامٍ وَاحِدٍ يو ډول خوړو فَادْعُ نو وغواړه لَنَا مونږ ته رَبَّكَ د رب خپل نه يُخْرِجْ چې راوباسي لَنَا مونږ ته مِمَّا د هغو شيانو څخه تُنْبِتُ چې شنه کوي ئې الْأَرْضُ ځمکه مِنْ د بَقْلِهَا د سابو د هغې (ځمکې)نه وَقِثَّائِهَا او د بادرنګو د هغې نه (د ځمکې نه) وَفُومِهَا او د هوږي د هغې نه (د ځمکې نه) وَعَدَسِهَا او د غنمو(يا نخودو) د هغې نه وَبَصَلِهَا ۖ او د پيازو د هغې (ځمکې)نه قَالَ موسى عليه السلام (ورته) وويل چې أَتَسْتَبْدِلُونَ آيا تاسو بدلوئ(اخلئ) الَّذِي هغه شى هُوَ أَدْنَىٰ چې هغه ادنئ(معمولي) دى بِالَّذِي په هغه شي سره هُوَ خَيْرٌ ۚ چې هغه بهتر دى. |

| |
|---|
| یعنی (من) او (سلوی) چې د هره حیثه بهترین خوراک دی،په هوږه،پیازو او نورو یې ولې بدلوئ. |
| او که تاسو په همدې غوښتنه کلک ولاړ یئ نو: |
| اهْبِطُوا کوز شئ(لاړ شئ) مِصْرًا یو ښار ته فَإِنَّ نو یقیناً لَكُمْ تاسو ته(هلته شته دی) مَا هغه شیان سَأَلْتُمْ ۗ ( چې)تاسو یې غواړئ وَضُرِبَتْ او مسلط(مقرر) شو عَلَيْهِمُ په دوی باندې الذِّلَّةُ ذلت(خواري) وَالْمَسْكَنَةُ او محتاجي(عاجزي) وَبَاءُوا او اخته شو دوی بِغَضَبٍ په غضب سره مِنَ اللَّهِ ۗ د الله تعالی ذَٰلِكَ دا (د الله په غضب اخته کیدل،او خواري او عاجزي) بِأَنَّهُمْ په دې سبب سره ؤ چې بیشکه دوی كَانُوا يَكْفُرُونَ انکار کولو بِآيَاتِ اللَّهِ د الله تعالی د آیاتونو نه وَيَقْتُلُونَ او وژل یې النَّبِيِّينَ پیغمبران بِغَيْرِ الْحَقِّ ۗ په ناحقه سره ذَٰلِكَ دا (کفر او وژل) بِمَا په دې سبب ؤ عَصَوْا چې دوی نافرماني وکړه (د الله تعالی د احکامو ) وَكَانُوا يَعْتَدُونَ او دوی به د حدودو نه تیریدل ﴿61﴾ |

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصَارَىٰ وَالصَّابِئِينَ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿62﴾

بني اسرائیل مغرور ؤ چې مونږ خو د پیغمبرانو اولاد یو ،الله تعالی ته نږدې او ښه یو،خو داسې بالکل نه ده،بلکې که څوک د پیغمبر لمسی وي او که د کوم نیک او ولي لمسي وي په دې خبره دې ځان ته دوکه نه ورکوي،الله ته صرف هغه څوک نیږدې دی چه په الله او آخرت یې ایمان راوړئ وي او نیک اعمال کوي هغه که د کوم بزرګ ځوی وي او یا د کوم شرابي ځوی.

إِنَّ بیشکه الَّذِينَ هغه خلک آمَنُوا چې ایمان یې راوړئ دی وَالَّذِينَ او هغه خلک هَادُوا چې یهودیان شوی دي وَالنَّصَارَىٰ او نصارانیان وَالصَّابِئِينَ او بې دینان مَنْ آمَنَ چا چې ایمان راوړئ (د دوی ځینې) بِاللَّهِ په الله تعالی سره وَالْيَوْمِ او په ورځ الْآخِرِ د آخرت وَعَمِلَ او عمل ئې کړئ وي صَالِحًا نیک فَلَهُمْ نو د دوی دپاره أَجْرُهُمْ اجر د دوی عِنْدَ رَبِّهِمْ د رب د دوی سره دی وَلَا خَوْفٌ او نه ویره شته عَلَيْهِمْ په دوی باندې وَلَا هُمْ او نه دوی يَحْزَنُونَ غمژن کیږي. ﴿62﴾

| |
|---|
| د موسی علیه السلام امت ته یهود یا جهود وایي او د عیسی علیه السلام امت ته نصارا یا ترسا وایي،صابئین داسې یوه فرقه ده چې دوی په خپل ګمان ښه ښه شیان د هر دین څخه ځانته غوره کړي دي، دوی ابراهیم علیه السلام مني ،د ملائیکو عبادت کوي،زبور لولي،او د کعبې شریفې په لوري لمونځ کوي. |

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿63﴾

وَإِذْ اوکله چې أَخَذْنَا واخسته مونږ مِيثَاقَكُمْ پخه وعده ستاسو نه(ستاسو د نیکونو نه) وَرَفَعْنَا او پورته کړو مونږ فَوْقَكُمُ ستاسو د پاسه الطُّورَ د طورغر خُذُوا (او درته ومو فرمایل چې) ونیسئ مَا هغه (کتاب یعنی تورات) آتَيْنَا چې درکړې دی مونږ كُمْ تاسو ته بِقُوَّةٍ کلک وَاذْكُرُوا او یاد کړئ مَا

هغه (احکام) فِيهِ چې په دي کې دي لَعَلَّكُمْ د دي دپاره تَتَّقُونَ
چې تاسو پرهيزګاره شئ. ﴿63﴾

بني اسرائيلو د موسى عليه السلام دين د تورات د نزول څخه پخوا منلئ ؤ، څو څو کرته يې موسى عليه السلام ته ويلي ؤ چې مونږ ته يو آسماني کتاب راوړه چې په احکامو يې عمل وکړو،او په دي يې سره معاهده کړي وه نو کله چې تورات راغئ او ورته وسپارل شو نو دوى وعدي ماتولو ته ملاوي وتړلې،د شرارته يې ويلي چې د تورات حکم دروند دى او د دي تعميل زمونږ نه پوره نه دى،نو الله تعالى د طور غر ته امر وکړ چې پرې راتيت شه،غر پرې راتيټ شو،خوا او شا اورونه بل شو،او دوى ته هيڅ داسې موقع پاتي نه شوه چې د تورات د منلو څخه سرکشي وکړي،نو مجبوراً يې د هغه احکامو ته غاړه کيښوده.نو دلته په دوى باندي د غره راتيټيدل يا راځوړنديدل د دوى د وعده خلافى په سبب وشو نه د موسى عليه السلام د دين د نه منلو په سبب.

ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۖ فَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَكُنْتُمْ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿64﴾

ثُمَّ بيا تَوَلَّيْتُمْ تاسو وګرځيدلئ مِنْ بَعْدِ وروسته د ذَٰلِكَ ۖ دغې (وعدې نه) فَلَوْلَا نو که نه ؤ فَضْلُ اللَّهِ فضل د الله تعالى عَلَيْكُمْ په تاسو باندې وَرَحْمَتُهُ او رحم د هغه لَكُنْتُمْ خامخا به وئ تاسو مِنَ الْخَاسِرِينَ د تاوانيانو څخه. ﴿64﴾

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِينَ اعْتَدَوْا مِنْكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ ﴿65﴾

بني اسرائيلو به د ماهيانو ښکار کولو،په تورات کې حکم ؤ چې د شنبې ورځ د عبادت دپاره ده ،په دې ورځ به د ماهيانو ښکار نه کوئ،خو دوی د شنبې په ورځ هم په چل او مکر سره ښکار کولو داسې چې د سيند په غاړه يې ډنډونه جوړ کړي ؤ،د شنبې په ورځ به يې ماهيان په کې ايسارول او په سبا ورځ به يې رانيول يعنی د دوی په فکر چې نعوذبالله د الله تعالی سره يې چل کولو.نو الله تعالی فرمايي:

وَلَقَدْ او يقيناً عَلِمْتُمُ پيژندلي دي تاسو الَّذِينَ هغه کسان چې اعْتَدَوْا تجاوز يې کړئ ؤ مِنْكُمْ د ستاسو ځينې فِي السَّبْتِ د شنبې(په ورځ)کې فَقُلْنَا نو ووېل مونږ لَهُمْ دوی ته كُونُوا چې شئ تاسو قِرَدَةً شاديګانې(بيزوګانې) خَاسِئِينَ ذليلې(خوارې) او سپکې ﴿65﴾

نو چا چې دا جرم کړئ ؤ ټول شاديګان شو، عقلونو يې کار کولو ،يو بل ته به يې کتل،ژړل به يې، خو خبرې يې نه شوې کولای،درې ورځې ژوندي ؤ او پس د درې ورځو څخه مړه شو.

فَجَعَلْنَاهَا نَكَالًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِلْمُتَّقِينَ ﴿66﴾

فَجَعَلْنَا نو وګرځوله مونږ هَا دا (واقعه) نَكَالًا عبرت لِمَا د هغو(خلکو) دپاره بَيْنَ يَدَيْهَا چې هغې وخت (کې حاضر ) ؤ وَمَا او د هغو (خلکو دپاره ) خَلْفَهَا چې وروسته د دې( واقعې

ښخه د قيامت پورې راځې) وَمَوْعِظَةً او نصيحت لِلْمُتَّقِينَ د پرهيزګارانو دپاره ﴿66﴾

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً ۖ قَالُوا أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۖ قَالَ أَعُوذُ بِاللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ ﴿67﴾

په بني اسرائيلو کې د (عاميل) په نوم سړی چا وژلئ ؤ خو وژونکئ يا قاتل معلوم نه ؤ،يو به په بل وراړولو،خو بالآخره موسى عليه السلام ته لاړل،او ورته يې وويل چې ته الله تعالى ته ووايه چې د دې مړي قاتل مونږ ته وښائې،موسى عليه السلام ورته وويل چې الله تعالى فرمايي چې يوه غوا دې حلاله کړي،او د حلالې شوې غوا يوه ټوټه دې په مړي ووهي ،مړی به راژوندی شي او خپل قاتل به وښايي، نو دوی ورته وويل چې دا خو نه مونږ اوريدلي او نه مو ليدلي چې د حلالې شوې غوا د يوې ټوټې په وهلو مړی راژوندی شوئ وي،نو موسى عليه السلام ته يې وويل: آيا ته زمونږ سره ټوقې کوې؟نو په همدې باره کې قرآنکريم فرمايي:

وَإِذْ او کله چې قَالَ وويل مُوسَىٰ موسى عليه السلام لِقَوْمِهِ قوم خپل ته إِنَّ بيشکه اللَّهَ الله تعالى يَأْمُرُ امر کوي كُمْ تاسوته أَنْ چې تَذْبَحُوا حلاله کړئ تاسو بَقَرَةً ۖ يوه غوا قَالُوا وويل دوی أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۖ آيا ته زمونږ سره ټوقې کوې؟ قَالَ موسى عليه السلام وويل أَعُوذُ زه پناه غواړم بِاللَّهِ په الله تعالى سره أَنْ چې أَكُونَ زه شم مِنَ د الْجَاهِلِينَ جاهلانو نه. ﴿67﴾

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا هِيَ ۚ قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَا فَارِضٌ
وَلَا بِكْرٌ عَوَانٌ بَيْنَ ذَٰلِكَ ۖ فَافْعَلُوا مَا تُؤْمَرُونَ ﴿68﴾

نور يې نو د غوا په باره کې د موسى(ع) نه پوښتنې شروع کړې.

فرمايي:

| |
|---|
| قَالُوا وويل دوی(موسى عليه السلام ته) ادْعُ وغواړه لَنَا مونږ ته رَبَّكَ ستا د رب نه يُبَيِّنْ چې بيان کړي لَنَا مونږ ته مَا (چې) څنګه ده هِيَ ۚ هغه(غوا) قَالَ هغه(موسى عليه السلام) وويل إِنَّهُ بيشکه هغه(ج) يَقُولُ فرمائي إِنَّهَا بيشکه هغه بَقَرَةٌ يوه غوا ده لَا فَارِضٌ نه(ډيره) زړه ده وَلَا بِكْرٌ او نه(ډيره) ځوانه ده عَوَانٌ ميانه حاله ده بَيْنَ ذَٰلِكَ ۖ په منځ د دې (زړې او وړې) کې فَافْعَلُوا نو وکړئ تاسو مَا هغه څه تُؤْمَرُونَ چه امر درته کيږي ﴿68﴾ |

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا لَوْنُهَا ۚ قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ
فَاقِعٌ لَوْنُهَا تَسُرُّ النَّاظِرِينَ ﴿69﴾

| |
|---|
| قَالُوا وويل دوی (موسى عليه السلام ته) ادْعُ ته وغواړه لَنَا مونږ ته رَبَّكَ ستا د رب نه يُبَيِّنْ چې بيان کړي لَنَا مونږ ته مَا چې څنګه دی لَوْنُهَا ۚ رنګ د هغې(غوا) قَالَ هغه (موسى ع) وويل إِنَّهُ بيشکه هغه(ج) يَقُولُ هغه فرمايي إِنَّهَا بيشکه هغه بَقَرَةٌ يوه غوا ده صَفْرَاءُ زيړه فَاقِعٌ تک زير دی لَوْنُهَا رنګ د هغې تَسُرُّ خوشالوي (زړونه) النَّاظِرِينَ د ليدونکو. ﴿69﴾ |

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا هِيَ إِنَّ الْبَقَرَ تَشَابَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ
لَمُهْتَدُونَ ﴿70﴾

| |
|---|
| قَالُوا ( بيا) دوی وويل (موسى عليه السلام ته) ادْعُ ته وغواړه لَنَا مونږ ته رَبَّكَ ستا د رب نه يُبَيِّنْ چې بيان كړي لَنَا مونږ ته مَا چې څنګه ده هِيَ هغه (غوا) إِنَّ بيشكه الْبَقَرَ (چې دي) غوا تَشَابَهَ شبهه اچولې عَلَيْنَا په مونږ (مونږ خو دي غوا په شک كې اچولي يو) وَإِنَّا او بيشكه مونږ إِنْ كه شَاءَ وغواړي اللَّهُ الله تعالى لَمُهْتَدُونَ خامخا لار موندونكي يو. ﴿70﴾ |

قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَا ذَلُولٌ تُثِيرُ الْأَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ
لَا شِيَةَ فِيهَا ۚ قَالُوا الْآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ ۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ ﴿71﴾

| |
|---|
| قَالَ (موسى عليه السلام ) وويل إِنَّهُ بيشكه هغه(ج) يَقُولُ هغه (ج) فرمايي إِنَّهَا بيشكه هغه بَقَرَةٌ يوه غوا ده لَا ذَلُولٌ نه محنت كوونكې ده تُثِيرُ ( چې) قلبه كوي الْأَرْضَ ځمكه وَلَا او نه تَسْقِي اوبه كوي الْحَرْثَ فصل (په ارت سره) مُسَلَّمَةٌ روغه ده لَا شِيَةَ نشته داغ (د زير رنګ څخه پرته د بل رنګ ټكی) فِيهَا ۚ په هغې(غوا) كې قَالُوا دوی وويل موسى عليه السلام ته الْآنَ (چې) اوس جِئْتَ راوړه تا بِالْحَقِّ ۚ پوره خبره (روښانه خبره) فَذَبَحُوهَا نو حلاله كړه دوی هغه(غوا) وَمَا كَادُوا او نژدې نه ؤ دوی يَفْعَلُونَ چې (دا كار)وكړي. ( ﴿71﴾ |

د بني اسرائيلو په زړونو کې د خوسي د عبادت مینه لا پاتي وه او په زړه کې یې لکه د هندوانو په شان غواګانو ته احترام لرلو،فکر یې کولو چې د غوا په حلالولو باندې به ډیر لوی مصیبت او افت راشي،نو ځکه خو یې بهانې جوړولې او خبره یې ځنډوله،نو هغه غوا یې په داسې حال کې حلاله کړه چې نژدې ؤ چې حلاله یې نکړي ځکه چې زړه او نا زړه ؤ ،چې آیا دا کار وکړي او که نه؟

وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا ۖ وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿72﴾

وَإِذْ (او یاد کړئ) هغه وخت چې:او کله چې قَتَلْتُمْ مړ کړو تاسو(ستاسو نیکونو) نَفْسًا یو سړی فَادَّارَأْتُمْ نو په جګړه شوئ تاسو (نیکونه ستاسو) فِيهَا ۖ په هغه (مړي) کې(چې اصلي قاتل یې پټولو) وَاللَّهُ او الله تعالی مُخْرِجٌ ښکاره کوونکئ ؤ مَا د هغه شي كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ چې تاسو پټولو (نیکونو ستاسو اصلي قاتل پټولو)﴿72﴾

کله چې یو سړي بل سړی (عامیل) ووژلو،نو د قاتل قبیلې بل څوک په قتل تورن کړو،او د اصلي قاتل څخه یې دفاع وکړه،او نژدې ؤ چې د دوه قبیلو په منځ کې جګړه ونښلي.

فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا ۚ كَذَٰلِكَ يُحْيِي اللَّهُ الْمَوْتَىٰ وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿73﴾

فَقُلْنَا نو وویل مونږ اضْرِبُوهُ ووهئ تاسو هغه(مړی) بِبَعْضِهَا ۚ په څه حصې (په یوه بوټی) د هغې(حلالې شوي غوا، نو کله یې چې د غوښې بوټی پرې ووهله مړی راژوندی شو او قاتل ئې وښودلو) كَذَٰلِكَ همدارنګه يُحْيِي ژوندي کوي اللَّهُ

الله تعالى الْمَوْتَىٰ مړي وَيُرِيكُمْ او درښيي تاسو ته آيَاتِهِ
آياتونه خپل( نښې د قدرت خپلې) لَعَلَّكُمْ د دي دپاره چې تاسو
تَعْقِلُونَ غور وکړئ. ﴿73﴾

کله چې بني اسرائيلو د هغې غوا يوه ټوټه غوښه په مړي (مقتول) باندې ووهله،مړی د الله په حکم د څو شيبو دپاره راژوندی شو د زخمونو نه ئې وينې بهيدلې،د خپل وژونکي (قاتل) نوم ئې وروښودلو،چې خپل ورارہ د ميراث د مال په تمه وژلئ ؤ،نور بيرته ولويدو او مړ شو.په دې کې بني اسرائيلو ته دا درس ورکول شو ،لکه دوی چې عقيده لرله چې که غوا حلاله شي نو افت او مصيبت به راشي،نو دوی وليدل چې هيڅ ونه شو ،نه افت راغئ او نه مصيبت راغئ.

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُمْ مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَإِنَّ مِنَ
الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْأَنْهَارُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَاءُ ۚ
وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿74﴾

ثُمَّ بيا قَسَتْ سخت شول قُلُوبُكُمْ زړونه ستاسو مِنْ بَعْدِ وروسته د ذَٰلِكَ دغه (ژوندي کولو د مړي څخه) فَهِيَ نو دغه (زړونه) كَالْحِجَارَةِ د تيږو په شان دي أَوْ يا أَشَدُّ (د تيږو څخه) زيات قَسْوَةً ۚ سخت دي وَإِنَّ او بيشکه مِنَ الْحِجَارَةِ ځينې د تيږو څخه لَمَا يقيناً هغه دي يَتَفَجَّرُ چې بهيږي مِنْهُ د هغې څخه الْأَنْهَارُ ۚ ويالې (د اوبو) وَإِنَّ مِنْهَا او بيشکه ځينې د دوی نه (تيږو نه) لَمَا يقيناً هغه دي يَشَّقَّقُ

چې هغه چوي فَيَخْرُجُ نو راوځي مِنْهُ د هغې څخه الْمَاءُ ۚ
اوبه وَإِنَّ او بيشکه مِنْهَا ځينې د دوى څخه (تيږو څخه)
لَمَا يقيناً هغه دي يَهْبِطُ (چې) هغه رارغړي (د غره د سره)
مِنْ د خَشْيَةِ ويرې اللَّهِ ۗ د الله تعالى نه وَمَا او نه دى
اللَّهُ الله تعالى بِغَافِلٍ بې خبره عَمَّا د هغه (اعمالو نه)
تَعْمَلُونَ (چې) کوئ يې تاسو. ﴿74﴾

يعنى د دوى زړونه د دې درې ډوله تيږو څخه هم زيات کلک
دي، نه په کې کومه فايده شته، او نه په کې د خير کومه خبره
شته.

أَفَتَطْمَعُونَ أَنْ يُؤْمِنُوا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ
يُحَرِّفُونَهُ مِنْ بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿75﴾

أَفَتَطْمَعُونَ آيا نو تمه کوئ تاسو(اى مسلمانانو) أَنْ چې يُؤْمِنُوا
ايمان به راوړي دوى(يهوديان) لَكُمْ ستاسو په وينا ؟ وَقَدْ او
بيشکه چې كَانَ وه فَرِيقٌ يوه ډله مِنْهُمْ د دوى (دعلماو نه)
يَسْمَعُونَ چې اوريدلو به دوى كَلَامَ كلام(خبرې) اللَّهِ د الله
تعالى ثُمَّ بيا به يې يُحَرِّفُونَهُ بدلولو هغه(کلام د الله تعالى د
ظالمانو حاکمانو په ګټه د پيسو او دنياوي عزت دپاره،کله به يې د
رسول الله صلى الله عليه وسلم صفت بدلولو کله به يې د رجم او
نور آيتونه د منځه ويستل ) مِنْ بَعْدِ مَا وروسته د هغې نه
عَقَلُوهُ چې پوه به شول دوى په هغې(کلام يا خبرې) وَ حال دا
چې هُمْ يَعْلَمُونَ دوى به پوهيدل. (يعنى دوى د دې تحريف يا

د الله تعالى د خبرو د بدلولو په ګناه پوهیدل خو سره د پوهې به يې دا كار كولو) ﴿75﴾

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوا أَتُحَدِّثُونَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَاجُّوكُمْ بِهِ عِنْدَ رَبِّكُمْ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿76﴾

وَإِذَا او كله چي لَقُوا يوځاى شي دوى(د يهوديانو منافقان) الَّذِينَ د هغو (خلكو) سره آمَنُوا چې ايمان يې راوړئ دى قَالُوا وايې دوى آمَنَّا چې مونږ ايمان راوړئ دى(او د مؤمنانو د خوشالولو دپاره د تورات ځيني خبرې ورته كوي خصوصاً په تورات كې د نبي عليه سلام د ذكر په باره كې) وَإِذَا او كله چي خَلَا يوازې شي بَعْضُهُمْ ځيني د دوى إِلَىٰ بَعْضٍ د ځيني نورو سره قَالُوا وايې دوى أَتُحَدِّثُونَهُمْ (چې اى يهوديانو) آيا خبروئ تاسو دوى (مؤمنان) بِمَا په هغه شي فَتَحَ اللَّهُ چې پرانستلى دي الله تعالى عَلَيْكُمْ په تاسو باندې(يعنى هغه څه چې الله تعالى په تورات كې تاسو ته د محمد صلى الله عليه وسلم په باره كې ښودلي دي)

لِيُحَاجُّو د دې دپاره چې جګړه وكړي دوى(مؤمنان) كُمْ ستاسو سره بِهِ په هغې سره (يعنى تاسو چې مسلمانان خبروئ چې د نبي عليه سلام ذكر په تورات كې شته دى) عِنْدَ رَبِّكُمْ ۚ په نزد د رب ستاسو(يعنى مسلمانان به د الله په مخكې په تاسو ستاسو خپلې خبرې دليل ونيسي او وايې به چې يهوديانو سره د دې چې نبي عليه سلام يې پيژنلو خو ايمان يې پرې رانوړو. أَفَلَا تَعْقِلُونَ آيا نو تاسو نه پوهيږئ(چې دښمن ته دليل ورښيئ.) ﴿76﴾

أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿77﴾

| |
|---|
| أَوَ او آیا لَا يَعْلَمُونَ دوی نه پوهیږي أَنَّ چې بیشکه اللَّهَ الله تعالی يَعْلَمُ هغه (ج) عالم دی مَا په هغه څه يُسِرُّونَ چې دوی یې پټوي وَمَا او په هغه څه يُعْلِنُونَ چې دوی یې ښکاره کوي. ﴿77﴾ |

وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ إِلَّا أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿78﴾

| |
|---|
| وَمِنْهُمْ او ځینې د دوی(یهو دانو) نه أُمِّيُّونَ آمیان دي لَا يَعْلَمُونَ (چې) نه پوهیږي الْكِتَابَ په کتاب (تورات) إِلَّا مګر (پوهیږي) أَمَانِيَّ (په څه) هیلو(امیدونو) وَإِنْ او نه دي هُمْ دوی إِلَّا مګر يَظُنُّونَ ګمان کوي. ﴿78﴾ |
| |
| علماء یې داسې دي چې په تورات کې د الله تعالی آیتونه بدلوي او د دولت او عزت دپاره غلطې فتوې ورکوي او بیا یې دین ته منسوبوي. |
| او عوام یې داسې دي چې په تورات نه پوهیږي د ړندو او کڼو غونډې څه چې ورته خپل منحرف علماء او مشران وایې هماغه په پټو سترګو منې،او په دوی کې(عوامو کې) یې د دروغو امیدونه او ګمانونه پیدا کړي دي.امیدونه یې دا دي چې جنت ته به ځو،او ګمانونه یې دا دي چې د دوی منحرف او بې دینه علماء او مشران چې څه وایې په هغې د ربنتیا او حقیقت ګمان کوي. |

فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَوَيْلٌ لَهُمْ مِمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَهُمْ مِمَّا يَكْسِبُونَ ﴿79﴾

فَوَيْلٌ نو هلاکت دی لِلَّذِينَ د هغو خلکو دپاره يَكْتُبُونَ چې ليکي هغوی الْكِتَابَ کتاب (د خپله ځانه) بِأَيْدِيهِمْ په خپلو لاسونو سره ثُمَّ بيا يَقُولُونَ وايي دوی (خلکو ته) هَٰذَا چې دا (ليکل) مِنْ عِنْدِ اللَّهِ د الله تعالى د لوري دي (په تورات کې د خپله ځانه خبرې ليکي او بيا خلکو ته وايي چې دا د الله تعالى خبرې دي) لِيَشْتَرُوا د دې دپار (په تورات کې تحريف کوي) چې واخلي بِهِ په دې(تحريف يا د ځانه ليکلو) سره ثَمَنًا قيمت قَلِيلًا ۖ لږ (ځکه چې د الله تعالى د آيتونو په مقابيل کې ټوله دنيا هم هيڅ قيمت نلري) فَوَيْلٌ نو هلاکت دی لَهُمْ دوی ته مِمَّا په سبب د هغه (ليکلو) كَتَبَتْ چې ليکلي دي أَيْدِيهِمْ لاسونو د دوی وَوَيْلٌ او هلاکت دی لَهُمْ دوی ته مِمَّا په سبب د هغه (کار) يَكْسِبُونَ چې دوی يې کوي.(چې : رشوت اخلي او د الله تعالى خبرې بدلوي) ﴿79﴾

مثلاً په تورات کې ليکلي ؤ چې : نبي عليه السلام بنکلی مخ،تکي تورې ولول تاو شوي ښتي،توري سترګې،ميانه قد او غنم رنګه رنګ لري.خو دوی هغه د الله تعالى خبرې واړولي او داسې يې وليکل چې:قد يې اوږد،سترګې ئې شني،او ښتي ئې ساده،سمې،ځوړندې اوزيرې دي.د دې دپاره چې خلک د دوی تصديق ونه کړي او د دوی په دنيوي ګټو کې څه نقصان رانشي.

وَقَالُوا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَعْدُودَةً ۚ قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِنْدَ اللَّهِ عَهْدًا فَلَنْ
يُخْلِفَ اللَّهُ عَهْدَهُ ۖ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿80﴾

وَقَالُوا او وايي دوی(يهوديان وايي) لَنْ تَمَسَّنَا راوبه نه رسيږي مونږ ته النَّارُ اور (د دوزخ) إِلَّا مګر أَيَّامًا (يو څو) ورځې مَعْدُودَةً ۚ شميرل شوي.

| |
|---|
| يهود وايي چې:مونږ خو د پيغمبرانو اولاده يو.د نورو خلکو نه بهتر يو،اول خو دوزخ ته نه ځو ،او که فرضاً ډيره زياته ګناه هم وکړو نوبيا هم د ډېر کم وخت دپاره عذاب راکول کيږي،او بيرته ترې راوځو او جنت ته ځو،ځيني وايي چې: |
| اوه ورځې،ځيني وايي ځلويښت ورځې،ځيني وايي ځلويښت کلونه،او ځيني وايي چه د هر کس د دنيا د عمر په اندازه به په دوزخ کې تيروو هغه هم د ډېرې ګناه په صورت کې او نور به جنت ته ځو،دا نو د هغو يهوديانو خبرې دي چې په خپله په تورات نه پوهيږي او د دوی منحرف او بي دينه علماء يي ورته وايي،او دوی يي په ړندو سترګو منې،او په همدې دروغجن اميد او خوش فهمۍ کې ډوب دي. |

قُلْ ( ای محمد صلی الله عليه وسلم دې يهوديانو ته) ووايه أَتَّخَذْتُمْ آيا اخستي تاسو عِنْدَ اللَّهِ د الله تعالی څخه عَهْدًا وعده؟ (چې ګنې تاسو ته به عذاب نه درکوي،او که داسې وي!) فَلَنْ يُخْلِفَ نو هيڅ کله به خلاف ونه کړي اللَّهُ الله تعالی عَهْدَهُ ۖ د وعدې خپلې أَمْ يا تَقُولُونَ وايئ تاسو عَلَى اللَّهِ

په الله تعالى باندې مَا هغه څه(دروغ) لَا تَعْلَمُونَ چې تاسو پرې نه پوهيږئ. ﴿80﴾

بَلَىٰ مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿81﴾

بَلَىٰ ولې نه مَنْ چا چې كَسَبَ وكړه سَيِّئَةً گناه وَأَحَاطَتْ او چاپيره شوه (چار چاپيره تاو شوه) بِهِ په هغه خَطِيئَتُهُ گناه د هغه(چې د مرګ پورې كفر دى) فَأُولَٰئِكَ نو دغه كسان أَصْحَابُ النَّارِ ۖ دوزخيان دي هُمْ دوى( به) فِيهَا په هغې (دوزخ) كې خَالِدُونَ هميشه وي. ﴿81﴾

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿82﴾

وَالَّذِينَ او هغه خلک آمَنُوا چې ايمان يې راوړئ دى وَعَمِلُوا اوعملونه كړي دي دوى الصَّالِحَاتِ نيک أُولَٰئِكَ دغه خلک أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ جنتيان دي هُمْ دوى (به) فِيهَا په هغې (جنت) كې خَالِدُونَ هميشه وي.﴿82﴾

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِنْكُمْ وَأَنْتُمْ مُعْرِضُونَ ﴿83﴾

وَإِذْ او کله چې أَخَذْنَا واخسته مونږ مِيثَاقَ کلکه وعده
بَنِي إِسْرَائِيلَ د بني اسرائيلو نه لَا تَعْبُدُونَ چې عبادت مه
کوئ إِلَّا مګر اللَّهَ یوازې د الله تعالی(عبادت کوئ)
وَبِالْوَالِدَيْنِ او د مور او پلار سره إِحْسَانًا نیکي کوئ وَذِي
الْقُرْبَىٰ او د خپلوانو سره نيکي کوئ وَالْيَتَامَىٰ او د یتیمانو
سره نیکي کوئ وَالْمَسَاكِينِ او د مسکینانو سره نیکي کوئ
وَقُولُوا او وایئ لِلنَّاسِ خلکو ته حُسْنًا ښې خبرې
وَأَقِيمُوا او کوئ الصَّلَاةَ لمونځ وَآتُوا او ورکوئ الزَّكَاةَ
زکات ثُمَّ بیا (وروسته د دې وعدې) تَوَلَّيْتُمْ وګرځیدئ تاسو
(د دې وعدې نه) إِلَّا مګر (ونه ګرزیدل) قَلِيلًا لږ مِنْكُمْ
د ستاسو څخه وَأَنْتُمْ او تاسو مُعْرِضُونَ مخ ګرځوونکي
یئ(مخ اړه ونکي یئ). ﴿83﴾

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَاءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنْفُسَكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ
ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنْتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿84﴾

وَإِذْ او کله چې أَخَذْنَا واخسته مونږ مِيثَاقَكُمْ پخه وعده د
ستاسو نه (ستاسو د نیکونو نه،په تورات) لَا تَسْفِكُونَ چې مه
تویوئ دِمَاءَ وینې كُمْ ستاسو (یو بل مه وژنئ) وَلَا
تُخْرِجُونَ او مه وباسئ تاسو أَنْفُسَكُمْ ځانونه ستاسو (یو بل په
ظلم سره) مِنْ دِيَارِكُمْ د کورونو خپلو ثُمَّ بیا أَقْرَرْتُمْ
اقرار وکړو تاسو (نیکونه ستاسو) وَأَنْتُمْ او تاسو تَشْهَدُونَ
شاهدان یئ. ﴿84﴾

| |
|---|
| كله چه الله تعالى حساب كوي د منكريدلو بالكل چانس نشته.د خبرو كولو صلاحيت به ترې واخستل شي،د بدن اندامونه به د الله تعالى سره خبرې كوي، شاهدي به وايې،چې يا الله مونږ د تورات په منلو سره ستا سره وعده او اقرار كړې ؤ چې مونږ به د تورات حكمونه منو او عمل به پرې كوو. |
| (الْيَوْمَ نن ورځ به نَخْتِمُ مونږ مهر ولګوو عَلَىٰ أَفْوَاهِهِمْ په خولو باندې د دوى وَتُكَلِّمُنَا او خبرې به كوي زمونږ سره أَيْدِيهِمْ لاسونه د دوى وَتَشْهَدُ او شاهدي به وركوي أَرْجُلُهُمْ ښپې د دوى بِمَا په هغه څه كَانُوا يَكْسِبُونَ چې دوى به كول(په دنيا كې) ﴿65﴾يسن) |
| مګر عجيبه او د افسوس خبره خو دا ده چې اكثره مسلمانان چې په زړونو كې يو قسم يهوديانو ته ګورې او اعتراضونه پرې كوي،دا خو صحيح ده،مګر كه يوه ګوته بل ته نيول كيږي نو څلور خپل ځانته نيول كيږي،بايد چې خپلو ځانونو ته هم وګورئ،تاسو خو هم د قرآن په منلو د الله تعالى سره د قرآنكريم د حكمونو د منلو وعده كړې ده،هر سړى دې په خپله د خپل ځان قاضي شي او په خپله دې فيصله وكړي چې:آيا داسې خو به نه وي چې ما هم د يهوديانو په شان د قرآن حكمونه مات كړي وي او سركشي او بغاوت مې ترې كړې وي!مثلاً د قرآن حكم دى چې:شراب مه څكئ،خو اكثره خلك يې څكي،آيا دا د قرآن د حكم څخه سركشي او بغاوت نه دى؟د قرآن حكم دى چې:غلا مه كوئ،خو اكثره خلك غلا كوي،آيا دا د قرآن د حكم ماتول او ترې سركشي كول نه دي؟د قرآن حكم دى چې:دروغ مه وايئ،سود مه كوئ،د چا حق مه خورئ،زنا مه كوئ،بې ګناه مرګ او قتلونه مه كوئ،په چا ظلم مه كوئ او داسې نور.........مګر اكثره د نبي عليه السلام امتيان دا ټول كوي، او د خلكو حق او مالونه خو |

داسې خورې لکه د پلار نه چې ورته میراث پاتې وي،او د الله تعالی بندګان خو داسې وژنې لکه یا چې هیڅ ګناه نه وي او یا هیڅ د حساب او کتاب ورځ نه وي،نو هر سړی دې فکر وکړي چې دا د قرآن د حکمونو څخه بغاوت،سرکشي او د قرآن په منلو سره د الله تعالی سره د کړل شوو وعدو خلاف ورزي او وعده خلافي نه ده؟

ثُمَّ أَنْتُمْ هَٰؤُلَاءِ تَقْتُلُونَ أَنْفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِنْكُمْ مِنْ دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ عَلَيْهِمْ بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَإِنْ يَأْتُوكُمْ أُسَارَىٰ تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ ۚ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَاءُ مَنْ يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿85﴾

| |
|---|
| ثُمَّ پس (د دې وعدې نه) أَنْتُمْ تاسو هَٰؤُلَاءِ هغه (خلک) يئ تَقْتُلُونَ چې وژنئ تاسو أَنْفُسَكُمْ ځانونه خپل (په خپلو منځونو کې يو بل وژنئ) وَتُخْرِجُونَ او وباسئ تاسو فَرِيقًا يوه ډله(په جنګ کې مغلوبه ډله) مِنْكُمْ د ستاسو ځينې مِنْ دِيَارِهِمْ |
| د هغوی د کورونو نه تَظَاهَرُونَ مرسته کوئ تاسو (يو د بل سره) عَلَيْهِمْ په (خلاف د) هغوی باندې (د کورونو نه په وبشکلو کې) بِالْإِثْمِ په ګناه وَالْعُدْوَانِ او ظلم سره وَإِنْ او که يَأْتُو کُمْ راشي دوی تاسو ته أُسَارَىٰ بنديان (چې د بل قوم څخه چا بنديان کړي وي) تُفَادُوهُمْ (نو تاسو د دوی د راخلاصولو دپاره) د هغوی فديه ورکوئ (د دوی په بدل کې يو څه مال ورکوئ) وَهُوَ حال دا چې مُحَرَّمٌ حرام دي عَلَيْكُمْ په تاسو باندې إِخْرَاجُهُمْ ۚ ويستل د هغوی (د |

کورونو نه) أَفَتُؤْمِنُونَ آیا نو ایمان راوړئ تاسو بِبَعْضِ په
ځینو (احکامو) الْكِتَابِ د کتاب وَتَكْفُرُونَ او انکار کوئ
بِبَعْضٍ ۚ د ځینو (احکامو نه) فَمَا نو نه ده جَزَاءُ جزاء
(بدله) مَنْ څوک چي يَفْعَلُ کوي ذَٰلِكَ دغه (کار)
مِنْكُمْ د ستاسو نه إِلَّا مگر خِزْيٌ رسوايي فِي الْحَيَاةِ
په ژوند کي الدُّنْيَا ۖ د دنيا وَيَوْمَ او په ورځ الْقِيَامَةِ د
قيامت يُرَدُّونَ گرزول کيږي دوی إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ ۗ سخت
عذاب ته (د دوزخ) وَمَا اللَّهُ او نه دی الله تعالی بِغَافِلٍ بي
خبره عَمَّا د هغه څه نه تَعْمَلُونَ چي تاسو يي کوئ. ﴿85﴾

د تورات د احکامو په خلاف به يهوديانو په خپلو کي جنگونه
کول،يو بل به يي وژل او هر څوک به چي مغلوب او کمزوره
شول،هغوی به يي د کورونو څخه ويستل،دوی به يي کورونه
چور کول، او هغوی به يي د ملک څخه شړل،خو فرضاً د دوی د
قوم همدا خلک چي دوی به وژل او د کورونو څخه به يي
ويستل،که چيرته به د کوم بل قوم د کسانو د خوانه ونيول شول او
بنديان به شول نو بيا به دوی د هغوی د راخلاصولو دپاره پيسي
راغونډولي او د فديي د ورکولو په بدل کي به يي راخلاصول،او
دي کار ته به يي مذهبي رنگ ورکولو،ويل به يي چي دا کار
مونږ د تورات د حکم په اساس کوو،حال دا چي دوی دروغ
ويلي،د تورات حکم يي نه منلو بلکي د قومي تعصب په اساس يي
دا بنديان راخلاصول،نه د تورات د حکم د منلو په اساس، ځکه
چي په تورات کي خو دا حکم هم ؤ چي وژل مه کوئ او د
کورونو څخه يي مه اوباسئ،نو دا خو منل نه دي چي په خپله
خوښه او خيل انتخاب ځيني احکام مني او ځيني نه مني.مونږ بايد
د دي څخه پند واخلو او فکر وکړو چي آيا په مونږ کي څومره

مسلمانان د قرآن په ځومره احکامو عمل کوي او په ځومره يې نه کوي،که غور وکړو ګورو چې اکثره مسلمانان د قرآنکريم صرف په هغو آيتونو او احکامو باندې عمل کوي او مني يې چې د دوى د نفسي خواهيشاتو او دنيوي ګټو سره ټکر نه کوي،ليکن کوم احکام چې د دوى د نفسي خواهيشاتو او دنيوي ګټو سره ټکر کوي،نو ورته د هغې احکامو منل او پرې عمل کول داسې دي چې تقريباً د نه منلو برابر دي.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ ۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿86﴾

څوک چې داسې کوي نو:

أُولَٰئِكَ دوى الَّذِينَ هغه (خلک) دي اشْتَرَوُا چې اخستئ دى دوى الْحَيَاةَ ژوند الدُّنْيَا د دنيا بِالْآخِرَةِ ۖ په آخرت سره (دنيا يې خوښه کړي او آخرت يې پريښودئ دى) فَلَا يُخَفَّفُ نو نه به کميږي عَنْهُمُ د دوى څخه الْعَذَابُ عذاب وَلَا هُمْ او نه به دوى (سره) يُنْصَرُونَ کومک کيږي(د عذاب په کمولو کې) ﴿86﴾

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ وَقَفَّيْنَا مِنْ بَعْدِهِ بِالرُّسُلِ ۖ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ ۗ أَفَكُلَّمَا جَاءَكُمْ رَسُولٌ بِمَا لَا تَهْوَىٰ أَنْفُسُكُمُ اسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿87﴾

وَلَقَدْ او بيشکه آتَيْنَا ورکړې ؤ مونږ مُوسَى موسى عليه السلام ته الْكِتَابَ کتاب (تورات) وَقَفَّيْنَا او پرله پسې

ليږلي ؤ مونږ مِنْ بَعْدِهِ وروسته د هغه نه(موسى عليه السلام نه) بِالرُّسُلِ ۖ ( نور) رسولان (لکه يوشع،داود،سليمان،يحيي او زکريا عليهم السلام) وَآتَيْنَا او ورکړې وې مونږ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ عيسى عليه السلام ځوى د مريم عليهاالسلام ته الْبَيِّنَاتِ ښکاره (معجزې لکه د مړو ژوندي کول،د ابرص د مريضانو رغول او د پټو خبرو ښودل) وَأَيَّدْنَاهُ او قوت ورکړې ؤ مونږ هغه ته (عيسى عليه السلام ته) بِرُوحِ الْقُدُسِ ۗ په روح پاک سره (جبريل عليه السلام) أَفَكُلَّمَا آيا نو هرکله به چې جَاءَ راغې كُمْ تاسو ته رَسُولٌ يو پيغمبر بِمَا په هغو احکامو سره لَا تَهْوَىٰ چې نه به خوښول(هغه احکام) أَنْفُسُكُمُ نفسونو ستاسو (تاسو) اسْتَكْبَرْتُمْ ( نو) تکبر به کولو تاسو(د منلو د هغو احکامو څخه يعنى نه به مو منل) فَفَرِيقًا نو يوه ډله (د پيغمبرانو) كَذَّبْتُمْ دروغجنه وبلله تاسو (لکه محمد صلى الله عليه وسلم،عيسي او موسى عليهما السلام) وَفَرِيقًا او يو ډله (د پيغمبرانو) تَقْتُلُونَ ووژله تاسو (لکه:حضرت زکريا،يحيى او شعيب عليهم السلام) ﴿87﴾

وَقَالُوا قُلُوبُنَا غُلْفٌ ۚ بَلْ لَعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلًا مَا يُؤْمِنُونَ ﴿88﴾

وَقَالُوا او هغوى(يعنى يهوديان) وايې(د مسخرو په ډول :) قُلُوبُنَا چې زړونه زمونږ غُلْفٌ ۚ په پردو کې بند دي (د چا خبرې په مونږ باندې اثر نه کوي) بَلْ بلکې (په حقيقت کې) لَعَنَهُمُ لعنت کړې دى په هغوى اللَّهُ الله تعالى بِكُفْرِ هِمْ په

| |
|---|
| سبب د کفر د هغوی فَقَلِيلًا نو ډېر لږ دي مَا هغه(خلک د دوی ځینې) يُؤْمِنُونَ چې هغوی ایمان راوړي. ﴿88﴾ |

وَلَمَّا جَاءَهُمْ كِتَابٌ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَهُمْ وَكَانُوا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا فَلَمَّا جَاءَهُمْ مَا عَرَفُوا كَفَرُوا بِهِ ۚ فَلَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿89﴾

| |
|---|
| وَلَمَّا او هرکله جَاءَ چې راغئ هُمْ دوی ته(یعنی یهودیانو ته) كِتَابٌ یو کتاب(یعنی قرآنکریم) مِنْ عِنْدِ اللَّهِ د الله تعالی د طرف نه مُصَدِّقٌ چې تصدیق کونکئ دی لِمَا د هغه(تورات) مَعَهُمْ چې د دوی سره دی وَ او حال دا كَانُوا مِنْ قَبْلُ چې دوی مخکي د (نبي علیه سلام او قرآنکریم نه) يَسْتَفْتِحُونَ فتحه غوښته (یعنی د فتحې دعاګاني به يې غوښتلي دالله تعالی څخه په قرآنکریم او محمد صلی الله علیه وسلم سره) |
| عَلَى الَّذِينَ په هغو خلکو باندي كَفَرُوا چې کافران ؤ. |
| دنیا ته د نبي علیه سلام د راتلو او د قرآنکریم د نازلیدلو څخه مخکې په مدینه منوره کې دوه قسمه خلک اوسیدل،یو یهودیان ؤ، او نور هغه کافران ؤ چې نه يې کتاب او شریعت لرلو او نه يې کوم پیغمبر پیژندلو.دوی به د یهودیانو نه د تورات خبرې اوریدلي،د دواړو ډلو په منځ کې به جنګونه او جګړې کیدلي ،اکثره به په جنګ کې یهودیانو شکست او ماتي خوړله،نو کافرانو ته به يې ویلي چې د نبي اخرالزمان د راتلو وخت نژدې دی،کله چه هغه راشي آسماني کتاب(قرآن) الله تعالی ورکوي،او بیا به مونږ په تاسو قوي شو،او دا ټول بدلونه به درڅخه واخلو،او ډیر شدید انتظار يې کولو او دعاګاني به يې کولي چې یا الله دا پیغمبر |

| |
|---|
| ژر راولي چې په کافرانو قوي او غالب شو،او د محمد صلى الله عليه وسلم د راتلو دپاره يې شپې او ورځې شمارلې. |
| فَلَمَّا نو هر کله چې جَاءَهُمْ راغئ دوى ته مَا هغه (پيغمبر ص او قرآنکريم) عَرَفُوا چې دوى پيژندلئ ؤ (په تورات کې او د هغه صلى الله عليه وسلم د راتلو يې په ډيره بې صبرى سره انتظار کولو،او سوالونه يې کول چې يا الله ژر يې راولې ، کله چې راغئ ) كَفَرُوا بِهِ ۚ (نو) کافران شول په هغه (د محمد صلى الله عليه وسلم او قرآن د منلو څخه يې انکار وکړو،ځکه چې دوى فکر کولو او په دې تمه ؤ چې آخرنى پيغمبر به هم په مونږ يعنى بني اسرائيلو کې راځي،خو کله چې په مکه کې په بني اسماعيلو کې راغئ نو دوى سره د پوهې د قومي تعصب په اساس قصداً انکار وکړو ) فَلَعْنَةُ اللَّهِ نو د الله تعالى لعنت دى عَلَى الْكَافِرِينَ په کافرانو باندې. ﴿89﴾ |

بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهِ أَنْفُسَهُمْ أَنْ يَكْفُرُوا بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ بَغْيًا أَنْ يُنَزِّلَ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ ۖ فَبَاءُوا بِغَضَبٍ عَلَىٰ غَضَبٍ ۚ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ مُهِينٌ ﴿90﴾

| |
|---|
| بِئْسَمَا ډير بد دى هغه شى اشْتَرَوْا بِهِ چې دوى خرڅ کړل د هغه په بدل کې أَنْفُسَهُمْ ځانونه خپل ( دنيا يې غوره کړه او آخرت يې پريښو دو) أَنْ يَكْفُرُوا چې دوى انکار کوي بِمَا د هغه (قرآنکريم ) نه أَنْزَلَ اللَّهُ چې نازل کړئ دى الله تعالى بَغْيًا (په سبب د دې) کينې(او ضد) أَنْ يُنَزِّلَ اللَّهُ چې نازلوي الله تعالى مِنْ فَضْلِهِ د خپل فضل نه (وحې او رسالت) عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ په هر چا باندې چې هغه (ج) غواړي. |
| مِنْ عِبَادِهِ ۖ د هغه جل جلاله د بندګانو څخه. |

| |
|---|
| لکه مخکې چې ذکر شو:یهودیانو فکر کولو چې اخرنی پیغمبر به هم په بني اسرائیلو کې راځي.لیکن د الله تعالی دا رحمت او فضل په بني اسماعیلو وشو،نو سره د دي چې یهودیانو د اخرني پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم د راتلو انتظار کولو،نو د دي ضد په سبب چې ولي په مونږ کې رانغئ،نو په عوض د دي چې ایمان پرې راوړي،برعکس |
| دښمني او مخالفت یې ورسره شروع کړو.لیکن د مدینې منورې هغه کافران چې نه یې کتاب او شریعت لرلو اونه یې کوم پیغمبر پیژندلو.او صرف د یهودیانو څخه یې د محمد صلی الله علیه وسلم په باره کې د تورات خبرې اوریدلي وي،نو کله چې د حج په وخت کې د دوی یو څو کسانو ته نبي علیه سلام د اسلام دعوت ورکړ نو دوی د هغې علم پواسطه چې دوی د یهودیانو د خبرو څخه حاصل کړئ و،محمد صلی الله علیه وسلم یې وپیژندلو چې د الله تعالی اخرنی پیغمبر دی،او ایمان یې پرې راوړو. |
| فَبَاءُوا نو اخته شول دوی(یهودیان په نبي علیه سلام باندي د ایمان نه راوړلو په سبب) بِغَضَبٍ په یو غضب عَلَىٰ غَضَبٍ ۚ دپاسه د بل غضب وَلِلْكَافِرِينَ او د کافرانو دپاره عَذَابٌ مُهِينٌ سپکوونکئ عذاب دی. ﴿90﴾ |

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا نُؤْمِنُ بِمَا أُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُونَ
بِمَا وَرَاءَهُ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِمَا مَعَهُمْ ۗ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُونَ أَنْبِيَاءَ اللَّهِ مِنْ
قَبْلُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿91﴾

| |
|---|
| وَإِذَا او کله چې قِيلَ وویل شي لَهُمْ دوی ته(یهودیانو ته) آمِنُوا چې ایمان راوړئ تاسو بِمَا په هغه(قرآن) أَنْزَلَ اللَّهُ چې نازل کړئ دی الله تعالی قَالُوا (نو) وایې دوی(یهودیان) |

نُؤْمِنُ (چې)مونږ ایمان راوړو بِمَا (یوازې) په هغه(تورات)
أُنْزِلَ چې نازل شوئ دی عَلَيْنَا په مونږ (بني اسرائیلو) باندې
وَيَكْفُرُونَ او انکار کوي بِمَا د هغه څه نه وَرَاءَهُ چې
علاوه (پرته) د هغه(تورات) نه دي(د تورات نه پرته چې الله
ځومره کتابونه او پیغمبران دنیا ته رالیږلي دي د هغوی د منلو نه
انکار کوي لکه محمد صلی الله علیه وسلم،عیسی علیه
سلام،قرآنکریم او انجیل...) وَ حال دا چې هُوَ دغه(قرآن)
الْحَقُّ حق دی مُصَدِّقًا چې تصدیق کوي لِمَا د هغه
(تورات) مَعَهُمْ ۗ چې د دوی سره دی قُلْ ووایه (یهودیانو
ته) فَلِمَ نو ولې تَقْتُلُونَ به تاسو وژل أَنْبِيَاءَ اللَّهِ
پیغمبران د الله تعالی مِنْ قَبْلُ د دې نه مخکې(هغوی چې په
خپله د بني اسرائیلو په نسل کې زیږېدلي ؤ) إِنْ که كُنْتُمْ
وئ تاسو مُؤْمِنِينَ ایمان راوړونکي (په تورات باندې) ﴿91﴾

ځکه چه په تورات کې کې خو دا حکم دی چې:هر نبي چې د
تورات تصدیق وکړي،تاسو ورسره کومک وکړئ او حتماً پرې
ایمان راوړئ،مگر تاسو یعنی ستاسو نیکونو په عوض د دې چې
د هغو نبیانو سره مرسته وکړي ،چا چې د تورات تصدیق کولو او
پخپله بني اسرائیل هم ؤ لکه شعیب،زکریا اویحی علیهم سلام
،برعکس د هغوی د منلو څخه یې انکار او مخالفت وکړو،او د
تورات د حکم او هدایت په خلاف یې هغه د الله تعالی نبیان
ووژل،نو ای دروغژنو اصلاً همدا تاسویئ چې تورات نه
منئ،ځکه که تاسو واقعاً تورات منلو نو تاسو به په قرآن او نبي
علیه سلام باندې ایمان راوړئ ؤ،ځکه تاسو ته خو تورات حکم
کوي چې کوم پیغمبر د تورات تصدیق وکړي،پرې ایمان راوړئ
او مرسته ورسره وکړئ، نو قرآنکریم او نبي علیه سلام خو د

| |
|---|
| تورات او د تورات د هداياتو تصديق کوي نو بيا ولي پرې ايمان نه راوړئ،د دي مطلب دا دی او دا د دي ثبوت دی چې تاسو نه تورات منئ او نه پرې ايمان لرئ. |

وَلَقَدْ جَاءَكُمْ مُوسَىٰ بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَنْتُمْ ظَالِمُونَ ﴿92﴾

| |
|---|
| وَلَقَدْ او په تحقيق سره جَاءَ راغلئ ؤ كُمْ تاسوته مُوسَىٰ موسی عليه سلام بِالْبَيِّنَاتِ د روښانه معجزو سره.(لکه د همساء معجزه چې مار به تري جوړ شو،يد بيضاء،د درياب په منځ بيليدل او نور......خو د دي دومره روښانه معجزو او دلايلو د ليدلو سره سره) |
| ثُمَّ بيا اتَّخَذْتُمُ ونيولو تاسو الْعِجْلَ خوسی (په خدايي سره مِنْ بَعْدِهِ وروسته دهغه(د تلو نه کوه طور ته د څلويښتو شپو دپاره) وَأَنْتُمْ او تاسو ظَالِمُونَ ظالمان يئ. ﴿92﴾ |

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ وَاسْمَعُوا ۖ قَالُوا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَأُشْرِبُوا فِي قُلُوبِهِمُ الْعِجْلَ بِكُفْرِهِمْ ۚ قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُمْ بِهِ إِيمَانُكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿93﴾

| |
|---|
| وَإِذْ او(ای يهوديانو) ياد کړئ هغه وخت کله چې: أَخَذْنَا واخسته مونږ مِيثَاقَكُمْ کلکه وعده ستاسو (د نيکونو)نه وَرَفَعْنَا او پورته کړو مونږ فَوْقَكُمُ دپاسه د ستاسو (د نيکونو) الطُّورَ کوه طور خُذُوا (او ومو فرمايل چې) ونيسئ مَا هغه ( تورات) آتَيْنَا چې درکړئ دي مونږ كُمْ تاسو ته |

بِقُوَّةٍ په قوت سره (کلک عمل پرې وکړئ) وَاسْمَعُوا ۖ او (کوم احکام چې مونږ په تورات کې درکړي دي په غور سره يې) واورئ قَالُوا (نو) وويلي هغوی(ستاسو نيکونو) سَمِعْنَا چې واوريده مونږ وَعَصَيْنَا او نافرماني وکړه مونږ( ونه منل مونږ) وَأُشْرِبُوا او څکل شوي وه (ځای نيولئ ؤ) فِي قُلُوبِهِمُ په زړونو د هغوی کې الْعِجْلَ (محبت د) خوسکې بِكُفْرِهِمْ ۚ په سبب د کفر د دوی قُلْ ووايه (يهوديانو ته) بِئْسَمَا ډېر بد دی هغه (شی) يَأْمُرُ چې امر کوي كُمْ تاسوته بِهِ په هغه(شي) سره (د هغې شي په کولو سره) إِيمَانُكُمْ ايمانونه ستاسو (چې درته وايي چې په قرآن او محمد صلى الله عليه وسلم باندې ايمان مه راوړئ) إِنْ كُنْتُمْ که چيرته يئ تاسو مُؤْمِنِينَ مؤمنان .(يعنی دا څنګه ايمان دی چې تاسو ته داسې امر کوي خو حقيقت دا دی چې نه تاسو مؤمنان يئ او نه ايمان لرئ) ﴿93﴾

بني اسرائيلو د موسی عليه السلام دين د تورات د نزول څخه پخوا منلئ ؤ، خو کرته يې موسی عليه السلام ته ويلي ؤ چې مونږ ته يو آسماني کتاب راوړه چې په احکامو يې عمل وکړو،او په دې يې سره توافق او معاهده کړې وه نو کله چې تورات راغئ او ورته وسپارل شو نو دوی وعدې ماتولو ته ملاوې وتړلې،د شرارته يې ويلي چې د تورات حکم درووند دی او د دې تعميل زمونږ نه پوره نه دی،نو الله تعالى د طور غر ته امر وکړ چې پرې راتيت شه،غر پرې راتيت شو،خوا او شا اوروونه بل شو،او دوی ته هيڅ داسې موقع پاتې نه شوه چې د تورات د منلو څخه سرکشي وکړي،نو مجبوراً يې د هغه احکامو ته غاړه کيښوده.نو دلته په دوی باندې د غره راتيتيدل يا راځوړنديدل د دوی د وعده

خلافې په سبب وشو نه د موسى عليه السلام د دين د نه منلو په سبب.

قُلْ إِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَةُ عِنْدَ اللَّهِ خَالِصَةً مِنْ دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿94﴾

يهوديانو به ويلي چې :مونږ الله تعالى غوره كړي يو،مونږ د الله تعالى د اولادونو پشان يو،مونږ اولياءالله يعنى د الله تعالى دوستان يو،فلهذا د آخرت كور يعنى جنت هم زمونږ دپاره دى يعنى مونږ جنتيان يو.نو د دوى د دې خبرو په جواب كې قرآنكريم فرمائي:

قُلْ ووايه (يهوديانو ته) إِنْ كَانَتْ كه چيرته وى لَكُمُ ستاسو دپاره الدَّارُ كور الْآخِرَةُ د آخرت (جنت) عِنْدَ اللَّهِ د الله تعالى سره خَالِصَةً خاص (يوازې ستاسو دپاره) مِنْ دُونِ النَّاسِ پرته د نورو خلكو نه فَتَمَنَّوُا نو(بيا خو) ارزو وكړئ الْمَوْتَ د مرګ إِنْ كه كُنْتُمْ تاسو يئ صَادِقِينَ رښتيني. ﴿94﴾

اى يهوديانو كه تاسو پخپله خبره يقين لرئ او رښتيا وايئ چه تاسو جنتيان يئ،نو بيا دلته څه كوئ،د دنيا نه خو جنت په بې حسابه كرته ډېر ښه دى نو د مرګ خواهش او ارزو وكړئ چې جنت ته لاړ شئ.ځكه چې پيغمبر عليه سلام فرمائې چې: دنيا د مؤمن دپاره زندان او د كافر دپاره جنت دى.

وَلَنْ يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿95﴾

وَلَنْ او هيڅ کله به ونه کړي يَتَمَنَّوْهُ دوی ارزو د هغه(مرګ)
أَبَدًا هميشه(دپاره) بِمَا په سبب د هغو(اعمالو او ګناهونو)
قَدَّمَتْ چي ليږلي دي مخکي أَيْدِيهِمْ ۗ لاسونو د دوی (لکه د الله تعالی د نبيانو وژل او هغوی ته د دروغجنو نسبت کول، شرک،ظلمونه کول او نور ) وَاللَّهُ او الله تعالی عَلِيمٌ ښه پوه دی بِالظَّالِمِينَ په ظالمانو باندي. ﴿95﴾

وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَىٰ حَيَاةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ۚ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَنْ يُعَمَّرَ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿96﴾

وَلَتَجِدَنَّهُمْ او يقيناً ته به پيدا کړی دوی(بيامومي يهوديان)
أَحْرَصَ ډېر زيات حريصان النَّاسِ د انسانانو څخه عَلَىٰ
حَيَاةٍ په ژوند باندي(يعنی د ټولو انسانانو څخه يهوديان د دنيا د ژوند ډېر حرص لري چي مرګ دي نه وي او د تل دپاره دي ژوندي وي). وَمِنَ الَّذِينَ او(حتی ) د هغو کسانو (څخه هم د دوی په د نيا کي د ژوند کولو حرص زيات دی چي) اَشْرَكُوا ۚ
چي هغوی مشرکان دي يَوَدُّ خوښوي(غواړي) أَحَدُهُمْ
هر يو د دوی څخه لَوْ که يُعَمَّرُ عمر ورکول شي أَلْفَ
يو زر سَنَةٍ کلونه وَمَا او نه دی هُوَ دغه(عمر)
بِمُزَحْزِحِهِ خلاصونکئ د هغه مِنَ الْعَذَابِ د عذاب نه أَنْ
يُعَمَّرَ ۗ چي(که چيرته زر کلونه)عمر ورکول شي(يعنی که چاته هر څومره زيات عمر ورکول شي خو د الله تعالی د عذاب څخه

بچ کیدلای نشي ) وَاللَّهُ او الله تعالی بَصِيرٌ ګوري بِمَا هغه(اعمال) يَعْمَلُونَ چې دوی يې کوي. ﴿96﴾

د دي دپاره چې د آیت په ترجمه ښه پوه شو د یو څه معلومات ذکر کول ضرور دي.هغه دا چې یهودیانو فکر کولو چې ورستنئ پیغمبر به هم لکه د نورو پیغمبرانو پشان په بني اسرائیلو کې راځي،خو کله چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په بني اسماعیلو کې الله تعالی مبعوث کړو،نو په دي سبب چې یهودیانو بنې اسماعیل د ځان څخه ډیر کم ګڼل،ویل به یې چې بني اسماعیل خو اُمي او بیسواده خلک دي،نه کتاب لري،نه شریعت لري او نه کوم قانون.نو دا څنګه کیدلای شي چې الله تعالی د داسې خلکو د منځ څخه یو اُمي کس د پیغمبرۍ او نبوت دپاره غوره کړي،یعنی الله محمد صلی الله علیه وسلم دپیغبر په حیث نه دی غوره کړئ بلکه دا ټول د جبرائیل علیه سلام کار او شرارت دی،الله تعالی وحې د بني اسرائیلو کوم کس ته لیږله ،مګر جبرائیل علیه سلام د بني اسماعیلو یو کس حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته ورووړه،نو حضرت جبرائیل علیه سلام یې خپل دښمن تصور کولو،او کنځل به یې ورته کولي.حیران به شئ چې د اهل تشیع یوه ډله د (غرابیه) په نوم د دوی عقیده هم تقریباً هم داسې وه،دوی عقیده لرله چې:د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او حضرت علی (رض) ارواح یو د بل سره مشابه وي،الله تعالی جبرائیل علیه سلام ته وحې ورکړه چې حضرت علی(رض) ته یې ورووړه،خو جبرائیل علیه سلام غلط شو او د علی (رض) په ځای ئي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته ورووړه.

قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿97﴾

(ای محمد صلی الله علیه و سلم دي کفارو ته) قُلْ ووایه مَنْ كَانَ څوک چې وي عَدُوًّا دښمن لِجِبْرِيلَ د جبرائیل علیه سلام (په دي چې ګڼي جبرائېل علیه سلام تاته په خپله خوښه وحې دروړي ده) فَإِنَّهُ نو(هغه دي پوه شي چې) بیشکه هغه(جبرائېل علیه سلام) نَزَّلَهُ نازل کړئ دی دغه(قرآنکریم) عَلَىٰ قَلْبِكَ ستا په زړه باندې(ای محمد صلی الله علیه وسلم) بِإِذْنِ اللَّهِ د الله تعالی په حکم سره(نه غلط شوئ دی او نه ئې پخپله خوښه دا وحې تاته دروړې ده) مُصَدِّقًا (چې دا وحې یعنی قرآن) تصدیق کوونکئ دی لِمَا د هغو(کتابونو) بَيْنَ يَدَيْهِ چې مخکې د دغه(قرآن څخه ؤ لکه تورات او انجیل) وَهُدًى او هدایت وَبُشْرَىٰ او زیری دی لِلْمُؤْمِنِينَ د مؤمنانو دپاره. ﴿97﴾

مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ فَإِنَّ اللَّهَ عَدُوٌّ لِلْكَافِرِينَ ﴿98﴾

مَنْ كَانَ څوک چې وي عَدُوًّا دښمن لِلَّهِ د الله تعالی وَمَلَائِكَتِهِ او د ملائکو د هغه( جل جلاله) وَرُسُلِهِ او د پیغمبرانو د هغه(جل جلاله) وَجِبْرِيلَ او (په خاص ډول)د جبرائیل علیه سلام وَمِيكَالَ او د میکائیل علیه سلام (دوی کافران دي) فَإِنَّ اللَّهَ نو بیشکه الله تعالی عَدُوٌّ دښمن دی لِلْكَافِرِينَ د (دي) کافرانو ﴿98﴾

وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ ۖ وَمَا يَكْفُرُ بِهَا إِلَّا الْفَاسِقُونَ ﴿99﴾

وَلَقَدْ او په تحقيق سره(بيشكه) أَنْزَلْنَا نازل کړي دي مونږ.
إِلَيْكَ تا ته(اى محمد صلى الله عليه وسلم) آيَاتٍ آيتونه
بَيِّنَاتٍ ۖ واضحه(روښانه) وَمَا يَكْفُرُ او نه کوي انکار بِهَا
د دغو (آيتونو نه) إِلَّا مګر الْفَاسِقُونَ فاسقان (سرکشان ترې
انکار کوي) ﴿99﴾

أَوَكُلَّمَا عَاهَدُوا عَهْدًا نَبَذَهُ فَرِيقٌ مِنْهُمْ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿100﴾

أَوَكُلَّمَا او آيا(داسي نه ده چې) هر کله عَاهَدُواعَهْدًا چې کړي
دوی (يعنى يهوديانو) يوه وعده (د الله تعالى او يا د الله تعالى د
رسول سره) نَبَذَهُ (نو)غورزولي هغه(وعده) فَرِيقٌ يوې
ډلي مِنْهُمْ ۚ د دوی؟ بَلْ بلکې أَكْثَرُهُمْ اکثره د دوی لَا
يُؤْمِنُونَ ايمان نه راوړي.(اکثره د زړه نه په تورات يقين نه
لري،چې دا حال اوس د اکثرو مسلمانانو هم دی،مسلمانان خو ټول
دي،مګر حقيقي دزړه د يقين والا ايمان چې په څومره خلکو کې
دی نو تاسو پخپله پرې غور وکړئ) ﴿100﴾

وَلَمَّا جَاءَهُمْ رَسُولٌ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِنَ الَّذِينَ
أُوتُوا الْكِتَابَ كِتَابَ اللَّهِ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿101﴾

وَلَمَّا او کله چې جَاءَ راغئ هُمْ دوی ته رَسُولٌ يو
پيغمبر(محمد صلى الله عليه وسلم) مِنْ عِنْدِ اللَّهِ د طرف نه د
الله تعالى مُصَدِّقٌ تصديق کوونکئ لِمَا د هغه (تورات)
مَعَهُمْ چې د دوی سره دی(په تورات کې دا حکم دی چې:هر نبي

د تورات تصديق وکړي نو تاسو پرې ايمان راوړئ او کومک ورسره وکړئ،ليکن په دوی کې) نَبَذَ وغورځولو فَرِيقٌ يوې ډلي مِنَ الَّذِينَ د هغو کسانو أُوتُوا چې ورکول شوئ ؤ دوی ته الْكِتَابَ کتاب(تورات) (نو دوی وغورځولو دغه) كِتَابَ اللَّهِ د الله تعالی کتاب(تورات) وَرَاءَ شاه ته ظُهُورِهِمْ د شاه ګانو د دوی (يعنی په تورات کې چې د محمد صلی الله عليه وسلم په باره کې کوم معلومات او صفتونه ؤ هغه يې شاه ته واچول او داسې يې ځانونه بي خبره ونيول) كَأَنَّهُمْ لکه دوی چې لَا يَعْلَمُونَ نه پوهيږي.(يعنی کله به چې عامو خلکو د نبي عليه سلام په باره کې د خپلو علماو نه پوښتنه وکړه چې آيا دا هماغه آخرنی پيغمبر دی چې په تورات کې ئې ذکر او صفتونه شوي دي يهودي علماوو به داسې خبرې د نبي عليه سلام په باره کې کولې لکه نه يې چې تورات لوستلئ وي او نه د نبي عليه سلام په باره کې څه معلومات لري،حال دا چې په هرڅه پوهيدل او قصداً يې حقيقت د خلکو څخه پټولو. ﴿101﴾

وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَانَ ۖ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَٰكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ ۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَا إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ ۚ وَمَا هُمْ بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ۚ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِ أَنْفُسَهُمْ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿102﴾

| |
|---|
| دا د يهودانو يو سوال او اعتراض ؤ،چې كه حضرت محمد صلی الله عليه و سلم په رښتيا سره د الله تعالی پيغمبر وي نو نعوذبالله د سليمان عليه سلام په شان جادوگر اوساحر انسان به يې د نبيانو په جمله كې نه حسابولو،نو نعوذبالله يو جادوګر ته نبي ويل د دې دليل دی چې محمد صلی الله عليه وسلم په خپله هم نبي نه دی.نو په (۱۰۲) آيت كې د دې سوال جواب دی. |
| ځرنګه چې جنی ات الله تعالی سليمان عليه سلام ته تابع كړي ؤ،نو په دې سبب چې د انسانانو او جنياتو ارطباتات سره زيات ؤ،نو جنياتو يا پيريانو به انسانانو ته جادو يا سحر ورښودلو،بني اسرائيلو هم د تورات تعليمات او هدايات پريښودل او د شيطانانو نه يې د جادو او سحر زده كول شروع كړل،سليمان عليه سلام په جادو او سحر پابندي ولږوله ، ټول د جادو كتابونه ئې راټول كړل او ښخ ئې كړل،او شيطانان يې بنديان كړل،خو كله چې سليمان عليه سلام وفات شو نو انسي يا انساني شيطانانو دا كتابونه راوويستل او اوازه يې ګډه كړه چې نعوذبالله دا د جادو كتابونه سليمان عليه سلام د تخت لاندې ايښي ؤ،هغه په دروغو د ځان نه پيغمبر جوړ كړئ ؤ ،هغه يو لوی جادوګر يا ساحر ؤ،چې د جادو په زور ئې دا دومره لويه بادشاهي كوله او هر څه ئې تابع كړي ؤ،دا دومره لوی تهمت دوی د دې دپاره په سليمان عليه سلام وويلو،چې جادو سليمان عليه سلام ته منسوب كړي،د دې دپاره چې د عامو خلكو عقيده په جادو باندې پيدا شي او د دوی كاروبار ښه وچليږي،خو كوم ظلم چې بني اسرائيلو د سليمان عليه سلام په باره كې كولو بالكل هماغسې ظلم اوس هم ځينې مسلمانان كوي،تاسو به د ډيرو مسلمانانو څخه د نقش سليماني په باره كې اوريدلي وي ،چې د تعويزاتو په هر كتاب كې د دين څخه ناخبرو مسلمانانو ليكلي دي،چې د دي مطلب په واضح ډول د جادو او |

| |
|---|
| کوډو نسبت سلیمان علیه سلام ته ورکول دي،او د سلیمان علیه سلام بې مثاله حکومت د یوې جادویي ګوتې نتیجه ګڼل،او د سلیمان علیه سلام او د هغه د مجاهد پلار داود علیه سلام جهاد دنظر نه غورزل،آیا دا کم ظلم او ګناه ده؟ بلآخره دا د جادو او کوډو کار او بار دومره زیات شو چې خلک ډېر تنګ شو په خاص ډول د ادریس علیه سلام په وخت کې نور خلکو د جادو او معجزو په منځ کې فرق نشو کولای. |
| وَاتَّبَعُوا او پیروي وکړه دوی(یهودانو) مَا د هغه(سحر) تَتْلُو چې لوستلو به الشَّيَاطِينُ شیطانانو عَلَىٰ په مُلْكِ پاچاهی سُلَيْمَانَ ۖ د سلیمان علیه سلام کې وَمَا كَفَرَ او نه ؤ کافر شوئ سُلَيْمَانُ سلیمان علیه سلام (جادو او سحر ئې نه کولو ) وَلَٰكِنَّ او لیکن الشَّيَاطِينَ شیطانان كَفَرُوا کافران شوي ؤ(جادو او سحر یې کولو) يُعَلِّمُونَ چې ورښودلو به دوی(شیطانانو) النَّاسَ خلکو ته السِّحْرَ جادو. |
| لکه چې ذکر شو چې دا د جادو او کوډو کار او بار دومره زیات شو چې بني اسرائیل په اخلاقي لحاظ دومره راپریوتل چې یو د بل ناموس ته په کمین کې کیناستل،او یو بل به په دې لټه کې ؤ چې څنګه د بل ښځه د ځان دپاره ترې رابیله کړي،عام خلک ډېر زیات تنګ شو، حتی د ادریس علیه سلام په وخت کې خو خبره دې ته ورسیده چې نور نو خلکو د جادو او معجزو په منځ کې فرق هم نه شو کولای.نو الله تعالی دوه ملائیکې راولیږلې چې خلک د جادو او معجزو په فرق پوه کړي،او د جادو او کوډو د رد او خنثی کولو او یا باطلولو طریقه خلکو ته وښایې،خو معلومه خبره ده چې تر څو چې د اصلي شي په باره کې څوک معلومات او علم ونه لري تر هغې پورې یې نه د خنثي کولو طریقه زده کولای شي او نه د رد کولو ،نو دا ملائیکې هم مجبوره وې چې |

اول اصلي جادو شاگردانو ته وښايې او بيا يې د خنثى کولو او باطلولو طريقه وروښايې،مګر د جادو او جادو د خنثى کولو د علم د ښودلو څخه مخکې به يې هر شاګرد ته ويل چې:ګوره! مونږ خو تاته د جادو او د جادو د خنثى کولو يا باطل کولو دواړو په باره کې معلومات درکوو ځکه چې د جادو د خنثى کولو دپاره تاسو بايد جادو او سحر وپيژنئ،ليکن دا علم او معلومات چې مونږ يې تاسو ته درکوو ستاسو دپاره سخت امتحان او ازموينه هم ده ځکه چې :تاسو ته دا دجادو د پيژندلو علم صرف د دې غرض دپاره درکول کيږي چې تاسو د جادو او معجزو په فرق پوه شئ او جادو خنثى کړئ،او د جادو او سحر د کولو يا پرې د عمل کولو اجازه درته نشته يعنى د دې علم څخه سوء استفاده ونکړئ او غلط يې استعمال نه کړئ او که چيرته ترې سوء استفاده وکړئ يعنى تاسو پخپله هم جادو او سحر وکړئ نو کافران کيږئ،د دې مثال داسې دى لکه استاذ چې شاګرد ته د کوم غلط دين د پيژندلو په باره کې معلومات ورکړي او بيا د هغې غلط دين د ردولو او غلط ثابتولو دپاره دلايل ورته وښايې،مګر شاګرد په عوض د دي چې غلط دين رد کړي په خپله د غلط دين پيروي شروع کړي او عمل پرې وکړي.نو په همدې شان د دې ملائکو جادو ښودل هم د اصلاح دپاره ؤ تر څو چې خلک د معجزو او جادو په فرق پوه شي او د انسي شيطانانو جادو او سحر رد او خنثى کړي، مګر بني اسرائيلو د ملائيکو د نصيحت او د تورات د احکامو په خلاف د ملائېکو څخه هماغه څه ښه په شوق زده کول چې د ميړه او ښځې په منځ کې پرې بې اتفاقي راولي،او په کورنيو کې فساد منځ ته راوړي.يعنى د علم څخه يې سوء استفاده وکړه او غلط يې استعمال کړو.

| |
|---|
| وَمَا او ( یهودانو) د هغه (جادو او سحر پیروي هم وکړه) أُنْزِلَ چې نازل شوی ؤ عَلَى په الْمَلَكَيْنِ دوه ملائکو بِبَابِلَ په بابل ښار کې هَارُوتَ وَمَارُوتَ ۚ هاروت او ماروت باندې. |
| (بابل د عراق پخوانی نوم دی،بخت نصر چا چې په یورو‌شلم باندې حمله کړي وه د بابل پاچا ؤ،نمرود هم د بابل پاچا ؤ.) |
| وَمَا يُعَلِّمَانِ او نه به کوله ښودنه دې دواړو(ملائکو) مِنْ أَحَدٍ هيڅ چاته حَتَّىٰ تر هغې پورې يَقُولَا چې دې دواړو به ويل(شاګردانو ته) إِنَّمَا بيشکه اصله خبره دا ده چې: نَحْنُ مونږ فِتْنَةٌ يو ازميينت يو(مونږ چه تاسو ته کوم علم ښايو تاسو به دا علم د جادو او سحر د رد او خنثی کولو دپاره استعمالوئ،او د جادو د کولو دپاره به يې نه استعمالوئ،او که مو استعمال کړو يعنی جادو مو په چا وکړو نو کافران به شئ) فَلَا تَكْفُرْ ۖ نو مه کافران کيږئ(دا کوم علم چې زمونږ څخه زده کوئ په دې صرف د جادو رد کوئ خو تاسو د دې علم پواسطه په خلکو جادو مه کوئ) فَيَتَعَلَّمُونَ نو زده کول به هغوی(يهودانو) مِنْهُمَا د دې دواړو نه مَا هغه څه يُفَرِّقُونَ چې جدايې به يې راوستله بِهِ په هغې سره بَيْنَ په منځ الْمَرْءِ د سړي وَزَوْجِهِ ۚ او د هغه د ښځې(يعنی د ملائکو د نصيحت خلاف به يې هغه څه زده کول او کول چې ښځه او ميړه بيل کړي يعنی په جامعه کې د فساد په خاطر يې زده کړه کوله نه د اصلاح په خاطر.) وَمَا هُمْ او نه ؤ دوی بِضَارِّينَ ضرر رسونکي بِهِ په دې(سحر سره) مِنْ أَحَدٍ هيڅ چا ته إِلَّا مګر بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ په اذن(حکم) د الله تعالی وَيَتَعَلَّمُونَ او زده کول به دوی(يهودانو) مَا هغه څه يَضُرُّهُمْ چې ضرر به يې رسولو دوی ته وَلَا يَنْفَعُهُمْ ۚ او نه به يې رسوله فايده دوی ته وَلَقَدْ او يقيناً عَلِمُوا پوه ؤ دوی |

| |
|---|
| لَمَنِ اشْتَرَاهُ چې چا واخست دا (سحر) مَا لَهُ نشته هغه ته فِي الْآخِرَةِ په آخرت(جنت) کې مِنْ خَلَاقٍ ۚ هيڅ برخه وَلَبِئْسَ او يقيناً بد دى مَا هغه شى شَرَوْا چې خرڅ کړل دوى بِهِ په هغې سره(د هغې په مقابل کې) أَنْفُسَهُمْ ۚ ځانونه خپل لَوْ که چيرته كَانُوا يَعْلَمُونَ دوى پوهيدلئ.(نو داسې به يې نه کول) ﴿102﴾ |

وَلَوْأَنَّهُمْ يقيناً دوى آمَنُوا ايمان راوړى ؤ وَاتَّقَوْا لَمَثُوبَةٌ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ خَيْرٌ ۖ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿103﴾

| |
|---|
| وَلَوْ او که أَنَّهُمْ يقيناً دوى آمَنُوا ايمان راوړى ؤ وَاتَّقَوْا او پرهيزگاره شوي ؤ (د سحر څخه يې ځانونه ساتلي ؤ) لَمَثُوبَةٌ (نو) خامخا ثواب (بدل) مِنْ عِنْدِ اللَّهِ د طرف نه د الله تعالى خَيْرٌ ۖ ډېر بهتر دى لَوْ که چيرته! كَانُوا يَعْلَمُونَ پوهيدلاى دوى.(نو د سحر او جادو نه به يې ځانونه ساتلي ؤ) ﴿103﴾ |

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقُولُوا رَاعِنَا وَقُولُوا انْظُرْنَا وَاسْمَعُوا ۗ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿104﴾0

| |
|---|
| يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اى هغو کسانو آمَنُوا چې ايمان مو راوړئ دى.(يعنى اى مؤمنانو کله چې د نبي عليه سلام په مجلس کې ناست ياستئ،او د نبي عليه سلام په کومه خبره پوه نشئ )نو : |
| لَا تَقُولُوا مه وايئ تاسو(هغه مبارک ته) رَاعِنَا د راعِنَا لفظ) د راعنا اصلى معنى دا ده چې :زمونږ رعايت يا لحاظ وکړه يا زمونږ په لوري توجه وفرمايئ،خو د يهوديانو په نزد د راعنا |

معنى كم عقل او ناپوهه ده،او بله دا ده كه معمولي په زور سره
وويل شي نو (راعينا) ترې جوړيږي چې معنى ئې ده ،اى زمونږ
شپونكيه،نو نبي عليه سلام ته د داسې لفظ استعمال كه د كنځلو په
حساب وي او كه د بي ادبۍ په حساب وي كفر دى،نو داسې دوه
مخه الفاظ بايد استعمال نه كړئ) وَقُولُوا او وايئ تاسو(نبي
عليه سلام ته) انْظُرْنَا مونږ ته وګوره وَاسْمَعُوا ۚ او اورئ تاسو
(يعنى د شروع څخه د نبي عليه سلام خبرې ښه په غور او توجه
سره اورئ تر څو چې د دې نوبت رانشي چې پوښتنه وكړئ)
وَلِلْكَافِرِينَ او د كافرانو دپاره عَذَابٌ أَلِيمٌ دردناك عذاب دى.
﴿104﴾

مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا الْمُشْرِكِينَ أَنْ يُنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِنْ
خَيْرٍ مِنْ رَبِّكُمْ ۗ وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ
﴿105﴾

مَا يَوَدُّ نه خوښوي الَّذِينَ هغه كسان كَفَرُوا چې كافران
شوي دي هغوى مِنْ د أَهْلِ الْكِتَابِ اهل كتابو څخه وَلَا
الْمُشْرِكِينَ او نه مشركان(دا خوښوي) أَنْ يُنَزَّلَ چې نازل شي
عَلَيْكُمْ په تاسو باندې مِنْ خَيْرٍ څه خير(لكه وحي او نصرت)
مِنْ رَبِّكُمْ ۗ د طرفه د رب د ستاسو وَاللَّهُ او الله تعالى
يَخْتَصُّ خاص كوي بِرَحْمَتِهِ په خپل رحمت سره مَنْ هغه
څوك يَشَاءُ ۚ چې هغه(جل جلاله) ئې وغواړي وَاللَّهُ او الله
تعالى ذُو الْفَضْلِ ښښتن دى د فضل الْعَظِيمِ لوى. ﴿105﴾

مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا أَوْ مِثْلِهَا ۗ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿106﴾

| |
|---|
| مَا هغه نَنْسَخْ چې موږ منسوخ کوو مِنْ آيَةٍ د کوم يو آيت نه(د کوم يو حکم د قرآنکريم نه) أَوْ يا نُنْسِهَا هيروو هغه(آيت يا حکم د مؤمنانو د زړونو نه) نَأْتِ (نو) راوړو موږ بِخَيْرٍ بهتر مِنْهَا د هغې (آيت يا حکم نه) أَوْ يا مِثْلِهَا ۗ په شان د هغې(آيت يا حکم راوړو) أَلَمْ تَعْلَمْ آيا ته پوه نه ئې أَنَّ اللَّهَ چې بيشکه الله تعالى عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ په هر شي باندې قَدِيرٌ قادر دی. ﴿106﴾ |

| |
|---|
| يعنى نه په اولنۍ خبره کې عيب او نقص ؤ او نه په وروستنۍ خبره کې کوم عيب او نقص شته دی،خو الله تعالى د انسان د حالت او د وخت په تناسب سره اول هغه حکم مناسب وګڼه.او بيا ئې دغه حکم لازم وګڼه.نو په دې کې د اعتراض څه خبره ده چې:دا انسي شيطانان يې کوي؟ |

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۗ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿107﴾

| |
|---|
| أَلَمْ تَعْلَمْ آيا ته پوه نه ئې أَنَّ اللَّهَ چې بيشکه الله تعالى، لَهُ هغه جل جلاله لره مُلْكُ پاچاهي السَّمَاوَاتِ د آسمانونو وَالْأَرْضِ ۗ او د ځمکې ده وَمَا لَكُمْ او نشته ستاسو دپاره مِنْ دُونِ اللَّهِ غير د الله تعالى نه مِنْ وَلِيٍّ هيڅ دوست وَلَا نَصِيرٍ او نه مددګار. ﴿107﴾ |

أَمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَسْأَلُوا رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِنْ قَبْلُ ۗ وَمَنْ يَتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ ﴿108﴾

أَمْ تُرِيدُونَ (اى مؤمنانو) آيا تاسو(هم) غواړئ أَنْ چې تَسْأَلُوا پوښتني وکړئ رَسُولَكُمْ ستاسو د پيغمبر(محمد صلى الله عليه وسلم نه) كَمَا لکه څنګه سُئِلَ چې پوښتني شوي وي مُوسَىٰ د موسى عليه سلام څخه مِنْ قَبْلُ ۗ د مخه (مخکي د دي نه، بني اسرائيلو به قسم قسم پوښتني او غوښتني د موسى عليه سلام څخه کولي،مثلاً :مونږ تر هغې پوري ستا خبره نه منو تر څو چې الله تعالى په خپله ونه ګورو وغيره.....خو ظاهره ده چې منافقانو به د يهودانو په شيطانت د نبي عليه سلام څخه هم داسي پوښتني کولي نو الله د دوى په حقله فرمائي : وَمَنْ او هر څوک يَتَبَدَّلِ چې بدلوي الْكُفْرَ كفر بِالْإِيمَانِ په ايمان سره (کفر غوره کوي او ايمان پريږدي،يعنى د يهودانو په خبرو کې راځي او څه قسم شکونه او پوښتني چه هغوى د موسى عليه سلام په باره کې کولي،نو که څوک د نبي عليه سلام په باره کې هم هغسي شکونه وکړي لکه يهودو چې د موسى عليه سلام په باره کې کول او يا هغسي بي منطقه او بي ادبه پوښتني د نبي عليه سلام څخه وکړي،نو د ايمان نه خلاص شو او کافر شو) فَقَدْ نو بيشکه ضَلَّ (چې دغه کس ګمراه شو (بي لارې شو) سَوَاءَ د سمي السَّبِيلِ لارې نه.(ځکه چې کافر شو او په کفر کې سمه لار نه شي پيدا کولاى.) ﴿108﴾

وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِنْ
عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ ۖ فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ
بِأَمْرِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿109﴾

| |
|---|
| وَدَّ غواړي كَثِيرٌ اكثره(خلک) مِنْ د أَهْلِ الْكِتَابِ د اهل الكتابو ځيني(يهود او نصارى) لَوْيَرُدُّونَكُمْ چې دوى راوګرزوي تاسو مِنْ بَعْدِ ورروسته د إِيمَانِكُمْ ايمان راوړلو ستاسو(په قرآنكريم او محمد صلى الله عليه وسلم باندې بيرته) كُفَّارًا كفر ته حَسَدًا ( په سبب د) كينې مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِهِمْ د نفسونو د دوى(په سبب د هغې حسد او كينې چې د دوى په زړونو كې تاسو ته پرته ده ) مِنْ بَعْدِ مَا وروسته د هغې تَبَيَّنَ چې واضح(معلوم) شو لَهُمُ دوى ته الْحَقُّ ۖ حق(چې قرآنكريم دالله تعالى حق كتاب دى او محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالى رسول دى) فَاعْفُوا نو تاسو عفوه وكړئ وَاصْفَحُوا او مخ ترې واړوئ حَتَّىٰ تر هغې پورې يَأْتِيَ اللَّهُ چې راوليږي الله تعالى(د دوى په باره كې) بِأَمْرِهِ ۗ د هغه جل جلاله حكم(فيصله) إِنَّ اللَّهَ بيشكه الله تعالى عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ په هر شي باندې قَدِيرٌ قادر دى. ﴿109﴾ |

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ
اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿110﴾

| |
|---|
| وَأَقِيمُوا او اداء كوئ تاسو الصَّلَاةَ لمونځ وَآتُوا او وركوئ تاسو الزَّكَاةَ ۚ زكات وَمَا او هغه تُقَدِّمُوا چې مخكې ليږئ تاسو لِأَنْفُسِكُمْ دپاره د خپلو ځانونو |

مِنْ خَيْرٍ د نيکو(اعمالو) ځيني وبه مومئ(پيدا به کړئ) هغه(نيک اعمال د قيامت په ورځ) عِنْدَ اللَّهِ ۗ د الله تعالى سره إِنَّ اللَّهَ بيشکه الله تعالى بِمَا په هغې(اعمالو) تَعْمَلُونَ چې کوئ يې تاسو بَصِيرٌ ښه ليدونکئ دی(نو ستاسو يو عمل هم نه ضايع کيږي او بدل ئې درکوي). ﴿110﴾

وَقَالُوا لَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ ۗ تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ۗ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿111﴾

وَقَالُوا او وايي دوی(يهود) لَنْ يَدْخُلَ هيڅکله به داخل نشي الْجَنَّةَ جنت ته(هيڅ څوک) إِلَّا مَنْ مګر هغه څوک(به داخليږي) كَانَ هُودًا چې يهودي وي أَوْ نَصَارَىٰ ۗ يا نصراني(عيسوي يا کريشن) تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ۗ دا د دوی ارزوګاني دي قُلْ (دوی ته) ووايه ( هَاتُوا چې) راوړئ بُرْهَانَكُمْ دليل ستاسو(د تورات يا انجيل نه) إِنْ كُنْتُمْ که چيرته ياستئ تاسو صَادِقِينَ رښتيني(په خپله دعوه کې). ﴿111﴾

بَلَىٰ مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ أَجْرُهُ عِنْدَ رَبِّهِ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿112﴾

بَلَىٰ ولي نه (جنت ته داخليږي) مَنْ هغه څوک أَسْلَمَ چې تابع کړي وَجْهَهُ خپل ځان لِلَّهِ الله تعالى ته وَهُوَ او هغه مُحْسِنٌ نيکي کوونکئ وي(د الله تعالى ټول احکام مني او عمل پرې کوي)، فَلَهُ نو د هغه دپاره

أَجْرُهُ اجر د هغه (ثواب دهغه) عِنْدَ رَبِّهِ د رب د هغه
سره دی وَلَا خَوْفٌ او نشته هيڅ ويره عَلَيْهِمْ په
دوی باندې(د قيامت په ورځ کې) وَلَا هُمْ او نه به دوی
يَحْزَنُونَ غمژن کيږي(د حساب په وخت کې) ﴿112﴾

وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَىٰ عَلَىٰ شَيْءٍ وَقَالَتِ النَّصَارَىٰ لَيْسَتِ
الْيَهُودُ عَلَىٰ شَيْءٍ وَهُمْ يَتْلُونَ الْكِتَابَ ۗ كَذَٰلِكَ قَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ مِثْلَ
قَوْلِهِمْ ۚ فَاللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿113﴾

وَقَالَتِ او ويل الْيَهُودُ يهودانو لَيْسَتِ (چې) نه دي
النَّصَارَىٰ عيسايان(کريسشن) عَلَىٰ شَيْءٍ په حق باندې(په
غلطه دي) وَقَالَتِ او ويل النَّصَارَىٰ عيسايانو لَيْسَتِ
(چې) نه دي الْيَهُودُ يهودان عَلَىٰ شَيْءٍ په حق باندې(په
غلطه دي) وَهُمْ حال دا چې دوی(دواړه ډلې) يَتْلُونَ لولي
الْكِتَابَ ۗ (آسماني) کتاب كَذَٰلِكَ همدارنګه قَالَ ويل
الَّذِينَ هغو خلکو لَا يَعْلَمُونَ چې نه پوهيدل(يعنې مشرکانو
ځکه چې د دوی سره د آسماني کتاب علم نه و) مِثْلَ په مثل(په
شان) قَوْلِهِمْ ۚ د خبرو د دوی(چې مسلمانان په حق باندې نه دي
يعنی په غلطه دي) فَاللَّهُ نو الله تعالی به يَحْكُمُ فيصله
وکړي بَيْنَهُمْ په منځ د دوی کې يَوْمَ الْقِيَامَةِ په ورځ د
قيامت فِيمَا په هغه څه کې كَانُوا فِيهِ چې دوی به په هغې
کې يَخْتَلِفُونَ اختلاف کولو. ﴿113﴾

مونږ پوهيږو چې اوس هم يهود او نصارى خو لا پريږده صرف
په مسلمانو کې ډېرې زياتې ډلې او فرقې جوړې شوي دي، چې

هره ډله خپل ځان په حقه او نورې ټولي ډلي ناحقه او باطله ګڼي،او حتي يو په بل باندي د کفر او مرګ فتوي لګوي،او د عامو خلکو څخه لار ورکه ده چي کومه ډله يا فرقه په حق باندې ده،حال دا چي دا ټولي ډلي يا فرقي يو آسماني کتاب قرآنکريم لولي

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَىٰ فِي خَرَابِهَا ۚ أُولَٰئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَنْ يَدْخُلُوهَا إِلَّا خَائِفِينَ ۚ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿114﴾

وَمَنْ او څوک دی أَظْلَمُ ډېر ظالم(بلکه نشته) مِمَّنْ د هغه چا څخه مَنَعَ چې بندوي مَسَاجِدَ اللَّهِ مسجدونه د الله تعالی أَنْ (د دې نه) چې: يُذْكَرَ ياد کړئ شي فِيهَا په هغوی کې(مسجدونو کې) اسْمُهُ نوم د الله تعالی وَسَعَىٰ او کوشش کوي فِي خَرَابِهَا ۚ په خرابولو د هغوی کې(مسجدونو کې) أُولَٰئِكَ دغه کسان مَا كَانَ نه دې مناسب(لايق) لَهُمْ دوی ته أَنْ چې يَدْخُلُوهَا ننوځي دغو (مسجدونو ته) إِلَّا مګر خَائِفِينَ ۚ ويرېدونکي لَهُمْ دوی ته فِي الدُّنْيَا په دنيا کې خِزْيٌ ذلت دی(خواري او رسوايي ده) وَلَهُمْ او دوی ته فِي الْآخِرَةِ په آخرت کې عَذَابٌ عذاب دی عَظِيمٌ ډېر لوی. ﴿114﴾

وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿115﴾

وَلِلَّهِ او خاص الله تعالى لره دي الْمَشْرِقُ مشرق وَالْمَغْرِبُ ۚ او مغرب فَأَيْنَمَا نو هر طرف ته تُوَلُّوا چې تاسو مخ ګرځوئ فَثَمَّ نو هلته وَجْهُ اللَّهِ ۚ د الله تعالى مخ دى إِنَّ اللَّهَ بيشکه الله تعالى وَاسِعٌ د ډېرې پراختيا خاوند دى (يعنى ټولې خواوې د الله تعالى دي ،هرې خوا ته چې مخ کړې، الله تعالى هملته دى، الله تعالى نه محدود دى او نه مکان ته احتياج دى) عَلِيمٌ ښه پوه دى. ﴿115﴾

وَقَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا ۗ سُبْحَانَهُ ۖ بَلْ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَهُ قَانِتُونَ ﴿116﴾

وَقَالُوا او دوى ويل:(يهودان،نصارى او مشرکانو) اتَّخَذَ ( چې) نيولئ دى اللَّهُ الله تعالى(د ځان دپاره) وَلَدًا ۗ اولاد (عيسايانو ويلې چې عيسى عليه سلام د الله تعالى ځوى دى،يهودانو ويلې چې عزير عليه سلام د الله تعالى ځوى دى او مشرکانو ويلې چې ملائيکې د الله تعالى لورګانې دي،مګر داسې نه ده) سُبْحَانَهُ ۖ پاک دى هغه جل جلاله (د داسې خبرو نه چې اولاد لري) بَلْ بلکې لَهُ هغه جل جلاله ته مَا هغه(چې) فِي السَّمَاوَاتِ په آسمانونو وَالْأَرْضِ ۖ او ځمکه کې دي كُلٌّ ټول لَهُ هغه جل جلاله ته قَانِتُونَ فرمانبرداره دي. ﴿116﴾

بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ﴿117﴾

بَدِيعُ (پرته د نموني څخه د عدم او هیڅ نه) پیداکوونکئ دی السَّمَاوَاتِ د آسمانونو وَالْأَرْضِ ۖ او ځمکې(یعنی د ټولو کائناتو)

وَإِذَا او هر کله چې قَضَىٰ اراده وفرمائې(وکړي) أَمْرًا د یو کار(د کولو) فَإِنَّمَا نو بیشکه يَقُولُ هغه جل جلاله وایې لَهُ هغې(کار) ته كُنْ چې«وشه» فَيَكُونُ نو هغه(کار)کیږي. ﴿117﴾

دا د هغو ملحدینو ساینداناو او فیلسوفانو دپاره جواب دی چې دوی یوازي په ساینس یقین کوي او د هر سوال جواب صرف د ساینس څخه غواړي.ساینس تر اوسه پورې د دې ځای پورې رسیدلای دی چې:کائنات د همیشه څخه موجود نه دي،بلکې یو وخت په داسي یو حالت کې پیدا شوي دي چې هیڅ شی هم موجود نه ؤ یعنی د عدم یا هیڅ نه پیدا شوي دي،خو په دې نه پوهیږي چې د عدم یا هیڅ نه څنګه پیدا شوي دي،د ملحدینو ساینسدانانو دپاره دا هغه سوال دی چې د حلولو څخه یې عاجز او ناامیده دي،ځکه چې ساینسي قوانین خو د د ې ځای څخه وړاندې نور کار نه کوي ،ساینس خپله عاجزي منلي ده،او په دې باره کې هیڅ نه وایې،نو په دې باره کې چې څومره خبرې دي هغه د ساینسدانانو خپلې شخصی خبرې او نظریې دي،او ساینس نه دی،بلکې د ساینسي قوانینو په خلاف خبرې او نظریې دي.چې ساینسي قوانین یې بنه په کلکه سره رد کوي او غلطې ورته وایې.نو په دې آیت مبارک کې قرآنکریم د همدې سوال جواب فرمایي چې:کائنات د عدم او هیڅ نه څنګه پیدا شوي دي؟فرمایي چې:کائنات د الله تعالی د كُنْ د لفظ پواسطه د عدم او هیڅ څخه پیداشوي دي.

وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللَّهُ أَوْ تَأْتِينَا آيَةٌ ۗ كَذَٰلِكَ قَالَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۘ تَشَابَهَتْ قُلُوبُهُمْ ۗ قَدْ بَيَّنَّا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿118﴾

وَقَالَ او وايي الَّذِينَ هغه کسان لَا يَعْلَمُونَ چي دوی نه پوهيږي لَوْلَا يُكَلِّمُنَا ولي خبرې نه کوي زمونږ سره اللَّهُ الله تعالی(پخپله) أَوْ تَأْتِينَا يا ولي نه راځي مونږ ته آيَةٌ ۗ يوه نښه(يعنی يا دې الله پخپله مونږ ته ووايې او يا دې داسې يوه نښه (معجزه) مونږ ته راوليږي چې د هغې په ليدلو سره مونږ په قرآنکريم او نبي عليه سلام باندې ايمان راوړو) كَذَٰلِكَ همدارنګه قَالَ ويل الَّذِينَ هغو خلکو مِنْ قَبْلِهِمْ چې د دوی نه مخکې ؤ(يعنی چې د دوی نه پخوا تير شوي دي) مِثْلَ په شان قَوْلِهِمْ ۘ د ويناو(خبرو) د دوی(يعنی همداشان خبرې هغوی پخوانيو خلکو هم کولې) تَشَابَهَتْ يو شان دي قُلُوبُهُمْ ۗ زړونه د دوی قَدْ بيشکه بَيَّنَّا بيان کړي دي مونږ الْآيَاتِ نښې لِقَوْمٍ هغو خلکو ته يُوقِنُونَ چې دوی يقين کوي ﴿118﴾

إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۖ وَلَا تُسْأَلُ عَنْ أَصْحَابِ الْجَحِيمِ ﴿119﴾

إِنَّا بيشکه مونږ أَرْسَلْنَاكَ ليږلۍ يې ته(ای محمد صلی الله عليه وسلم) بِالْحَقِّ په حقه سره بَشِيرًا زيری ورکوونکۍ وَنَذِيرًا ۖ او ويرونکۍ وَلَا تُسْأَلُ او نه پوښتل کيږي ته عَنْ أَصْحَابِ الْجَحِيمِ د دوزخيانو په حقله. ﴿119﴾

(ستا څخه دا يوښتنه نه کيږي چې دوزخيان تا ولې په اسلام مشرف کړي نه دي.)

وَلَنْ تَرْضَىٰ عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ ۗ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿120﴾

وَلَنْ تَرْضَىٰ او هيڅ کله به راضي نشي عَنْكَ ستا نه الْيَهُودُ يهودان وَلَا النَّصَارَىٰ او نه نصارى(عيسويان يا کريسشن) حَتَّىٰ د هغې پورې تَتَّبِعَ چې پيروي وکړې ته مِلَّتَهُمْ ۗ د دين د هغوى(يهود او نصارى به د هغې پورې ستا نه خوشاله نشي تر څو چې ته د هغوى د دين متابعت او پيروي ونه کړې) قُلْ ته ووايه(نصارى او يهودو ته ) إِنَّ بيشکه هُدَى اللَّهِ هدايت د الله تعالى(اسلام) هُوَ همدا الْهُدَىٰ ۗ هدايت(حق دين) دى وَلَئِنِ او که چيرته اتَّبَعْتَ پيروي وکړه تا أَهْوَاءَهُمْ د خواهشاتو د هغوى(د يهودانو او نصارى) بَعْدَ الَّذِي پس د هغې نه جَاءَكَ چې راغى تاته مِنَ الْعِلْمِ ۙ علم مَا لَكَ (نو) نه به وي ستا دپاره مِنَ اللَّهِ د الله تعالى(د عذاب څخه د خلاصولو دپاره نه څوک) مِنْ وَلِيٍّ د دوستانو نه وَلَا نَصِيرٍ او نه(څوک)کومک کوونکئ. ﴿120﴾

الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَتْلُونَهُ حَقَّ تِلَاوَتِهِ أُولَٰئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ ۗ وَمَنْ يَكْفُرْ بِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿121﴾

الَّذِينَ هغه (خلک) آتَيْنَا چې ورکړې دی مونږ هُمُ هغوی ته الْكِتَابَ کتاب(تورات) يَتْلُونَهُ لولي دوی هغه(تورات داسې لکه څنګه چې) حَقَّ تِلَاوَتِهِ د هغه د تلاوت کولو حق دی(یعنی په معنی او الفاظو کې یې تغیر نه راولي،او عمل پرې کوي،نو په تورات کې خو په واضح ډول د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پیشګویي او صفتونه موجود دي) أُولَٰئِكَ (نو) دغه خلک يُؤْمِنُونَ ايمان راوړي بِهِ په دغه(قرآن،یعنی کوم کتابیان چې د خپل کتاب په معني او الفاظو کې تغیر نه راولي،او یقین او عمل پرې کوي،دوی په قرآنکریم او نبي علیه سلام باندې ايمان راوړي ) وَمَنْ او څوک چې: يَكْفُرْ انکار(کفر) کوي بِهِ په دغه(قرانکریم یا نبی علیه سلام) فَأُولَٰئِكَ نو دغه خلک هُمُ همدوی الْخَاسِرُونَ تاوانیان دي. ﴿121﴾

يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِي أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿122﴾

يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ ای اولادې د یعقوب علیه سلام اذْكُرُوا یاد کړئ تاسو نِعْمَتِيَ نعمتونه زما الَّتِي هغه چې أَنْعَمْتُ کړي وو ما عَلَيْكُمْ په تاسو باندې وَأَنِّي او دا چې بیشکه فَضَّلْتُكُمْ فضیلت درکړې وو ما تاسوته عَلَى الْعَالَمِينَ په عالمونو باندې. ﴿122﴾

وَاتَّقُوا يَوْمًا لَا تَجْزِي نَفْسٌ عَنْ نَفْسٍ شَيْئًا وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا عَدْلٌ وَلَا تَنْفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿123﴾

وَاتَّقُوا او وویریږئ تاسو يَوْمًا د هغې ورځې نه لَا تَجْزِي
چې لري کولای به نه شي نَفْسٌ يو څوک عَنْ نَفْسٍ د يو چا
نه شَيْئًا يو شی(د عذاب څخه) وَلَا يُقْبَلُ او نه به قبليږي مِنْهَا
د هغه نه(د هغه مجرم نه) عَدْلٌ فديه(بدل، په دنيا کې ځينې
مجرمان د پيسو په مقابيل کې خوشې کيږي خو د قيامت په ورځ
داسې نه ده) وَلَا تَنْفَعُهَا او نه به فايده رسوي هغه ته(مجرم او
ګنهګار ته) شَفَاعَةٌ شفاعت(سپارښت د چا) وَلَا هُمْ او نه به
د هغوی سره يُنْصَرُونَ کومک کيږي(د عذاب په کمولو کې).
﴿123﴾

په دنيا کې که څوک د چا سره بندې شي نو کورنی يې يا په زور
راخلاصوي،يا يې په پيسو او يا يې په سفارش راخلاصوي،مګر د
قيامت په ورځ داسې نه ده بلکې هر څوک به د خپل عمل په
واسطه يا جنت ته ځي او يا دوزخ ته.

وَإِذِ ابْتَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ۖ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا ۖ
قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي ۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ ﴿124﴾

وَإِذِ ابْتَلَىٰ او(ياد کړه) هغه وخت چې وازمايه (امتحان کړو)
إِبْرَاهِيمَ ابراهيم عليه سلام رَبُّهُ رب د هغه(عليه سلام) بِكَلِمَاتٍ
په څو خبرو سره فَأَتَمَّهُنَّ ۖ نو هغه(ابراهيم عليه سلام) پوره
کړې هغه(خبرې نو) قَالَ هغه(جل جلاله) وفرمايل إِنِّي بيشکه
زه جَاعِلُكَ جوړونکئ يم ستا لِلنَّاسِ د انسانانو دپاره إِمَامًا ۖ
امام(قائد په دين کې) قَالَ هغه(ابراهيم عليه سلام) وويل وَمِنْ
ذُرِّيَّتِي ۖ او ځما په اولاد کې(هم امامان جوړ کړه) قَالَ هغه جل

جلاله وفرمايل لَا يَنَالُ نه رسيږي عَهْدِي ځما عهد(د امامت وعده) الظَّالِمِينَ ظالمانو(کافرانو) ته.(ځوک چې ستا په اولاد کې آيمان دار،نيک او په سمه لار روان وي ځما وعده د امامت او نبوت د هغوی متعلق ده،ليکن که ظالمان او کافران وي د هغوی متعلق دا وعده نه ده) ﴿124﴾

وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِلنَّاسِ وَأَمْنًا وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى ۖ
وَعَهِدْنَا إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ
وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ﴿125﴾

وَإِذْ او کله چې: جَعَلْنَا جوړه کړه مونږ الْبَيْتَ بيت الله (کعبه شريفه) مَثَابَةً ځای د ثواب(او اجتماع) لِلنَّاسِ د انسانانو دپاره وَأَمْنًا او(ځای د) امن وَاتَّخِذُوا (او ومو فرمايل چې) جوړ کړئ مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ د مقام ابراهيم عليه سلام نه مُصَلًّى ۖ د لمونځ ځای (مقام ابراهيم عليه سلام هغه تيږه ده چې د ابراهيم عليه سلام دپاره د جنت نه راوړل شوي وه،د کعبې د جوړولو په وخت کې به ابراهيم عليه سلام په دې تيږه ودريدلو،هر څومره به چې ديوالونه جګيدل دا تيږه به هم جګيدله،د ابراهيم عليه سلام د پښو نښې وربانديې اوس هم شته دی او محفوظ دي،اوس په شيشه کې بنده ده ،د بيت الله شريف د طواف د مکمل کيدلو نه پس دې تيږې ته نيزدې دوه رکعته لمونځ ادا کيږي) وَعَهِدْنَا او حکم وکړ مونږ إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ابراهيم عليه سلام ته وَإِسْمَاعِيلَ او اسماعيل عليه سلام ته أَنْ چې طَهِّرَا پاک کړئ بَيْتِيَ کور ځما(يعنی بيت الله شريف دظاهري او باطني ګندګی نه لکه کفر،شرک اوبتان) لِلطَّائِفِينَ دپاره د طواف کونکو وَالْعَاكِفِينَ

او اعتكاف كونكو وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ او ركوع كونكو سجده
كونكو (دپاره) ﴿125﴾

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا بَلَدًا آمِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ
آمَنَ مِنْهُمْ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُ إِلَىٰ
عَذَابِ النَّارِ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿126﴾

وَإِذْ او كله چې قَالَ ووېل إِبْرَاهِيمُ ابراهيم عليه سلام رَبِّ
اى ځما ربه اجْعَلْ وګرزوه هَٰذَا بَلَدًا دا ښار آمِنًا د آمن(او
سولې) ښار وَارْزُقْ او رزق وركړه أَهْلَهُ اوسيدونكو د دې
(ښارته) مِنَ الثَّمَرَاتِ د (هر قسم) ميوو نه مَنْ آمَنَ هغه چا ته
چې ايمان يې راوړې وي مِنْهُمْ د دوى نه بِاللَّهِ په الله تعالى
وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ او په ورځ د آخرت(قيامت) قَالَ هغه جل جلاله
وفرمايل وَمَنْ كَفَرَ او څوک چې كافر وي(هغه چې په الله تعالى
او ورځ د آخرت ئې ايمان نه وي راوړې) فَأُمَتِّعُهُ نو فايده به
وركړم هغه ته قَلِيلًا لږه(ټوله دنيا هم د آخرت په مقابل كې لږه
ده) ثُمَّ بيا به أَضْطَرُّهُ راكاږم هغه إِلَىٰ عَذَابِ النَّارِ ۖ عذاب د
اور(دوزخ) ته وَبِئْسَ الْمَصِيرُ (او اور يعنى دوزخ) ډېر بد ځاى
د ورتلو دى ﴿126﴾

يعنى ابراهيم عليه سلام كافرانو ته دعا ونكړه ،الله تعالى وفرمايل
چې په دنيا كې كافرانو ته هم رزق وركول كيږي،يعنى د رزق
مسئله د امامت په شان نه ده چې يوازې مؤمنانو ته وركول كيږي،

وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿127﴾

وَإِذْ او كله چي يَرْفَعُ پورته كول إِبْرَاهِيمُ ابراهيم عليه سلام الْقَوَاعِدَ تادوونه(بنيادونه) مِنَ الْبَيْتِ د بيت الله وَإِسْمَاعِيلُ او اسماعيل عليه سلام (هم ،دواړو دا دعا كوله چي) رَبَّنَا اى زمونږ ربه تَقَبَّلْ قبول كړي مِنَّا ۖ زمونږ نه(دا كار) إِنَّكَ بيشكه ته أَنْتَ خاص ته السَّمِيعُ ښه اوريدونكئ الْعَلِيمُ ښه عالم ئې﴿127﴾

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿128﴾

رَبَّنَا اى ربه زمونږ وَاجْعَلْنَا او وګرځوه مونږ(جوړ كړه مونږ) مُسْلِمَيْنِ غاړه ايښودونكي لَكَ تا ته وَمِنْ او د ذُرِّيَّتِنَا اولاد زمونږ نه( وګرځوه) أُمَّةً يوه ډله مُسْلِمَةً غاړه ايښودونكي لَكَ تا ته وَأَرِنَا او وښايه مونږ ته مَنَاسِكَنَا طريقي د عبادت زمونږ وَتُبْ عَلَيْنَا ۖ او قبوله كړه توبه زمونږ إِنَّكَ بيشكه ته أَنْتَ همدا ته التَّوَّابُ ښه توبه قبلونكئ الرَّحِيمُ ښه مهربان ئې.﴿128﴾

دا دعا د بني اسرائيلو يعنى د ابراهيم عليه سلام د هغې اولادي دپاره نه وه چي د يعقوب عليه سلام د نسل څخه ؤو،بلكې دا دعا د ابراهيم عليه سلام د هغې اولاد دپاره وه چي د اسماعيل عليه سلام د نسل څخه ؤ چي محمد صلى الله عليه وسلم په همدې خاندان كي دى.

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ ۚ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿129﴾

ابراهيم عليه سلام او اسماعيل عليه سلام په ګډه دعا وکړه چي:

رَبَّنَا اى ربه زمونږ وَابْعَثْ (او) ولېږه فِيهِمْ په دوى کې(يعنى د اسماعيل عليه سلام په اولاد کې) رَسُولًا يو رسول مِنْهُمْ د دوى څخه يَتْلُو چې هغه(صلى الله عليه وسلم) لولي عَلَيْهِمْ په دوى باندې آيَاتِكَ آياتونه ستا وَيُعَلِّمُهُمُ او ورزده کوي دوى ته(تعليم ورکوي) الْكِتَابَ د کتاب(قرآنکريم) وَالْحِكْمَةَ او حکمت(سنت او شرعي احکام) وَيُزَكِّيهِمْ ۚ او پاکوي دوى(د ګناهونو نه) إِنَّكَ بيشکه ته أَنْتَ هم دا ته الْعَزِيزُ ښه غالب الْحَكِيمُ د حکمت خاوند ئې. ﴿129﴾

وَمَنْ يَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ إِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهُ ۚ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا ۖ وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ ﴿130﴾

وَمَنْ او څوک دى يَرْغَبُ چې مخ واړوي عَنْ مِلَّةِ إِبْرَاهِيمَ د ابراهيم عليه سلام د دين نه؟(يعنى هيڅ څوک نشته چې د ابراهيم عليه سلام د د ين نه مخ واړوي) إِلَّا مَنْ مګر هغه څوک(د ابراهيم عليه سلام د دين نه مخ اړوي) سَفِهَ نَفْسَهُ ۚ چې هغه خپل ځان (پخپله) احمق کړئ وي(ښه پوهيږي خو ځان يې پخپله قصداً کم عقل کړئ وي چې نه پوهيږم) وَلَقَدِاصْطَفَيْنَاهُ او يقيناً غوره کړئ ؤ مونږ هغه(ابراهيم عليه سلام) فِي الدُّنْيَا ۖ په دنيا کې(په نبوت او د بيت الله په جوړولو سره) وَإِنَّهُ او بيشکه هغه(ابراهيم عليه سلام) فِي الْآخِرَةِ په آخرت کې لَمِنَ خامخا د الصَّالِحِينَ صالحانو نه دى(کامياباتو نه دى) ﴿130﴾

إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ ۖ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿131﴾

إِذْ كله چې قَالَ وويل لَهُ هغه ته(ابراهيم عليه سلام ته) رَبُّهُ رب د هغه عليه سلام أَسْلِمْ ۖ (چې) غاړه كيږده(ځما احكامو ته) قَالَ هغه عليه سلام وويل أَسْلَمْتُ غاړه مې كيښوده لِرَبِّ الْعَالَمِينَ رب د عالمونو ته(پالونكي د عالونو ته) ﴿131﴾

وَوَصَّىٰ بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يَا بَنِيَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴿132﴾

وَوَصَّىٰ او وصيت وكړو بِهَا په دې(د اسلام په دين) إِبْرَاهِيمُ ابراهيم عليه سلام بَنِيهِ خپلو ځامنو ته وَيَعْقُوبُ او يعقوب عليه سلام (هم،داسې چې) يَا بَنِيَّ اى ځامنو ځما إِنَّ اللَّهَ بيشكه الله تعالى اصْطَفَىٰ غوره كړې دى لَكُمُ تاسو ته الدِّينَ دين(د اسلام) فَلَا تَمُوتُنَّ نو مه مره كيږئ تاسو إِلَّا مگر وَ په داسې حال كې أَنْتُمْ چې يئ تاسو مُسْلِمُونَ مسلمانان.(يعنى د مرگ د وخت پورې په اسلام ثابت قدمه اوسئ.) ﴿132﴾

أَمْ كُنْتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِنْ بَعْدِي قَالُوا نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَٰهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿133﴾

يهودانو ويل چې يعقوب عليه سلام په يهوديت باندې وصيت كړې دى،نو الله تعالى فرمايي چې آيا تاسو په هغې وخت كې حاضر وئ،كله چې يعقوب عليه سلام وصيت كولو،تاسو خو په هغې وخت كې نه وئ،دروغ ولې وايئ.

أَمْ كُنْتُمْ آيا وئ تاسو شُهَدَاءَ موجود(حاضر) إِذْ هغه وخت
حَضَرَ چې راغئ يَعْقُوبَ يعقوب عليه سلام ته الْمَوْتُ مرګ
إِذْ كله چې قَالَ هغه عليه سلام وويل لِبَنِيهِ خپلو ځامنو ته(د
يوسف عليه سلام په شمول يې خپلو دولس ځامنو ته وصيت
وکړو) مَا تَعْبُدُونَ (چې) د څه شي عبادت به کوئ مِنْ بَعْدِي
ورروسته څما نه(يعنې ورروسته څما د مرګ نه) قَالُوا هغوى
وويل نَعْبُدُ مونږ به عبادت کوو إِلَٰهَكَ ستا د معبود(الله تعالى)
وَإِلَٰهَ آبَائِكَ او ستا دپلرونو د معبود إِبْرَاهِيمَ ابراهيم عليه سلام
وَإِسْمَاعِيلَ او اسماعيل عليه سلام وَإِسْحَاقَ او اسحاق عليه سلام
إِلَٰهًا وَاحِدًا د يو حق معبود(الله تعالى) وَنَحْنُ او مونږ ټول لَهُ
هغه جل جلاله ته مُسْلِمُونَ غاړه ايښودونکي يو. ﴿133﴾

يعقوب عليه سلام د ابراهيم عليه سلام لمسى او د اسحاق عليه
سلام ځوى او د اسماعيل عليه سلام وراره دى.

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿134﴾

تِلْكَ دغه أُمَّةٌ يوه ډله وه قَدْ چې يقيناً خَلَتْ ۖ تيره شوي ده
لَهَا دوى ته مَا هغه څه دي(يعنې د هغو اعمالو بدل ورکول
کيږي) كَسَبَتْ چې دوى کړي دي وَلَكُمْ او ستاسو دپاره مَا
هغه څه دي(يعنې د هغو اعمالو بدل درکول کيږي) كَسَبْتُمْ ۖ چې
تاسو کړي دي وَلَا تُسْأَلُونَ او ستاسو نه پوښتنه نه کيږي عَمَّا
د هغه څه نه(يعنې د هغو اعمالو نه) كَانُوا يَعْمَلُونَ چې هغوى به
کول. ﴿134﴾

وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ تَهْتَدُوا ۗ قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿135﴾

وَقَالُوا او دوی وایي(یعنی یهود او نصاری مسلمانانو ته وایي) كُونُوا چي شئ تاسو هُودًا یهود أَوْ یا نَصَارَىٰ عیسایان تَهْتَدُوا ۗ چي سمه لار پیدا کړئ قُلْ دوی ته ووایه(یهودانو او عیسایانو ته) بَلْ (چي مونږ داسي نه کوو)بلکي (مونږ پیروي کوو) مِلَّةَ د دین إِبْرَاهِيمَ د ابراهیم علیه سلام حَنِيفًا ۖ چي د یو الله منونکئ او کلک موحد ؤو وَمَا كَانَ او نه ؤو هغه علیه سلام مِنَ الْمُشْرِكِينَ د مشرکانو نه. ﴿135﴾

قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنْزِلَ إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِنْ رَبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿136﴾

قُولُوا (ای مسلمانانو) تاسو ووایئ آمَنَّا چي مونږ ایمان راوړئ دی بِاللَّهِ په الله تعالی سره وَمَا او په هغه(قرآن) أُنْزِلَ چي راغلئ دی إِلَيْنَا مونږ ته وَمَا او په هغو(لس صحیفو) أُنْزِلَ چي نازل شوي دي إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ابراهیم علیه سلام ته وَإِسْمَاعِيلَ او اسماعیل علیه سلام ته وَإِسْحَاقَ او اسحاق علیه سلام ته وَيَعْقُوبَ او یعقوب علیه سلام ته وَالْأَسْبَاطِ ( او د یعقوب علیه سلام) اولادي ته وَمَا او په هغو (کتابونو او معجزو) أُوتِيَ چي ورکول شوي دي مُوسَىٰ موسی علیه سلام ته وَعِيسَىٰ او عیسی علیه سلام ته وَمَا او په هغو ( کتابونو) أُوتِيَ چي ورکول شوي دي النَّبِيُّونَ (نورو) پیغمبرانو ته مِنْ رَبِّهِمْ د

طرفه د رب د دوی نه لَا نُفَرِّقُ مونږ فرق نه کوو بَيْنَ أَحَدٍ
مِنْهُمْ په منځ د هيڅ يو د دوی کې(يعنی ټول پيغمبران يو قسم منو
او دا نه وايو چې دا منو او دا نه منو) وَنَحْنُ او مونږ لَهُ هغه
جل جلاله ته مُسْلِمُونَ غاړه ايښودونکي(سر ټيټوونکي)يو.
﴿136﴾

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا ۖ وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ ۖ
فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿137﴾

ای مسلمانانو!

فَإِنْ نو که دوی (يهود او نصاری) آمَنُوا ايمان راوړي بِمِثْلِ
په شان مَا د هغه (ايمان) آمَنْتُمْ چې راوړی تاسو بِهِ په
دې(قرآن يعنی چې د ضد او مخالفت نه تير شي او ستاسو غوندې
په محمد صلی الله عليه وسلم او قرآنکريم باندې ايمان راوړي)
فَقَدِ نو يقيناً اهْتَدَوْا ۖ چې سمه لار يې پيدا کړه وَإِنْ او که
تَوَلَّوْا مخ واړوي(د ايمان راوړلو نه يعنی ايمان رانه وړي)
فَإِنَّمَا نو بيشکه همدا خبره ده هُمْ چې دوی فِي شِقَاقٍ ۖ په
اختلاف کې دي(يعنی که ايمان رانه وړي نو د دې معنی دا ده چې
دوی پخپل ضد او مخالفت ټينګ ولاړ دي او د مسلمانانو سره به
دشمني او مخالفت کوي نو ای محمد صلی الله عليه وسلم د دوی د
دشمنۍ او مخالفت نه تشويش او ويره مه کوه) فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ ۚ نو
ستا دپاره د هغوی په مقابل کې الله تعالی کافي دی (د نصاری او
يهودانو په مقابل کې) وَهُوَ او هغه جل جلاله السَّمِيعُ ښه
اوريدونکۍ الْعَلِيمُ ښه پوه دی. ﴿137﴾

يهودانو او نصاراوو ايما ن رانوړو او ويل به يې چې زمونږ سره داسې رنګ دی چې د مسلمانانو سره نشته.د نصرانيانو رواج ؤ چې دوی يو ډول زيړ رنګ جوړ کړئ ؤ،چې خپل ماشومان او يا ځوک به چې د دوی په دين کې داخليدلو په دې رنګ به يې رنګاوه،په دې مطلب چې سوچه او ستره نصراني شي،او د دې رنګولو نه وروسته يې يوه ګناه هم نه د نصرانيت نه ويستلئ شي او نه يې جنت ته تلو نه منع کولای شي.

نو ای مؤمنانو دوی ته ووايئ چې مونږ رنګ کړي يو الله تعالی په :

صِبْغَةَ اللَّهِ ۖ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً ۖ وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ ﴿138﴾

صِبْغَةَ ( رنګ(دين) اللَّهِ ۖ د الله تعالی وَمَنْ او د چا (رنګ يعنی دين) أَحْسَنُ بهتر دی مِنَ اللَّهِ د الله تعالی صِبْغَةً ۖ د رنګ(دين) نه؟ (يعنی د الله تعالی د دين اسلام نه بهتر او ښه دين نشته) وَنَحْنُ او مونږ لَهُ هغه جل جلاله ته عَابِدُونَ عبادت کونکي يو. ﴿138﴾

قُلْ أَتُحَاجُّونَنَا فِي اللَّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ وَلَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُخْلِصُونَ ﴿139﴾

قُلْ ته ووايه (يهودو اونصاراووته) أَتُحَاجُّونَنَا آيا تاسو جګړه کوئ زمونږ سره فِي اللَّهِ د الله تعالی په باره کې وَ حال دا چې هُوَ هغه جل جلاله رَبُّنَا رب زمونږ دی وَرَبُّكُمْ او رب د ستاسو دی وَلَنَا او زمونږ دپاره أَعْمَالُنَا زمونږ عملونه دي

| |
|---|
| وَلَكُمْ او د ستاسو دپاره أَعْمَالُكُمْ ستاسو عملونه دي وَنَحْنُ او مونږ لَهُ هغه جل جلاله ته مُخْلِصُونَ مخلص(اخلاص كونكي) يو ﴿139﴾ |

أَم تَقُولُونَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطَ كَانُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ ۗ قُلْ أَأَنْتُمْ أَعْلَمُ أَمِ اللَّهُ ۗ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ كَتَمَ شَهَادَةً عِنْدَهُ مِنَ اللَّهِ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿140﴾

| |
|---|
| أَم آيا تَقُولُونَ تاسو وايئ إِنَّ چې بشكه إِبْرَاهِيمَ ابراهيم عليه سلام وَإِسْمَاعِيلَ او اسماعيل عليه سلام وَإِسْحَاقَ او اسحاق عليه سلام وَيَعْقُوبَ او يعقوب عليه سلام وَالْأَسْبَاطَ (او دهغه اولاده كَانُوا وُو هغوى هُودًا يهود أَوْ نَصَارَىٰ ۗ يا نصرانيان(كريسشن) قُلْ ته ووايه(يهودو او نصاراوو ته) أَأَنْتُمْ آيا تاسو أَعْلَمُ ښه پوهيږئ أَمِ اللَّهُ ۗ يا كه الله تعالى(ځكه چې الله تعالى خو فرمايي چې ابراهيم عليه سلام نه يهودي ؤ او نه نصارى ؤ) |
| لكه چې مخكې تير شو چې كتابيانو يعنى يهودو او نصاراوو ويل چې سمه لار يعنى د جنت لار يا په يهوديت كې ده او يا په نصرانيت كې او بل څوک جنت ته نشي تلاى،خو د دوى دا خبره ځكه غلطه ده چې د دوى نيكونه،حضرت ابراهيم عليه سلام،اسحاق عليه سلام،اسماعيل عليه سلام،يعقوب عليه سلام او د هغوى اولاده دوى ټول نه يهود ؤ او نه نصرانيان ؤ،بلكې د ټولو دين يو د اسلام دين ؤ او ټول مسلمانان ؤ.قرآنكريم خو د پند او نصيحت كتاب دى،نعوذبالله هسې قيصې خو نه دي،مونږ. |

مسلمانان باید د دې نه پند او نصیحت واخلو،باید فکر او غور وکړو چې مونږ دا دومره ډلي جوړي کړي دي،د هري ډلي خلک خپل ځانونه په حقه او جنتیان ګڼي او نورې ټولي ډلي په ناحقه او دوزخیان ګڼي،هره ډله یا فرقه همدا وایي چې صرف یوه ډله د اهل سنت والجماعت جنتي ده او نوري ټولي دوزخي دي،او هره ډله فکر کوي چې همدا جنتي ډله یا فرقه مونږ یو،د خپلو ډلو د تقویه کولو دپاره تبلیغات کوی،او دفاعي حالت خو کله دې اندازې ته ورسیږې چې یو د بل وینې هم تویوي او ځان ته غازي او مقتول ته مردار وایي،اکثره خو د مسلمان په ځای د خپلي ډلي او فرقي په نوم پیژندل کیږي،او ټولي ډلي او فرقي د الله تعالی د دې حکم څخه چې: وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ ټول یوځای شئ،د الله تعالی رسۍ کلکه ونیسئ او تیت او پرک کیږئ مه. ټولي فرقي د الله تعالی د دې حکم څخه سر غړونه او سرکشي کوي،او د تعجب خبره خولا دا ده چې هره فرقه دا دعوه کوي چې مونږ د نورو ډلو او فرقو په خلاف جهاد کوو تر څو چې اسلام د دوی د شر نه خلاص کړو.نو دې ټولو حضراتو ته یوه پوښتنه راجع کیږي هغه داچې:آیا حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او اصحاب کرام رضی الله عنهم اهل حدیث ؤ،ایا شیعه ؤو،آیا بریلوی ؤو،آیا دیوبندي ؤو او نورې فرقي لوی لوی علماء په ممبر ناست تقریر کوي چې د مرګ پورې به د دې مسلک نه دفاع کوم،فکر وکړئ چې دا جمله ښه ده او که دا چې ووایي چې د مرګ د وخت پورې به د اسلام نه دفاع کوم،فلهذا د دې ډلو او فرقو والاوو د هر یو دا خبره غلطه ده چې زمونږ ډله صحیح او جنتي ده او نورې ډلي غلطي او دوزخي دي ځکه چې:محمد صلی الله علیه وسلم او اصحاب کرام رضی الله عنهم خو په دې یوه ډله کې هم نه ؤو،بلکې د هغوی صرف یوه د اسلام ډله وه او بس،تاریخ وګورئ

کله چې ورسته ډلي او فرقې جوړې شوي نو د مسلمانانو ذلت او زوال هم شروع شو،او څومره چې ډلي او فرقې ډېريدې هغومره د مسلمانانو ذلت هم زياتيدو ، نو د الله تعالى سره د اخلاص غوښتنه دا ده چې مسلمان بايد د فرقو او ډلو د جوړولو او فرقه پرستۍ نه ځان وساتي،ځکه چې د فرقو،ډلو او مسلکونو جوړول او هغه بيا خپل هويت جوړول،په اصل دين باندې ترجيح ورکول،او د فرقو او مسلکونو دپاره کوششونه او منډې وهل او دعوت او تبليغ کول،دا د اصل دين څخه بالکل خلاف دي.

وَمَنْ او څوک أَظْلَمُ ډېر ظالم دى مِمَّنْ د هغه چا نه چې كَتَمَ پټوي شَهَادَةً شهادت(ګواهي) عِنْدَهُ د هغه سره مِنَ اللَّهِ ۗ د الله تعالى د طرفه(د يهودو علماء د تورات نه پوهيدل چې حضرت محمد صلى الله عاليه وسلم د الله رسول دى،او دوى يې د راتلو انتظار کولو،مګر کله چې هغه مبارک په بني اسماعيلو کې دنيا ته تشريف راوړو،نو دوى د بغض او حسد په بنياد د نبي عليه سلام په باره کې چې کومې پيشګويۍ او صفتونه د الله تعالى د طرفه په تورات کې دوى ته شوي وۆ،هغه يې پټ کړل او دا شاهدي يا ګواهي يې ورنکړه چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالى رسول دى وَمَا اللَّهُ او نه دى الله تعالى بِغَافِلٍ ناخبره عَمَّا د هغه څه نه تَعْمَلُونَ چې تاسو يې کوئ. ﴿140﴾

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿141﴾

تِلْكَ دغه أُمَّةٌ يوه ډله وه قَدْ چې يقيناً خَلَتْ ۖ تيره شوي ده لَهَا دوى ته مَا هغه څه دي(يعنى د هغو اعمالو بدل ورکول کيږي) كَسَبَتْ چې دوى کړي دي وَلَكُمْ او ستاسو دپاره مَا

هغه څه دي(يعنى د هغو اعمالو بدل درکول کيږي) كَسَبْتُمْ ۖ چې تاسو کړي دي وَلَا تُسْأَلُونَ او ستاسو نه پوښتنه نه کيږي عَمَّا د هغه څه نه(يعنى د هغو اعمالو نه) كَانُوا يَعْمَلُونَ چې هغوى به کول. ﴿141﴾